د پوهنې وزارت

پښتو

یوولسم ټولګی

(د دري ژبو لپاره)

پښتو – یوولسم ټولګی (د دري ژبو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې وزارت

پښــتو

یوولسم ټولګی

د دري ژبو لپاره

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: پښتو

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې د درسي کتابونو مؤلفین

اېډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اېډیټ ډیپارټمنټ غړي

ټولګی: یوولسم (د دري ژبو لپاره)

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای:

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته يې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه يې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنگه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د گران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراگانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږگونې بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنگه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توگه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې گران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او گټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانگه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه گټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو گډونوالو په توگه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپېڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وگړي يې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

لیک لړ

شمېره	د لوست نوم	مخ
۱	حمد	۱
۲	نعت	٥
۳	پندونه	۹
٤	ژمنه (وعده)	۱٥
٥	تشبیه	۲۱
٦	د تشبیه ډولونه	۲۹
۷	نښه یي توکي	۳۷

شمېره	د لوست نوم	مخ
۸	محاوره (پېژند پاڼې اخیستل)	٤٣
۹	پښتو تاریخي نثرونه	٤٩
۱۰	شعر	٥٥
۱۱	پښتو ادبیاتو منځنۍ دوره	٦٣
۱۲	محاوره (په روغتون کې د ناروغ پوښتنه)	۷۳
۱۳	معاصر ادبي نثر	۷۹
۱٤	ملي آرشیف	۸۷
۱٥	ښځې او ټولنه	۹۳
۱٦	شاه حسین هوتک	۹۷
۱۷	ټولنه او نوی نسل	۱۰۱
۱۸	علامه پوهاند عبدالشکور رشاد	۱۰٥
۱۹	کیسه (روژنیزه)	۱۱۳
۲۰	کتاب او کتابتون	۱۱۹
۲۱	بشري حقونه	۱۲٥
۲۲	د مور دریځ	۱۳۱
۲۳	محاوره (جومات او ښوونځی)	۱۳٥
۲٤	پښتو قاموسونه	۱٤۱
۲٥	محاوره (د ژبې د زده کړې اهمیت)	۱٤۹
۲٦	سکندر خان خټک	۱٥٥
۲۷	سوله	۱٦۱
۲۸	وروستی لوست	۱٦۹
	وییپانګه	۱۷٥

حمد



ټوله ثنا او ستاینه یوازې د الله ﷻ له شان سره ښایي، ځکه چې هغه د ټولو مخلوقاتو پیدا کوونکی او پالونکی دی. د الله تعالی صفات له حده زیات دي. ټول مخلوقات د خدای ﷻ حمد او ثنا وايي.

د الله تعالی د لویوالي، قدرت او صفاتو ستایلو ته حمد ویل کیږي. موږ خپل لومړی لوست د پښتو ژبې د یو شاعر په حمد پیلوو:

ـ حمد څه ته وايي؟

کل ثنا ده خدایه ستا   چې ته رب یې د هر چا
ښکته پورته چې هر څه دي   همه واړه دي له تا
ته خښتن د کل عالم یې   بل یو سیال نشته د تا
واړه خواست کاندي له تانه   که بادشاه دی که گدا
طمع ته له هیچا نه کړې   کا، له تا واړه اشیا
ته قدیم غني پادشاه یې   نور همه دي، نو پیدا
ستا کمال دی بې زواله   دا ویی دی په رښتیا
ستا صفت له حده زیات دی   څوك یې څرنگ کا ادا
که هر شی کشاد زبان کا   ستا په وصف شي گویا
مشغول وي تر زروکالو   شپه ورځ ستا په ثنا
هم به هومره ادا نه کا   لکه څاڅکي له دریا
ستا قدرت ته نه رسېږي   خدایه عقل د هیچا

د ((لتاړ)) و خراب زړه ته
ربه سر کړې مدعا
(د ملا لتاړ له دیوان څخه)

د خیل ځان پېژندل د خدایﷻ پېژندل دي.
((حدیث شریف))

د حمد ویونکي ملا لتاړ لنډه پېژندنه:

ملا لتاړ په هندوستان کې د اوسېدلو پښتنو شاعرانو په ډله کې د دیوان خاوند شاعر تېر شوی دی. د شاعر د ژوند په باب باوري کره او بشپړ اسناد په لاس کې نشته، خو د یو شعر له مخې یې اټکل کېدای شي چې نوموړی د (۱۱۶۱هـ.ق.)کال په شاوخوا کې زېږېدلی او په (۱۱۹۰هـ.ق.) کال یې دیوان بشپړ کړی.

ښايي د ملا لتاړ اصلي ځای سلمان یا شلمان وي او عمر یې په هندوستان کې تېر کړی دی.

دیوان یې په (۱۳۶۷هـ.ق.) کال په کابل کې چاپ شوی. غزلې، رباعي، قصیده ډوله نظمونه او مخمس لري. د رحمان بابا د سبک له پیروانو څخه و، د دیارلسمې پیړۍ تر لومړیو پورې ژوندی و.

د متن لنډیز:

هغه کلام (نظم وي که نثر) چې پکې پرله پسې د خدای تعالیٰ د قدرتونو، لویوالي ستاینه شوې وي، حمد بلل کېږي.

څښتن تعالی د ځمکې او اسمانونو مالك او پیداکوونکی دی. شریك او ساری نه لري، قدیم غني بادشاه دی، زوال نه لري، طمع او توقع یې چاته نشته، نور امیران او بادشاهان واړه ورته محتاج او دده په فرمان دي.

د الله تعالی ستاینې له حده زیاتې دي او بنده یې له پوره ستایلو عاجز دی، د هیلو، امیدونو او مدعاوو پوره کوونکی یوازې یو الله جَلَّ جَلَالُهُ دی.

فعالیتونه

۱ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د حمد په اړه خبرې وکړي.

۲ ـ زده کوونکي دې حمد په پټه خوله ولولي او مفهوم ته دې ځير شي.

بيا دې هر زده کوونکی په وار سره د ټولګيوالو په وړاندې متن په لوړ اواز ولولي.

۳ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د متن نوي لغات معنا او په مناسبو جملو کې وکاروي.

٤ـ يو تن زده کوونکی دې پخپله خوښه د حمد دوه بيته د تختې پر مخ په نثر وليکي.

٥ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي، يوه ډله دې د حمد لومړي اووه بيتونه او دويمه ډله دې د حمد وروستي شپږ بيتونه په نثر واړوي او د ډلو استازي دې د نورو په وړاندې ولولي.

٦ ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

کوم ډول کلام ته حمد ويلی شو؟

د کتاب پيل ولې په حمد سره کېږي؟

د حمد او مناجات توپير څنګه کولای شئ؟

٦ ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي په وړاندې د متن لنډ مفهوم په څو جملو کې ووايي.

٧ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره ووايي چې د ژمي په رخصتيو کې يې څه کړي دي؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې په کورونو کې د خدای تعالیﷻ د نعمتونو او د هغوی په وړاندې د انسان د شکر کولو په اړه لږ تر لږه اته کرښې وليکي او په بله ورځ دې په ټولګي کې ولولي.

نعت

حضرت محمد ﷺ د خدای ﷻ وروستی پیغمبر او استازی دی.

په ده باندې د پیغمبرۍ لړۍ ختمه ده. له ده څخه وروسته بل پیغمبر نه راځي، ځکه چې خدای ﷻ خپل مکمل هدایت (قرانکریم) په ده باندې نازل کړی.

ټول مؤمنان په دې مکلف دي چې د اسلام په ستر لارښود حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ باندې درود ووايي او ستاينه يې وکړي.

هغه کلام، (نظم وي که نثر) چې پکې د حضرت محمد ﷺ د شخصيت، اخلاقو او کړو وړو ستاينه شوي وي، نعت گڼل کېږي.

د حمد او نعت توپير څنگه کولای شئ؟

که مطلب دې دی وصال د محمد ﷺ تل په زړه کې لره خیال د محمد ﷺ
آیینه کړه د زړه سترګې ورته ګوره خود به ووینې هر حال د محمد ﷺ
د هر ګل حسن به ستا د سترګو خار شي که دې ولیده جمال د محمد ﷺ
له درود څخه طلب د عدد مکړه ژبه وچه کړه په سوال د محمد ﷺ
له اوله د خپل زړه په حال اګاه شه بیا هاله کړه قیل و قال د محمد ﷺ
چې سپوږمۍ یې دامن ګیره شوه د حسن لمر په حسن کله سیال د محمد ﷺ
هر انسان د ده و وصف ته قاصر دی وصف کړی ذوالجلال د محمد ﷺ
صنوبر به ورته کج بید مجنون شي که دې کېښنو پر زړه نهال د محمد ﷺ
له کوثره مې روان کړه تشنه لبه خو نصیب مې کړه زلال د محمد ﷺ

خدای رانجه د (شمس الدین) کړه هغه خاورې
تر قدم چې وي پایمال د محمد ﷺ

د شمس الدین کاکړ لنډه پېژندنه:

د شمس الدین د زوکړې او مړینې سمه نېټه معلومه نه ده، یو شمېر څېړونکي یې زوکړه تر (۱۱۸۰هـ.ق.) وروسته ګڼي.

شمس الدین ښه عالم او ادیب شاعر و، په ځوانۍ کې هند ته تللی و او د خپل عمر ډېره برخه یې د هندوستان په ښارونو کې تېره کړې ده. په آخر د عمر کې خپلې خاورې او خپل هېواد ته راستون شوی.

په غالب ګومان د عمر تر پایه په کندهار کې و. دیوان یې دپښتو ټولنې له خوا چاپ شوی.

د سراج الموتي په نامه په پښتو کې یو بل اثر هم لري. په شعر کې یې فلسفي، تصوفي، اخلاقي او تربیوي افکار په ښه توګه نغښتي دي، په ادبي فنونو کې یې هم ښه لاس درلود، په فقه، تفسیر، او احادیثو کې هم د لوړ مقام څښتن و.

د متن لنډيز:

حضرت محمدﷺ د اسلام ستر لارښود او آخرين پيغمبر دی.

په ده باندې د پيغمبرۍ سلسله ختمه شوې او وروسته ترې بل پيغمبر نه راځي.

د پيغمبرﷺ وجود، هدايات او کړنلاره د ټول عالم لپاره د رحمت سبب او باعث ده.

دی د نېکو، اوچتو او لوړو اخلاقو لرونکی و.

د پيغمبرانو عليهم السلام پیروي کول، د هغو اطاعت او منښه سرې سمې لارې ته رهنمايي کوي، په پیروۍ کې يې انسان خپل اصلي او حقيقي منزل ته رسېږي. د پيغمبر پیروي په حقيقت کې د الله پاک پیروي او متابعت دی.

الله پاک د خپل پيغمبر ستاينه کړې ده، بنده که هر څومره د محمدﷺ ستاينه وکړي بيا يې هم له کامل وصف او ستاينې څخه عاجز دی.

فعاليتونه

۱ـ يو زده کوونکی دې پخپله خوښه متن په لوړ اواز ولولي او نور ټولګيوال دې درسي کتاب ته وګوري.

۲ـ دوه تنه زده کوونکي دې د حمد او نعت په توپير باندې خبرې وکړي.

۳ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د متن اصلي مفهوم په ساده ژبه بيان کړي.

٤ـ زده کوونکي دې په وار سره لاندې لغات په ډلو کې يو له بل څخه و پوښتي او په جملو کې دې وکاروي:

(لړۍ ، وصال، تل ، وصف، زلال، سيال، کوثر)

۵_ زده کوونکي دې په خو ډلو وویشل شي، هره ډله دې یو یو بیت په نثر واړوي او مفهوم یې دې ټولګیوالو ته ووایي.

٦_ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:
د شمس الدين کاکړ ديوان د کومې مؤسسې له خوا چاپ شوی دی؟
شمس الدين څوک او چېرته زېږېدلی و؟
د پيغمبرﷺ اطاعت او پيروي سړي ته څه ورښيي؟

۷_ زده کوونکي دې د ژبې په اړه په وار سره یوه یوه دقیقه خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوستل شوي نعت لنډ مطلب په څو جملو کې په ساده ژبه وليکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون ساعت کې دې ټولګيوالو ته ووايي.

حضرت محمدﷺ فرمايي:
څوک چې پر کشرانو زړه سوی او د لويانو درناوی نه کوي، زما په ډله کې نه دی.

پندونه

پخوانیو مشرانو، حکیمانو، پوهانو، د علم او ادب خاوندانو د خپل ژوند د تجربو او پوهې له مخې موږ ته یو لړ پندونه، نصیحتونه او سپارښتنې را پرېښې دي چې موږ ټول د دې سپارښتنو په رڼا کې د خپل نېکمرغه ژوند بهیر پر مخ بیایو.

که د دې پندونو په رڼا کې موږ خپله کړنه او د ژوند لوری وټاکو، نو بې له شکه به د یو سوکاله ژوند لرونکي او پخپلو کړنو کې بریالي واوسو.

دغه پندونه زیاتره زموږ د ستر لارښود حضرت محمدﷺ حدیثونه او یا د نورو حکیمانو او پوهانو له خوا را ته شوې سپارښتنې دي. په دې لوست کې به یې ولولو:

ـ موږ ولې په خپل ژوند کې له پندونو کار اخلو؟

۱ــ یوه سړي له رسول اللهﷺ څخه د نصیحت او پند غوښتنه وکړه:
رسول اکرمﷺ ورته و فرمایل:
که درته ووایم منې یې؟
سړي وویل: هو!
پیغمبرﷺ له درې ځله تینګار وروسته ورته وویل:
(د هر کار له پیل څخه مخکې د هغې پایله و سنجوه، که پایله یې درته ښه بریښېده ویې کړه او که نه، نو مه یې کوه.)
په بل ځای کې داسې سپارښتنه کوي:
((هغه چاته و ګورئ چې له تاسو څخه (په ژوند کې) کم او ټیټ وي او هغه چاته مه ګورئ چې له تاسو نه (په ژوند کې) پورته وي. دا کار د دې لپاره ډېر غوره دی، د هغه نعمتونو سپکاوی ونه کړئ چې تاسو ته اللهﷻ په برخه کړي دي.))

۲ــ د ژبې ساتل په خلکو کې د دنیا د مال او دولت له ساتلو څخه سخت دي.
۳ــ هر څوک چې پخپله ځان ته ارزښت ورکوي، د تواضع لاره یې پرېښې ده.
٤ــ هر شی زکات لري، خو د عقل زکات صبر او د غم زغمل دي.
٥ــ په ټولو کارونو کې درې کاره ډېر سخت دي:
الف: سخاوت په عاجزۍ کې.
ب: زهد او تقوا په پټه سره.
ج: حق ویل د هغه چا په مخ کې چې له هغه څخه ویرېږئ.

٦- هغه څوک چې په دریوو کارونو کې د زړه حضور ونه لري، د اللهﷻ د رحمت دروازه یې پر مخ تړلې ده.
الف: د قرآنکریم د تلاوت په وخت کې
ب: د اللهﷻ د ذکر کولو په وخت کې

ج: د لمانځه د اداکولو په وخت کې

د پندونو په اړه د خوشحال خان خټک دا څو یادونې هم ولولئ:

خپل پردي ته د زړه راز خبره مه کړه
د بخښې د ننه ښه دي خپل رختونه
هغه کار چې په نرمی تر سره کېږي
څه حاجت چې رساوه شي تر جنګونه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پرې کا
هر چې کار کا د دښمنو په ورمونه
په خپلوانو باندې دومره خشم مه کړه
چې پردي درځنې تښتي په ملکونه
هر چې شرع فرمايي هغه کار کړه
مه عمل کوه په رسم په دودونه
په ځوانی کې چې دې کار له لاسه ووځي
په پیری به دې ونه رسي لاسونه
خدای هغه په دواړو کونو دي نمنځلي
چې په ورځ يې عدل و داد په شپه لمونځونه

ملنګ جان هم په خپل شعر کې څو سپارښتنې لري:

ځوانې ښځې ته چې ونه وایې ترور
هغه دم به دې برباد کړي پلار او مور
هر سبا به دروازه کې درته ناست وي
چې وانخلې ناديده سړي نه پور
بې ګناه وهل به خوري ازار به يې ستا وي
که دې ورکړه په بدل کې لور او خور

کیناسته د هغو وکړه ملنګ جانه
چې دي سم وي په کنده ورسره زور

عبدالقادر خټک په ګلدسته کې څه ښه وايي:

د خبرې هم آغاز هم يې انجام وي
په خبره کې خبره کا چې خام وي
هر سړی چې روښن رايه صاحب هوش وي
ويل هاله کا اغاز چې نور خاموش وي

د متن لنډيز:

د انسانانو د ژوند تر ټولو غوره او ګټور وخت همدا د تجربو تر لاسه کول دي چې د نورو لپاره د سوکالۍ او هوسايۍ لارې چارې برابروي.

حکيمانو، هوښيارانو او پوهانو د خپلو تجربو په بهير کې خپلو خلکو ته ګټور او سودمن پندونه ويلي دي چې عملي کول يې نېکې پايلې لري.

په واقعيت کې د عالمانو، حکيمانو، د علم او ادب د خاوندانو همدغو ويناوو او سپارښتنو ته پندونه ويل کېږي.

د راز خبرې بايد پټې وساتل شي، هغه کار چې په نرمۍ سلا او مشوره سر ته رسېږي، بايد له جديت نه پکې کار وانه خستل شي. د لاس غوټه بايد په لاس خلاصه شي، نه دا چې تر خولې پورې ورسېږي. دوست او دښمن يو له بله توپير کړای شي. له شرعي او اسلامي اصولو سره سم خپل کارونه پر مخ يوسو، خپل اولادونه داسې وروزو چې خپل مسؤوليت و پېژني او ناوړه کارونو ته هڅه او هاند ونه کړي. وخت ته په ارزښت قايل شو، هر کار په خپل وخت سر ته ورسوو، د چا په غوړه مالۍ، چاپلوسۍ او ظاهري لباس و نه غولېږو، ناوړه دودونه ونه پالو.

فعالیتونه

۱ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د هر پند په اړه دې خبرې وکړي.

۲ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي، يوه ډله دې په نظم کې راغلي پندونه او بله ډله دې په نثر ليکل شوي پندونه د ځانه سره ولولي، د ډلې استازي دې لنډ مطلب ووايي.

۳ـ څلور تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي، لاندې لغات دې د تختې پر مخ په مناسبو جملو کې وکاروي:

بوخخه، بهير، ورمونه، پايله، کړنه، تملق، لوری، کنده

٤ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي، متضادې کلمې دې په نښه کړي.

٥ـ دوه تنه زده کوونکي دې د لاندې بيت په کنايي مفهوم باندې خبرې وکړي:

عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پرې کا
هر چې کار کا د دښمنو په ورمونه

٦ـ زده کوونکي دې په وار د خپلې کورنۍ په اړه خبرې وکړي.

بېلګه: موږ په چخانسور کې اوسېږو، زموږ کورنۍ اته تنه دي: پلار، مور څلور وروڼه او دوه خويندې. پلار، مور او مشر ورور موږ ته لازمې لارښوونې کوي.

۷ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي، يو تن دې پوښتنه وکړي، بل دې ځواب ووايي.

۸ـ زده کوونکي دې متن ولولي، خپلواکې کلمې (نوم، فعل، ضمير او قيد) دې په ګوته کړي، ودې ليکي او له نورو زده کوونکو سره دې شريک کړي.

۹ـ پنځه تنه زده کوونکي دې په وار راشي او په متن کې دې بېلا بېلې ((ی ګانې)) په ګوته کړي.

۱۰ـ څو تنه زده کوونکي دې د خپل ښوونځي په اړه خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو لويانو په مرسته په خپلو کتابچو کې څو پندونه وليکي او د بلې ورځې پښتو مضمون درسي ساعت کې دې ټولګيوالو ته ووايي.

په واک چې نه لري په کام کې ژبه
که ګونګ شي ښه دی په لويه تبه
په بده ژبه ځان ځي، جهان ځي
ايمان لا هم ځي واوره طالبه
(خوشحال خان خټک)

ژمنه (وعده)

ښه خويونه زيات دي. هر يو يې په خپل ځای کې په ټولنه کې د انسان پر درېځ او شخصيت اغېز لري. ښه خويونه سړی درنوي او سپک خويونه سړی سپکوي. اسلام موږ ته د ښو اخلاقو لارښوونه کړې ده. له بدو اخلاقو څخه يې منع کړي يو. درواغ ويل، د ژمنې سرته نه رسول او ښکنځلې کول د منافقت نښې دي. درواغ سړی خواروي، ښکنځلې د سړي شخصيت ته زيان رسوي او د ژمنې سرته نه رسول په ټولنې کې د انسان حيثيت، وقار او باور راټيټوي. انسان د ټولنيز مخلوق په توګه اړ دی چې په خپل ځان کې داسې نيک خويونه پيدا او وروزي چې د نورو په وړاندې د يو بشپړ انسان په توګه د احترام او درناوي وړ شي. اسلام د اخلاقو بشپړ دين دی او حضرت محمدﷺ د نيکو اخلاقو د تعميم او بشپړتيا لپاره مبعوث او ګومارل شوی و.

ـ دروغجن انسان ستاسو په نزد څه حيثيت لري؟

وايي چې يوه ورځ عمر بن خطاب د عدالت لپاره د خلکو په منځ کې ناست و. ناڅاپه يو ښکلی اوښايسته ځوان چې دوو نورو ظاهرا ښايسته ځوانانو له لاسونو نيولی و، خليفه ته يې راوست. عمر بن خطاب هغو ځوانانو ته وويل: "ځوان خوشې کړئ او ووايئ چې څه کيسه ده؟"

ځوانانو وويل: "موږ دوه ورونه يو. يو بوډا پلار مو درلود. په خپلو خلکو کې په نيکو اخلاقو او د مشرتابه په ټولوصفتونو مشهور و. يوه ورځ د تفريح لپاره خپل يوه باغ ته تللی و. هلته دې ځوان وواژه. اوس له تا څخه غواړو چې زموږ په منځ کې د خدای جل جلاله حکم جاري کړې."

عمر رضي الله عنه هغه ځوان ته په ترېو تندي وکتل او پوښتنه يې ترې وکړه: "ته څه ځواب لرې؟"

ځوان ډېر زړور او فصيح و. وموسکېد، په ډېره خوږه ژبه وغږېد او د عمر رضي الله عنه ستاينه او د هغه درناوی يې وکړ. ويې ويل: "په خدای قسم چې رښتيا يې وويل. خو زه هم خپله کيسه درته کوم. بيا ستاسې خوښه چې څه حکم کوئ! زه يو کليوالي عرب يم. وچکالي راغله. زه له خپلې کورنۍ او مال سره دلته راغلم. لاره مې په دې باغونو کې وه. ما اوښان درلودل. ماته ډېر ګران وو. د هغوی په ډلې کې د ښه نسل يوه ډېره ښايسته جونګې وه. د نورو اوښانو په ډلې کې به داسې برېښېده لکه پاچا چې د رعيت په منځ کې روان وي. جونګې ددې ځوانانو د پلار باغ ته مخه کړه. د هغه باغ پر دېوال باندې د يوې ونې څانګه پرته وه. جونګې هغې څانګې ته خوله واچوله او پرې يې کړه. ناڅاپه هغه بوډا سړی له باغه راووت. له ډېرې غوسې يې سترګې سرې اوښتې وې. په لاس کې يې يوه ډېره نيولې وه. د زمري په څېر غړومبېده. بيا يې جونګې پر ډبرې کلکه وويشته او مړه يې کړه. کله چې مې وليدل جونګې ولويده، په سر کې مې اور بل شو. په هماغه ډبره مې شيخ پر سر وويشته چې جونګې يې پرې ويشتلې وه. د ډبرې په لګېدو بوډا سړي چيغې کړې او وروسته مړشو. دا دوه ځوانان راورسېدل، زه يې ونيولم او تاته يې راوستم."

عمر رضي الله عنه وويل: "اوس چې دې په خپلې ګناه خوله وخوځوله، نو نشې خلاصېدای او بايد قصاص شې."

ځوان وويل: "زه پر هغه شي خوښ يم چې اسلامي شريعت ټاکلی وي. خو زه يو کوچنی ورور لرم. پلار مې له مړينې دمخه هغه ته ډېر مال ورکړی او د هغې د ساتنې دنده يې زما پر اوږو ايښې ده. ماته يې ويلي وو چې دا مال ستا د ورور دی. د هغې ساتنه پر تا فرض ده. ما هغه مال اخيستی او ښخ کړی مې دی. له ما پرته نور هيچا ته د هغې پته نه ده څرګنده. که تاسې اوس زما د وژلو حکم وکړئ، هغه مال به ضايع شي او د هغې د زيان پړه به ستا پرغاړه وي. د اخرت پر ورځ چې پاک خدای ﷻ د بنده ګانو ترمنځ عدالت کوي، هغه کوچنی به ستا غاړې ته لاس واچوي. که ماته درې ورځې مهلت راکړې، نوزه به د هغه کوچني ورور د مال سرپرستي بل چا ته ورکړم او بېرته به تاته راشم."

عمر رضي الله عنه په فکر کې ډوب شو او خپل سر يې څو شېبې ځوړند ونيو. بيا يې ناستو خلکو ته مخ واړاوه او ويې ويل: "څوک ددې ځوان ضامن کيږي؟" ځوان ناستو خلکو ته وکتل او د هغوی په ډلې کې يې ابوذر رضي الله عنه ته ګوته ونيوه او ويې ويل: "دا سړی زما ضامن دی." عمر رضي الله عنه له ابوذر رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه: "يا ابوذره! ددې ځوان د راستنېدو ضمانت پر غاړې اخلې، که نه؟" ابوذر رضي الله عنه وويل: "هو، تر درېو ورځو پورې يې ضمانت کوم." عمر رضي الله عنه ، ځوان رخصت کړ.

کله چې د مهلت وخت نږدې شو، د ځوان پته ونه لګېده. عمر رضي الله عنه له اصحابو سره ناست و. ابوذر رضي الله عنه هم و. هغه دوه ځوانان په غوسه شول او ويې ويل: "ای ابوذره، زموږ قاتل چېرته دی؟ هغه سړی که تښتېدلی وي، څنګه به بېرته راشي؟" ابوذر رضي الله عنه وويل: "په خدای ﷻ قسم، که د مهلت وخت پای ته ورسيږي او هغه ځوان رانشي، زه به خپل ضمانت وفا کوم او ځان درته سپارم." عمر رضي الله عنه وويل: "په خدای قسم، که هغه ځوان وځنډيږي، د شريعت له غوښتنو سره سم به د ابوذر رضي الله عنه په اړه حکم وکړم."

ددې خبرې په اورېدو د ابوذر رضي الله عنه په خاطر د حاضرينو په سترګو کې اوښکې راغلې. د غونډې حاضرينو يو تر بله په خبرو پيل وکړ او له ځوانانو څخه يې د ديت (خونبها) غوښتنه وکړه.

ځوانانو د چا خبره ونه منله او له قصاص پرته په بل شي نه راضي کېدل. په دې

وخت کې خلکو د ابوذر رضي الله عنه ارمان کاوه او ژړل يې. ناڅاپه هغه ځوان راښکاره شو او د عمر رضي الله عنه په مخکې ودرېد. په داسې حال کې چې سا و تيګا او په تندي يې خولې روانې وې، په فصيحه ژبه يې پرعمر رضي الله عنه سلام واچاوه.

وروسته يې عمر رضي الله عنه ته وويل: "هغه کوچنی مې پر ترور وسپاره او د مال ځای ځايګی مې ورته وښوده. د ژمنې د سرته رسولو لپاره د اوړي په ګرمۍ کې په منډه راغلم."

خلك د ځوان له رښتينولی، پر وعدې د هغه د وفا او مرګ ته د راتګ له امله هېښ پاتې شول. ځينو حاضرينو وويل: "ځومره ښه کار او ځومره ښه ژمنه!" ځوان وويل: "آيا نه پوهېږئ چې له اجل خلاصی نشته. ما پر خپله ژمنه وفا وکړه چې ځوك ونه وايي په خلکو کې وفا له منځه تللې ده."

ابوذر رضي الله عنه وويل: "په خدای جل جلاله قسم ای عمره، دا هلك مې نه پېژانده چې ځوك او د کوم ځای دی. تر دې دمخه مې هم ليدلی نه و، خو کله چې يې په حاضرينو کې يوازې ماته مخ راواړاوه، نو ښه راته ونه برېښېده، رد يې کړم. مېړانې مې اجازه رانه کړه، نهيلی يې کړم چې ځوك ونه وايي، مېړانه له نړۍ ورکه شوې ده."

هغه مهال هغو دوو ځوانانو وويل: "موږ د الله جل جلاله د رضا لپاره د خپل پلار وينه دې ځوان ته وبښله چې ځوك ونه وايي احسان په چا کې نشته."

بيا عمر رضي الله عنه هغو دووځوانانو ته مخ واړاوه او ويې ويل: "د پلار خونبها له بيت المال څخه واخلئ."

ځوانانو وويل: "موږ د الله جل جلاله د رضا لپاره هغه ته د خپل پلار وينه وبښله او له هغه تېر شو. د دنيا د مال تمه نه لرو!"

د متن لنډیز:

ښه اونېک اخلاق د انسان ګاڼه ده. په انسان کې داسې یو لړ صفتونه شته چې انساني جوهر یې بولي. صداقت، رښتینولي، په وعده وفا، درواغ نه ویل، مېړانه، پت ساتل، له خیانت ځان لیرې ساتل، نېکه اوخوږه وینا او په سلګونه داسې نور هغه صفتونه دي چې له انسان څخه انسان جوړوي. دروغ ویل په ټولنې کې د انسان وقار راټیټوي. که یو ځل څوک په دروغو مشهور شو، نو بیا یې پر رښتیاوو هم څوک باور نه کوي. یو شمېر اخلاق فردي دي، زیان او ګټه یې یوازې یو فرد ته رسیږي، خو یو شمېر نور بیا ټولنیز اړخ لري. د ټولنې بنسټ جوړوي او له ټولنیزو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي. وګورئ، په پورته کیسه کې پر ژمنې د یو ځوان وفا څومره ښېګڼې رامنځته کړې، هم یې ځوان له هرو مرو مرګ څخه وژغوره او هم یې انساني جوهر په ګوته کړ. که چېرته له لومړۍ هغې یې اوړې خالي شوې وای او پرې عمل نه وای شوی، نو ټولنیزو ارزښتونو ته یې زیان رساوه.

فعالیتونه

۱ـ د پورته کیسې پیغام څه شی دی؟ درې تنه زده کوونکي هر یو دې خپله دنده د ټولګي په وړاندې ووایي.

۲ـ درې تنه زده کوونکي دې یوځای د ټولګي مخې ته راشي. هر یو دې په وار له هغو دریو دلیلونو څخه د یو په اړه خپل معلومات وړاندې کړي چې له مرګ څخه د هغه ځوان د بچېدو لامل شول.

۳ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او په خپله ژبه دې د پورته کیسې یوه برخه ووایي.

٤ـ په یوې ټولنه کې دې د ښو اخلاقو په اړه څو تنه زده کوونکي خپل نظر روښانه کړي.

٥ـ زده کوونکي دې پورته کیسه په خپل ټولګي کې تمثیل کړي.

کورنی دنده

پر وعدې وفا څه ګټه لري؟ په دې اړه یوه مقاله ولیکئ او په بله ورځ یې نورو ته واوروئ.

زده کړه له کوره تر ګوره

وایي: یو دوست د یوعالم د ناروغۍ پر مهال د عیادت لپاره د هغه کور ته ورغی. عالم چې د ځنکدن په حالت کې و، له خپل دوست څخه یې د یوې مسئلې پوښتنه وکړه. دوست یې ورته وویل، ته د ځنکدن په حالت کې یې په مسئله څه کوې؟ عالم ورته وویل: ((دا به ښه وي چې په دې مسئلې باندې پوه شم او بیا مړ شم.))

ښايي د غلا او درغلۍ ځاله یوه ورځ ویجاړه شي، خو د رښتیا او امانت ماڼۍ ټینګه او پر خپل ځای ولاړه وي.

((حدیث شریف))

تشبیه

که د پښتو شعر ستري او پلنې لمنې ته په ځیر سره وګورو، نو د امیر کروړ له وخت نه تر نن پورې په سلګونو او زرګونو شاعران تېر شوي، شته او وي به.

دغو ټولو نظمونه او شعرونه ویلي. نثرونه یې لیکلي، حتی نثري اوشعري کلیات ترې را پاتې دي. ځینو په لوی لاس په خپلو شعرونو کې بدیعي او بیاني ښکلاوې کارولي دي.

ادبي فنون د همدې ښکلاوو د څېړنې، توضیح او تشریح کولو علم دی.

بدیع ، بیان او معاني د ادبي فنونو یا بیاني علومو اساسي برخې دي.

بدیع فن چې د فصیح او بلیغ کلام له لفظي او معنوي ښایستونو څخه بحث کوي، تاسې په لسم ټولګي کې ولوست.

د شاعرانه تخیل مختلف صورتونه: تشبیه، استعاره، مجاز او کنایه د بیان علم د بحث موضوعات دي، د دوی له جملې څخه (تشبیه) په دې لوست کې در پېژنو.

تاسو کله دوه شیان یو له بله سره ورته کړي دي؟

د یوې معنا د بیانولو لپاره لومړنی اسانه او ساده فني لاره چاره تشبیه ده چې په نظم، نثر، شعر او عادي کلام کې ورځخه کار اخیستل کېږي.
ډېر وختونه له تشبیه ځخه موخه د یو شي په ښه یا بد ستایلو او بیانولو کې د مبالغې کول وي. یو شاعر د هغې مینې یا کرکې له امله چې له خلکو او شیانو سره یې لري، کوښښ کوي هغوی له خپل هغه موجود حالت ځخه زیات یا کم وښیي.
د بېلګې په ډول کله چې یو شاعر د محبوب قد له سروې، رخسار له ګل، غاښونه له مرغلرو، شونډې له لعلونو، د ځنو توروالی له تورې شپې سره ورته ښیي، نو سره له دې چې د خپل محبوب او د هغو شیانو تر منځ ورته والی (مشابهت) پیدا کوي، په حقیقت کې د خپل محبوب او معشوق په ستاینه کې مبالغه کوي او غواړي چې خپله محبوبه تر خپل اصلي حده زیاته ښایسته وښیي.
له خپل حد ځخه زیات د یو شي د ښه والي یا بد والي بیانول د مبالغې یو ډول دی چې د تشبیه او ورته والي په صورت کې افاده کېږي.

تشبیه: ورته کول یا یو شی یا یو ځیز د بل په شان کېدو ته وایي. یا: په یوه ځانګړې معنا کې د دوو شیانو ګډون ته، په دې شرط چې د دواړو تر منځ یو یا ځو ګډ خصوصیتونه موجود وي، ورته کول تشبیه ده.
د مثال په ډول که ووایو چې: (ناپوهي مرګ او پوهه ژوندون دی.)
نو په دې وینا کې ناپوهي او جهالت له مرګ سره، علم او پوهه له ژوندون سره تشبیه یا ورته شوي دي.

یا لکه په لاندې شعر کې:

پتنګ یم شمعې ښکلول دې غواړم
که ځنګ دې ډک د سرو لمبو دی ښه دی

شاعر په دې بیت کې خپل ځان له پتنګ سره تشبیه کړی دی او له شمعې څخه یې هدف خپل هېواد دی چې د ابادولو او سمسورولو لپاره یې هر راز سربښندنې ته تیار دی.

د شاعر او پتنګ تر منځ د تشبیه وجه یاګډ خصوصیات مینه، محبت او وفاداري ده.

تشبیه پنځه رکنونه لري: مشبه، مشبه به، د تشبیه وجه، د تشبیه ادات، د تشبیه غرض.

مشبه او مشبه به ته د تشبیه طرفین یا اصلي ارکان هم ویل شوي دي، ځکه چې د تشبیه په صورت کې یې شتون حتمي دی. د دوه نورو (وجه شبه او ادات تشبیه) ذکر او شتون حتمي او اړین نه دی.

۱ـ مشبه:

هغه شی چې تشبیه کېږي د مشبه په نوم یادېږي.

یا: مشبه هغه څوك یا شی یا حال دی چې له بل چا، شي یا حال سره تشبیه کړای شوی وي.

د بېلګې په ډول:

که ووایو چې: (باران اوري) په دې کلام کې د تشبیه کوم طرف نشته او که ووایو چې: (د غم باران اوري.) دلته د تشبیه طرفین موجود دي.

غم یې له باران سره تشبیه کړی دی.

یا لکه په لاندې بیت کې چې (محبت) له اور سره تشبیه شوی دی:

هیڅ مې نه زده محبت که اور دی دا
په اور سوځم په رضا که زور دی دا

یا لکه په لاندې لنډۍ کې:

زړه مرغلره ده چې مات شي
بیا د لباس په خندا ناخلي کوشیرونه

پورته لنډۍ کې ((زړه)) مشبه دی چې له مرغلرې سره تشبیه شوی دی.

۲ـ مشبه به:

له کوم شي سره چې یو شی تشبیه کېږي د مشبه به په نامه یادېږي.

یا: مشبه به هغه څوک، شی یا حال دی چې د بل چا، شي یا حال ورته والی او تشبیه له ده سره شوې وي.

لکه: په دې لاندې جمله کې:

(پوهنه د رڼا په څېر ده.) په دې جمله کې (رڼا) مشبه به راغلې ده.

یا لکه د رحمان بابا په لاندې بیت کې:

که حرص دربانـدې زور شـي مـرگ دریاد کړه
دا عـلاج دی دغـه رنـځ لـره مـحکم

رحمان په دې بیت کې ((حرص)) له (رنځ) سره او (مرگ) یې له (علاج) سره تشبیه کړی دی، رنځ او علاج دواړه مشبه به دي، یعنې د نورو شیانو تشبیه له دوی سره شوې ده.

په همدې ډول په لاندې بیت کې چې (مارونه) د (زلفو) لپاره مشبه به دي:

چـې خـوړلـی د یـار زلـفـو مـنـگـرو یـم
سـرگـردانـه پـه سـراغ د پـاړوگـر یـم

یا لکه په لاندې لنډۍ کې چې ((مرغلرې)) مشبه به او ((خولې)) مشبه دي.

چـې مـرغـلـرې تـرې شـرمـېږي
هـغـه خـولـې زمـا د یـار پـر مـخ راځـینـه

۳_ د تشبیه وجه:

هغه یو یا څو مشترک صفتونه چې د مشبه او مشبه به تر منځ موجود وي، د تشبیه وجه یې بولي. د وجه شبه ذکر په بیت کې کله وي او کله نه.

لکه په لاندې بیت کې:

د بـــادام پـــه څـېـر مـې زړه ســـورى ســـورى شو
چـې راپـــور تـــه پـــه غـمـزه سـتـرګـې بـاڼـو کـړې

په پورته بیت کې (زړه) مشبه، (بادام) مشبه به، (په څېر) د تشبیه کلمه، (سورى سورى کېدل) یې د تشبیه وجه یا مشترک صفت دى.

د تشبیه وجه ښایي په مشبه به کې تر مشبه زیاته قوي او څرګنده وي.

د رحمان بابا لاندې بیت وګورئ چې د تشبیه د وجهې ذکر پکې لفظاً نه دى شوى:

یـــا بـــه قـنـد یـــا بـــه نـبـات او یـــا بـــه شـهـد وي
هـــر کـــلام چـــې لـــه رحـمـانـه شـنـیـده شي

په پورته بیت کې د رحمان (هر کلام) مشبه، (قند، نبات، شهد) درې واړه مشبه بهات دي. (خوږوالى) یې د تشبیه وجه ده، مګر په بیت کې لفظاً نه ده ذکر شوې.

یا لکه په لاندې بیت کې:

کـــه هـــر څـــو د ښـــو غـــشـــي کـــاږه ولـــي
یـــو لـــه نـــښـــې د زړه نـــه درومـــــــي خـطـا

٤_ د تشبیه ادات یا کلمې:

هغه ادات یا کلمې دي چې زیاتره د هغو په واسطه د مشبه او مشبه به تر منځ تشبیه قایمېږي.

د تشبیه ادات دادي:

لکه، په څېر، په شان، غوندې، هغسې، هسې، داسې، څنګه، په دود، که، په رنګ...

لـکـه خـونـد لـري زمـا خـوږې خـبرې
پـه شـکـروکـې هـم نـشـتـه هـسـې خـونـد
(رحمان بابا)

پـه غـوږو دې زلـفـې هـسـې معـلـومـېږي
لـکـه ولـوېـږي هـنـدو پـه سـپـیـنـو زرو
(حنان)

چـې ربـبـي مـې بـې صـرفـې د زړګـي ولـې
کـږې وروځـې دي د یـار کـه لـور دی دا

چـې د سـپـرلـي ګـلـونـه ګـورم
مـا تـه د ګـل پـه شـان جـانـان را یـا دوینـه

په پورته لومړي مثال کې (هسې)، دویم کې (هسې ـ لکه)، دریم کې (که)، څلورم کې (په ـ شان) د تشبیه ادات یا کلمې دي.

۵ـ د تشبیه غرض:

هغه مقصد او مطلب چې له تشبیه څخه اخیستل کیږي، د تشبیه غرض ورته وایي.

یا: د مشبه د حال بیان او ستاینه د تشبیه غرض دی. لکه: ښکلا، ښه والی، بدوالی او نور...

د تشبیه غرض زیاتره مشبه ته راجع کیږی. د بېلګې په ډول:

که ووایو چې: (دا اوبه لکه د شاتو خوږې دي.) په دې جمله کې: (اوبه) مشبه، (شات) مشبه

به، (لکه) د تشبیه ادات، (خوږوالی) یې وجه شبه ده.

او د تشبیه غرض د اوبو د خوږوالي ثابتول دي.

د متن لنډیز:

د شعر و شاعرۍ، د فني ښکلا ټول جهتونه، خوندونه او رنګینې، د وینا پټې او ښکاره ښېګڼې د ادبي فنونو د پوهې په واسطه سره ښکاره او په ګوته کولای شو.

بدیع، بیان او معاني د ادبي فنونو یا بیاني علومو اساسي برخې دي.

د بدیع په علم کې د وینا غیر واجب ښکلاوې، د تحسین نښې او ډولونه پېژندل کېږي.

بدیعي لفظي او معنوي صنعتونه تر څېړنې لاندې راځي.

بیان هغه اصول او قاعدې بیانوي چې د هغو په واسطه سره یوه معنا په مختلفو عباراتو کې داسې اداکېږي چې یوه نسبتاً بلې ته ډېر واضحه او څرګنده وي. تشبیه، استعاره، مجاز او کنایه یې د بحث اړین موضوعات دي.

یو شی یا حالت له بل شي یا حالت سره ورته کولو ته تشبیه وایي.

مشبه، مشبه به، وجه شبه، د تشبیه ادات او د تشبیه غرض د تشبیه ارکان دي. دوه لومړني ارکانو (مشبه او مشبه به) ته د تشبیه اصلي ارکان وایي او نور یې فرعي دي. اصلي په دې معنا چې په بیت کې یې شتون او ذکر اړین دی.

فعالیتونه

۱ـ یو تن زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او تشبیه دې نورو ته وروپېژني.

۲ ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي، یو تن دې د تشبیه د رکنونو نومونه واخلي او بل تن دې تعریف او په یوې بېلګې کې دې وښیي.

۳ـ څلورتنه زده کوونکي دې په وار سره د تختې پر مخ يو يو بيت وليکي، مشبه، مشبه به، د تشبيه ادات او د تشبيه وجه دې پکې وښيي.

٤ـ زده کوونکي دې په څلورو ډلو وويشل شي، هرې ډلې ته دې دنده وسپارل شي، په خپلو تېرو ويل شوو لوستونو کې داسې بيتونه او شعرونه پيدا کړي چې د تشبيه ارکان پکې راغلي وي، د هرې ډلې استازی دې نورو ټولګيوالو ته ووايي.

۵ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

د بيان علم د بحث موضوعات کوم دي؟

تشبيه څه ته وايي؟

د تشبيه ارکان کوم دي؟

د تشبيه ادات کوم دي؟

٦ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار د لوستل شوو شعرونو څخه يو يو بيت په تخته وليکي، مفهوم دې ټولګيوالو ته ووايي.

۷ـ ښوونکی دې د شاعرانو په شعرونو کې د تشبيه په کارولو او رول باندې په لنډ ډول وغږېږي.

۸ـ هر زده کوونکی دې په وار د خپل ښوونځي په اړه خبرې وکړي. د بېلګې په ډول:
زه د خوشحال خان د لېسې زده کوونکی يم. زه په خپل ټولګي کې اول نمره يم، د ښوونځي سره ډېره علاقه لرم.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپل درسي کتاب شعرونه ولولي او د تشبيه ارکان دې پکې نښه کړي، د بلې ورځې د پښتو د مضمون په ساعت کې دې نورو ټولګيوالو ته ووايي.

د تشبیه ویش

د ځینو څېړونکو په اند په اسلامي پېر کې لومړنی سړی چې د بیان علم په اړه یې څېړنې کړې، هغه ابو عبیده مثنٰی دی. د زوکړې کال یې معلوم نه دی، خو د مړینې کال یې (۲۱۱هـ.ق.) ښوول شوی دی.

ده د بیان په باب یو کتاب لیکلی چې مجاز القرآن یې بولي. ابو عبیده په دې کتاب کې هغه کلمات را ټول کړي چې د موضوع په لحاظ په معاني کې استعمال نه لري، بلکې په مجازي معناوو کې یې استعمالوي. د بیان لغوي معنا سپړل، څرګندول او په ډاګه کول دي. بیان هغه پوهه ده چې د یوې معنا دلالت په بېلابېلو لارو راښیي.

ددې علم اصلي موضوعات مجاز او کنایه دي، خو تشبیه له مستعار مجاز سره د تړاو په صورت کې هم ملګرې کېږي.

تشبیه یو داسې ادبي ښایست دی چې په منظوم کلام کې ښکلا، خوند، کیفیت زیاتوي او د شعري ژبې په کارولو کې ځانګړې ونډه او ارزښت لري.

په تېر لوست کې مو تشبیه او ارکان وپېژندل، اوس به یې د وېش او ډولونو په اړه معلومات ولولئ:

ـ د تشبیه کارول په کلام کې څه ارزښت لري؟

د وینا یا د مطلب د ادا ژبه او د شعر ژبه دواړه یو راز نه وي. دشعر په ژبه کې د مطلب د افادې تر څنګ احساس او هیجان هم وي، همدا تشبیهات او استعارې دي چې د شعري ژبې په جوړولو کې ونډه لري او د شاعرانه انځورونو د جوړولو مهمې وسیلې ګرځي.

د تشبیه وېش په لاندې ډول شوی دی:

الف_ د طرفینو د موقعیت په لحاظ:

د مشبه او مشبه به د موقعیتونو له مخې تشبیه په مفروقه او ملفوفه تشبیه باندې وېشل کېږي.

مفروقه تشبیه: هغه ده چې په بیت یا مسره کې مشبه او مشبه به یو بل ته څېرمه یا نږدې واقع شوې وي.

لکه:

خط دې تور حرفونه، مخ دې پاڼې د کتاب دي
شغل د کتاب دې بل کتاب را څخه یوړ

رحمان بابا په دې بیت کې د محبوب پر مخ ((تور خط)) (ږیره او بریت) له تورو حرفونو سره او ((مخ)) یې د ((کتاب)) له پاڼو سره تشبیه کړی دی.

څرنګه چې مشبه او مشبه به سره نژدې واقع شوي دي، نو د طرفینو د موقعیت په لحاظ مفروقه تشبیه ده.

یا لکه په لاندې پښتو لنډۍ کې:

سترګې ډولی، باڼه پرې چتر
د جانان مینه پکې ناوې ګرځومه

په پورته لنډۍ کې: ((سترګې)) مشبه، ((ډولی)) مشبه به، ((باڼه)) مشبه، ((چتر)) مشبه به، ((دجانان مینه)) مشبه، ((ناوې)) مشبه به دي.

دا چې مشــبه او مشبه به یا د تشــبیه طرفین یو بل ته څېرمه راغلي دي، نو مفروقه تشبیه یې بولي.

ملفوفه تشبیه:

که چېرې په یو بیت یا مســره کې څو مشــبه او څو مشبه به داسې ډول راوړل شي چې له مشبه سره مشبه په یو نیم بیتي کې او له مشبه به سره مشبه به په بل نیم بیتي کې راغلي وي، یعنې له مشــبه سره مشــبه به نږدې یا څنګ په څنګ نه وي راغلي، ملفوفه تشبیه یې بولي. لکه په لاندې بیت کې:

تـــورې زلـفــې شـنــه خـالــونــه، ســـره رخـســار
شـنــه تـوتـیـان دي ســـره ګـلـونــه تـــور ښـامـار

په پورته بیت کې: ((زلفې)) مشبه، ((ښامار)) مشبه به، ((توروالی))، (اوږدوالی) یې وجه شبه.

(خالونه) مشبه، (توتیان) مشبه به، ((شینوالی او ښایست)) یې وجه شبه.

((رخسار)) مشبه، ((ګلونه)) مشبه به، ((سوروالی او ښایست)) یې وجه شبه ده.

څرنګه چې مشبه ګانې په یو نیم بیتي او مشبه به په بل نیم بیتي کې یعنې سره لرې راغلې دي نو ملفوفه تشبیه یې بولي.

ب_ د تشبیه وېش د ابتذال او ندرت په لحاظ:

د ابتذال او ندرت په لحاظ تشبیه په مبتذله او نادره تشبیه باندې وېشل کېږي. نادره تشبیه هغه تشبیه ده چې شاعرانو کې لږ استعمال ولري او یا کوم شاعر نوې پیدا کړې وي.

لکه په دې بیت کې:

چې یې خال په مخ کې وینم حیرانېږم
په جنت کې ولې ږدي عاصي یو گام

په پورته بیت کې (خال) مشبه، (عاصي) مشبه به، (مخ) مشبه، (جنت) مشبه به دی.

د ((خال)) او ((عاصي)) تر منځ ((توروالی)) وجه شبه ده. د (مخ) او (جنت) تر منځ د تشبیه وجه ښایست او سپینوالی دی. څرنگه چې لږ شمېر شاعرانو کارولې ده، نو نادره تشبیه یې بولي.

مبتذله تشبیه: هغه ده چې په شاعرانو کې خورا زیات استعمال ولري.

لکه د ((زلفو)) تشبیه له ((سنبل)) سره یا د ((مخ)) تشبیه له ((گل)) سره چې هر شاعر دا کار کړی دی.

لکه په لاندې بیتو کې:

مخ دې لکه گل صنم زلفې دې سنبل صنم
که هر څو د بڼو غشي کاږه ولي بوله نښي د زړه نه درومي خطا

په لومړي بیت کې مخ له گل سره او زلفې له سنبل سره او په دویم بیت کې (باڼه) له (غشو) سره تشبیه شوي دي.

څرنگه چې هر شاعر د غسې تشبیهات کاروي نو ځکه ورته مبتذله تشبیه ویل کېږي.

ج_ د تشبیه وېش د وجه شبه په لحاظ:

د وجه شبه په لحاظ تشبیه پر مفصله او مجمله باندې وېشل کېږي. مفصله تشبیه هغه ده چې د تشبیه وجه لفظاً په بیت کې ذکر شوې وي.

لکه په دې بیت کې:

د غفلت په خوب ویده خلک یې نه اوري
که حمید ناري وهي لکه جرس

په پورته بیت کې حمید ((خپل ځان)) له ((جرس)) سره تشبیه کړی دی، ((ناري وهل)) یې وجه شبه ده چې لفظاً ذکر ده، نو مفصله تشبیه ده.

مجمله تشبیه: دا هغه تشبیه ده چې د طرفینو تر منځ یې د تشبیه وجه لفظاً نه وي ذکر شوي، لکه په لاندې بیت کې:

مخ دې لکه لمر دی ورته ځیر کتلی نه شم
ځکه یې د مدحې له عهدو وتلی نه شم

عبدالقادر خټک چې د خوشحال خان خټک زوی دی پخپل پورته بیت کې یې د ((محبوب مخ)) له ((لمر)) سره تشبیه کړی دی. د ((مخ)) او ((لمر)) تر منځ د تشبیه وجه چې (ښایست او روښنایي) ده په څرګند ډول په کلام کې ذکر شوې نه ده، نو ځکه یې مجمله تشبیه بولي.

د ـ د تشبیه وېش د اداتو په لحاظ:

د اداتو په لحاظ تشبیه پر مرسله یا مطلقه او مؤکده باندې وېشل کېږي.

مرسله یا مطلقه تشبیه: هغه تشبیه ده چې د تشبیه ادات یا کلمې په بیت کې ذکر وي، لکه په دې بیت کې:

ښامارانو غوندې ګرځي په ګنجونو
نشته هېڅ په زړه کې ډار د تورو زلفو

په دې بیت کې((زلفې)) له ((ښامارانو)) سره تشبیه دي. د زلفو او ښامارانو تر منځ د تشبیه ادات (غوندې) په بیت کې ذکر ده، نو د اداتو د ذکر په لحاظ مرسله یا مطلقه تشبیه ده.

مؤکده تشبیه: هغه تشبیه ده چې د مشبه او مشبه به تر منځ د تشبیه ادات یا کلمې په بیت کې نه وي ذکر شوي.

لکه په دې لاندې بیت کې:

نــه به په زور په زاري خلاص شــي، نه په عقل دانش
دنیــا دامــګاه، ژونــدون دانــه، اجل يې دام ايښــی دی

د پورته بیت په دویم نیم بیتي کې: (دنیا) له (دامګاه) سره (ژوندون) له (دانې) سره (اجل) له (دام) ســره تشــبیه شوی دی، خو د تشــبیه د اداتو ذکر پکې نه دی شوی، نو مؤکده تشبیه يې بولي.

تشبیه نور ډېر ډولونه هم لري، خو مهم يې همدغه وو چې دلته در وپېژندل شول.

د متن لنډيز:

تشبیه د شاعرانه انځور د جوړولو يو مهمه وسیله ده، همدا تشبیهات او استعارې دي چې د شعر ژبه او د وینا ژبه سره توپیروي.

تشــبیه څــو ډول وېش لري: د طرفينــو د موقعیت له مخې په ملفوفــه او مفروقه، د استعمال له مخې په نادره او مبتذله، د اداتو له مخې په مرسله او مؤکده، د وجه شبه له مخې په مفصله او مجمله تشبیه باندې وېشل کېږي.

د تشــبیه ځینې نور وېشــونه، لکه: د (عادي او غیر عادي، تســویه او جمع تشبیه، د ماهیت له مخې وېش د طرفينو د بسیطوالي او ترکیب له مخې وېش) هم لري.

فعالیتونه

۱ــ دوه تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي، د تشبیه په وېش دې خبرې وکړي.

۲ــ څو زده کوونکي دې په وار ســره د تشــبیه يو يو وېش د تختې پر مخ په مثالونو کې وښيي.

۳ـ زده کوونکي دې په خلورو ډلو وویشل شي، هره ډله دې د تشبیه د وېش یو چارت ترتیب کړي، د ډلې استازي دې، نورو ټولګیوالو ته وښيي.
٤ـ څو زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشــي په متن کې د راغلو شــعرونو په مفهوم دې خبرې وکړي.
٥ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:
په منظوم کلام کې د تشبیه کارول څه ګټه لري؟
د اداتو په لحاظ تشبیه په کومو ډولونو باندې وېشل کېږي؟
که د تشبیه وجه په بیت کې ذکر نه وي، څه ډول تشبیه یې بولي؟
مجمله تشبیه کومې تشبیه ته ویل کېږي؟
٦ـ څــو تنــه زده کوونکــي دې پــه وار د تختې پر مخ په شــعرونو کې د تشــبیه طرفین ونوموي.
۷ـ زده کوونکي دې په وار د پاکوالي په اړه په داســې ډول خبرې وکړي چې تشــبیهات پکې وکاروي.
۸ـ دوه تنه زده کوونکي دې د لوست لنډیز ووایي.

کورنۍ دنده

هر زده کونکی دې په کور کې د یو شاعر شعرونه ولولي، د تشبیه د هر وېش په اړوند دې مثالونه پیدا او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې ټولګیوالو ته ولولي.

زده کوونکی دې په لاندې بیتونو کې مشبه، مشبه به، وجه شبه او د تشبیه توري ولټوي او تشریح دې یې کړي:

شونډې دې یاقوت دي مرغلري سپین غاښونه
سرتر پایه درست د پاچاهانو خزانه یې

چې بلا یې د قامت راته ښکاره شوه
ګویا پاخېده بلا د قیامت

څو به شمېرم زه غمونه د هجران
هومره ډېر دي لکه رېګ د بیابان

چې یې خال په مخ کې وینم حیرانېږم
په جنت کې ولې ږدي عاصي یو ګام

دا څه قد دی دا څه سترګې دا څه مخ دی
داڅه سروه څه نرګس دا څه ګلشن دی

لکه باد صبا راشي ژر ګذر کا
ما خوشحال چې ازمېیلې دی میثاق ستا

که د زلفو مار یې وخوري عاشق ګرم دی
چې یې لاس په اژدها باندې کښېښ

ښاپیری چې لیده نشي سبب دادی
مخ د ستا له شرمه نغاړي په حجاب

نرګس کوز ګوري له شرمه
ستا د سترګو په څواب

د جنت حوري که ګوري ستا ومخ ته
نور به واچوي له مخه نقابونه

نشه يي توکي

د نشه يي توکو کارونه د انسان بدن ته ډېر زيان رسوي. د نشه يي توکو لېږد رالېږد او قاچاق ديني، ملي، اجتماعي او انساني جرم او جنايت دی. خلکوته زيان رسول له همدغه ځايه پيلېږي.

څوك چې پر نشه يي توکو اخته وي، خلك ورته په سپکه سترگه گوري. د هوسا ژوند   څښتن نه وي. د کورنۍ او ټولنې د اوږو باروي.نشه يي توکي ډول ډول دي، په دې لوست کې به يې په اړه ځينې څرگندونې ولولو:

پر نشې د اخته شخص د ژوند په اړه مو په ذهن کې څه درگرځي؟

شک نشته چې څښتن تعالی هېڅ شی خوشې نه دی پیدا کړی، خو دا موږ یو چې له هغوی ناسمه ګټه اخلو. د نشه يي توکو کارول بدن او روغتیا ته زیان رسوي او باید ځانونه ترې په کلکه وژغورو.

د نشه يي توکو په کارونې د بدن د کار او فعالیت ځواک کمزوری کېږي. پر نشه يي توکو روږدي کسان نه د دنیا چارې په سمه توګه سمبالولی شي او نه د اخرت، نه خپل حقونه پېژني او نه هم د نورو. دغه وګړي په ټولنه کې د خپلوۍ او دوستۍ اړيکې هم په مناسبه توګه پاللی او ساتلی نه شي.

که په ظاهره وګورو د بنګو بوټي ډېر ښکلي دي، خو دا ښکلي ماران په باطن او د ننه کې له زهرو ډک دي. تنکي او ښايسته ځوانان بد رنګوي او د ځوانۍ د ښایست او د ښکلا د بهار ګلونه يې مړاوي کوي، رژوي يې او له خاورو سره يې خاورې کوي. نشه يي توکي ډېر ډولونه لري، همداسې يې استعمال او کارونه هم ډول ډول ده.

یو ډول هغه نشه يي توکي دي چې د سګرټ، چلم، نیچې او نورو ډولونو په دود استعمالېږي. یو له دې توکو څخه تمباکو دي چې ددې ټولو بدو عملونو په سر کې راځي. ځوانان لومړی ځل تمباکو لوګی کوي، نسوار اچوي، چلم یا سګرټ څکوي، ورو ورو د تمباکو چلم يې د چرسو په چلم او سګرټ يې په سګرټي بدلېږي.

همداسې ځينې ترياک خپلوي او هيروينو ته ځان سپاري. په دې ډول د بدو اعتیادونو لړۍ له تمباکو څخه پيلېږي. د تمباکو لوګی معده کمزورې کوي، د التهاب سبب يې ګرځي، اشتها کموي، ځيګر خرابوي، عصبي نظام کې سستي او کمزوري راولي او نورو راز راز ناروغيو ته زمينه برابروي. په همدې ډول چرس هم يو زيان رسوونکی نشه يي توکی دی.

بل هغه نشه يي توکي دي چې د خولې له لارې استعمالېږي. لکه: ترياك، بنګ، شراب چې تر هر څه د مخه د معدې او بيا د بدن د نورو غړو د ناروغيو سبب ګرځي.

دريم هغه نشه يي توکي دي چې د پېچکارۍ له لارې وجود ته د اخلېږي. دا ډول نشه يي توکي د انسان د پوستکي، وينې، اعصابو او د زړه د ناروغۍ د انتقال لوی عامل ګرځي.

څلورم هغه نشه يي توکي دي چې د پزې له لارې استعمالېږي، لکه د پزې نسوار او نور چې د پزې د سوري کېدو او د دماغ د نازکو رګونو د بندېدو په سبب د انسان د مړينې لامل کېږي. تاسې ته به جوته شوې وي چې نشه يان يا په نشه يي توکو روږدي کسان کوښښ کوي د خلکو، کور او کلي څخه لرې واوسي. دوی د کارکولو توان له لاسه ورکوي، غلاوې کوي، دروغ وايي او د نشه يي توکو لپاره ډول ډول جنايتونو ته لاس اچوي. په پورتنيو اعمالو د خپلې کورنۍ دوستانو او ټولنې په وړاندې باور او اعتبار له لاسه ورکوي، په ژوند کې سپک بې وقاره او رټلي وي.

ددې لپاره چې ځان مو له پورتنيو ناروغيو او ناوړه پېښو څخه ژغورلی وي بايد د ټولو نشه يي توکو له کارونې څخه په کلکه ډډه وکړو. ددغو توکو په زيانونو خلک وپوهوو چې له استعمال او کاروبار څخه يې ځان وژغوري.

کوم کسان چې پرې روږدي دي د هغوی د خلاصون لپاره دې هر اړخېزې ممکنې هلې ځلې وشي. د خير په دغه کار به مو دنياوي او اخروي نېکمرغی په برخه شي او موږ به د نشې له آفت او زيان څخه د ژغورلې ټولنې خاوندان شو.

د متن لنډيز:

د نشه يي توکو کارول د انسان پر روغتيا او ژوند باندې ناوړه اغېز کوي.

په نشه يي توکو روږدي کسان د خپلې کورنۍ او ټولنې د اورو باروي. نشه يان د کارکولو توان نه لري، د خپل نشه يي توکو د لاس ته راوړلو لپاره ناوړه اعمالوته مخه کوي، ژوند يې سپک، بې وقاره او رټلي وي، هر څوک ورنه کرکه کوي.

فعالیتونه

۱ـ دوه تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي، د نشه يي توکو نومونه دې واخلي.

۲ـ درې تنه زده کوونکي دې په وارسره د ټولګي مخی ته راشي د نشه يي توکو د زيانونو په اړه دې خبرې وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د نشه يي توکو زيانونه لست او بيا دې په وار سره د هرې ډلې مشر د خپلې ډلې په استازيتوب هغه د نورو په وړاندې ولولي.

٤ـ د متن له لوستلو څخه مو څه مفهوم واخيست؟ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګيوالو په مخکې خبرې پرې وکړي.

۵ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه پر نشي باندې د روږدو کسانو (د نشه يانو) د خراب ژوند په هکله خبرې وکړي.

٦ـ درې تنه زده کوونکي دې په نشه يي توکو د روږدو کسانو په رول او يو تن دې دوی ته د نصيحت کوونکي رول په غاړه واخلي، د دوی د ژوند ناوړه صحنه دې تمثيل کړي.

۷ـ زده کوونکي دې په وار د ټولګي په وړاندې لاندې پوښتنوته ځوابونه ووايي او د تختې پر مخ دې د پاراګراف په شکل وليکي:

- نشه يان ولې غلاوې کوي؟
- نشه يان ولې د خپلې کورنۍ او دوستانو په وړاندې خپل اعتبار له لاسه ورکوي؟

- نشه یان ولې د خپلې کورنۍ او ټولنې د اوږو باروي؟
- نشه یان ولې سپک او بې وقاره ژوند لري؟
- د اسلام سپېڅلي دين ولې نشه يي توکي منعه کړي دي؟
- څنګه کولای شئ ځوانان له نشې څخه وژغورئ؟

۸ـ زده کوونکي دې لاندې کیسه ولولي او بیا دې په وارسره زده کوونکي خپل نظر څرګند کړي:

وايي چې په پخوا زمانو کې يوه سړي چې کړه وړه يې خورا ښه وو، له چا نه يې يو وار نسوار وغوښتل.

هغه ورته په ډېره حیرانۍ وویل: نسوار هم کوې؟

- هو! چې چلم نه وي نو نسوار اچوم.
- او هو! چلم هم څکې؟
- بلې! چې غټ چلم برابر نه شي بيا، نو د تمباکو په چلم د زړه تسل کوم.
- دا ته چرس هم څکې؟
- چې ترياک پیدا نه کړم بيا، نو په چرسو ساعت تېروم.
- عجيبه ده! ته د ترياکو عملي هم يې؟
- نو څه وکړو؟ چې شراب پیدا نه شي بیا، نو په ترياکو ګوزاره کوو . . .

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو په مرسته د نشه يي توکو زيانونه په څو کرښو کې وليکي او بيا دې د بلې ورځې په پښتو درسي ساعت کې خپلو ټولګیوالو ته ووايي.

د نشه يي توکو زيانونه:

د اسلام پاک دين نشه يي توکي ناروا ګڼلي، ځکه چې د انسان روغتيا ته خورا زيات زيانونه لري او انساني ټولنه له تباهی سره مخامخ کوي. روږدي کسان په کورنۍ او ټولنه کې هيڅ قدر او ارزښت نه لري او له ټولنې څخه جلا شوي وي.

د نشه يي توکو استعمال خورا زيات ځاني، روحي، ټولنيز، اقتصادي او اخروی زيانونه لري چې موږ يې ځينو زيانونو ته په لاندې ډول ګوته نيسو:

١ـ د بدن دفاعي سيستم کمزوری کوي،

٢ـ د مرکزي اعصابو د سيستم فعاليتونه کمزوري کوي،

٣ـ د زړه ټکان زياتوي،

٤ـ د ستونې او سږو سرطان پيدا کوي،

٥ـ د باصرې(١)، شامې(٢) او ذايقې(٣) حسونه کمزوري کوي،

٦ـ د وينې فشار زياتوي،

٧ـ د وينې کلسټرول(٤) زياتوي،

٨ـ د زړه د ناخاپي دريدلو (سکتې) لامل کيږي،

٩ـ په معتاد سړي کې لټې او کمزورتيا را منځته کوي،

١٠ـ په تنفسي سيستم کې ګډوډي رامنځته کوي،

١١ـ روحي ګډوډي، (ستړيا، پريشاني، ګوښه توب، په ځان باندې نه اعتماد، نهيلي... .) راولي.

پېژند پاڼه
(خبرې اترې)

زموږ د هېواد هر اوسېدونکی (کوچنی، ځوان، زوړ) نارینه او ښځینه باید د تابعیت تذکره یا پېژند پاڼه ولري. په پېژند پاڼه کې د اړوند شخص ټولې ځانګړنې لیکل شوې وي. نوم، د پلار نوم، د نیکه نوم، د زېږېدلو نېټه، اصلي استوګنځای، مدني حالت، او نور ټول کوایف په پیژند پاڼه کې لیکل کېږي. دا پیژندپاڼه د هر ځای اوسېدونکو ته د خپلې ولسوالۍ او یا ولایت له خوا ورکول کېږي.

کله چې یوه کورنۍ و غواړي خپل ماشوم په ښوونځي کې شامل کړي، لومړی باید ماشوم ته پېژند پاڼه واخلي او بیا یې په ښوونځي کې د داخلېدو لپاره د ښوونځي ادارې ته مراجعه وکړي.

په دې لوست کې به همدې اړه خبرې اترې لرو.

د هېواد د تابعیت د تذکرې لرل څه معنا او څه ګټې لري؟

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی. په دې کور کې بېلا بېل قومونه يو ځای ژوند کوي. هغوی ګډ تاريخ، فرهنګ، دودونه او ملي وياړنې لري. دا قومونه په ګڼو سيمو، کليو، ولسواليو او ولايتونو کې مېشته دي. وګړي يې يو له بله سره ورونه او تر يوه ملي بېرغ لاندې را ټول دي. همدا تر يوه بېرغ لاندې اوسېدونکي وګړي د يوه هېواد نفوس جوړوي.

د اړتيا په وخت کې د هېواد وګړي د خپلې خاورې او هېواد له ملي نواميسو او ځمکنۍ بشپړتيا څخه په ګډه ساتنه او دفاع کوي.

د يوه هېواد نفوس هغه انساني ګروپونه يا د وګړو مجموعه ده چې په يوه وخت کې په يوه مستقيمه او ټاکلې سيمه کې اوسي. دغه ټاکلې سيمه، کلی، ولسوالي، ولايت او ټول هېواد دی.

د يو هېواد ټول اوسېدونکي د هغه هېواد نفوس بلل کېږي، نو د هېواد د هر اصلي اوسېدونکي نوم بايد د نفوسو د احوال په څانګه کې ثبت وي. دا کار هاله شونی دی چې د هېواد ټول اوسېدونکي لوی او واړه، نر او ښځې د تابعيت تذکره يا پېژند پاڼه واخلي.

لومړۍ محاوره: (بريالی او مليار)

بريالی: ملياره وروه! السلام عليکم، ستړی مه شې.

مليار: وعليکم السلام، برياليه وروره.

بريالی: خير خو دی، چېرته ځې؟

مليار: ځم چې ورور مې په ښوونځي کې داخل کړم.

بريالی: مليار جانه، ستا ورور تذکره لري؟

مليار: نه، تر اوسه مو ورته تذکره نه ده اخستې.

بريالی: له تذکرې پرته خو يې په ښوونځي کې نه شاملوي.

مليار: ولې؟

بريالی: ځکه چې په تذکره کې د يو چا ټول کوايف: (نوم، د پلار نوم، د نيکه نوم، کلی، ولسوالي، د زوکړې نېټه) ليکلي وي.

ملیار: بریالی جانه! د ورور نوم د پلار نوم او د زېږېدو نېټه به زه ورته ووایم.

بریالی: نه داسې نه ده، د ښوونځي سر ښوونکی د تذکرې له مخې کوچنیان شاملوي.

ملیار: ستا سره دې خدای ﷻ ډېر ښه وکړي، ښه شو چې پوه دې کړم.

بریالی: اوس خو مې په دې پوه کړه چې تذکره چېرته او څنګه اخستل کېږي؟

ملیار: له ورور سره دې یو ځای خپلې ولسوالۍ ته ورشه، خپله یا د خپل پلار تذکره دې هم له ځان سره یوسه.

بریالی: بیا څه وکړم؟

ملیار: یو غوښتنلیک د احصایې د آمریت له حکم سره سم د کلي په مشر یا ملک باندې تصدیق کړه.

بریالی: بیا څه وکړم؟

ملیار: نوره لارښوونه به درته د احصایې په آمریت کې وکړي.

دویمه محاوره: (حلیمه، زرغونه)

حلیمه: سلام او نېکې هیلې، زرغونې ستړې مه شې،

زرغونه: وعلیکم السلام

حلیمه: چېرته ځئ؟

زرغونه: نن سبا ښوونځي پیلېږي، ځم چې خور مې په ښوونځي کې شامله کړم.

حلیمه: ستا خور کوچنۍ ښکاري، د ښوونځي په منګ به نه وي؟

زرغونه: هغه هسې کوچنۍ ښکاري، که نه په تذکره کې اووه کلنه ده.

حلیمه: تاسو نجونو ته هم تذکرې اخستې دي؟

زرغونه: حلیمې خورې، دا خو کومه د حیرانتیا خبره نه ده. زموږ په کورنۍ کې نارینه او ښځو ټولو تذکرې اخستې دي.

حلیمه: نجونو ته د تذکرې اخستلو کومه اړتیا نشته.

زرغونه: داسې نه ده، تذکره د نارینه او ښځینه دواړو لپاره اړینه ده.

حلیمه: زمونږ په کورنۍ کې خو یوازې نارینه تذکرې لري. زه او خویندې مې یوه هم تذکره نه لرو.

زرغونه: اوس هغه وخت نه دی چې یوازې نارینه وو به تذکرې اخیستې، هغه به هم په ډېر مشکل د تذکرې اخستلو ته چمتو کېدل، تذکره خو زمونږ افغاني هویت ثابتوي.

حلیمه: زرغونې خورې، دا خو دې ډېره سمه خبره وکړه، مونږ هم تذکرې اخلو.

زرغونه: ستا دې خدای جَلَّ جَلَالُهُ مل شي، زه څم چې خپله خور په ښوونځي کې شامله کړم.

درېیمه محاوره: (تره او وراره)

وراره: السلام علیکم کاکا جانه!

تره: وعلیکم السلام، وراره ګله! ښتګه یې؟

وراره: ښه یم کاکا. ته ښتګه یې، چېرته روان یې؟

تره: څم، دې ماشومانو ته تذکرې اخلم.

وراره: کاکا جانه! تذکرې چېرته اخیستل کېږي؟

تره: تذکرې خو په ولسوالۍ کې اخستل کېږي او د تذکرې اخستلو پر مهال باید تذکره اخستونکی حاضر وي.

وراره: ولې کاکا جانه، په غیاب کې څوک چاته تذکره نشي اخستلای؟

تره: نه زویکه! په تذکره کې خو په شهرت سر بېره د تذکره اخستونکي عمر هم ټاکل کېږي.

وراره: تذکره ولې اړینه ده؟

تره: تذکره خو د هر چا د پېژندنې پاڼه ده، هر چېرته او هر وخت په کاربرېږي، په ښوونځي کې د شمول لپاره هم.

وراره: کله چې دې اولادونو ته تذکره واخیسته بیا څه کوې؟

تره: اشکک او ملالۍ ښوونځي کې شاملوم.

وراره: ډېره ښه ده، کاکا جانه، په خیر لاړ شې. دا کار ژر وکړه چې زما د ښوونځي ملګري پیدا شي.

تره: محموده زويه! دادی تذکرې مې واخيستې، اوس را ته ووايه چې اخګک او ملالۍ په کوم ښوونځي کې داخل کړم؟

محمود: کاکا جانه، د سيد جمال الدين افغان په تجربوي ښوونځي کې يې داخل کړه، زما سره به يو ځای ښوونځي ته ځي. بله دا چې هلته د نجونو او هلکانو ټولګي سره جلا دي

کاکا: دوی خو له ژبې سره نا بلده دي.

محمود: کاکا جانه! زموږ په ښوونځي کې زده کوونکو ته په خپله مورنۍ ژبه زده کړه ورکول کېږي.

کاکا: چې داسې ده، دا دی همدا اوس د ښوونځي له سر ښوونکي سره ګورم.

د متن لنډيز:

افغانستان زموږ ګډ کور دی. په دې کور کې ګڼ قومونه سره يو ځای ژوند کوي. دا قومونه په ګڼو سيمو، کليو، ولسواليو او ولايتونو کې مېشته دي. ټول يو له بله سره ورونه او د يو هېواد نفوس جوړوي.

د افغان هېواد هر اوسېدونکی بايد د خپل هيواد د تابعيت پېژند پاڼه ولري. په همدغې تذکرې او پېژند پاڼې سره د يو چا اصلي هويت ثابتېږي.

د يوې سيمې اوسېدونکو ته، تذکرې او پېژند پاڼې د اړوندې ولسوالۍ او ولايت له خوا ورکول کېږي. د کورنۍ مشر بايد د خپلې کورنۍ غړو ته تذکرې واخلي چې نومونه يې د احصايې په دفتر کې ثبت او د هغې له مخې د هېواد د نفوسو سمه شمېره معلومه شي.

فعالیتونه

۱_ یو یو زده کوونکی دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او د خپل ښنګ ملګری دې معرفي کړي.

۲_ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او لاندې خبرې اترې دې تکرار کړي:

بارک: خوازکه ستړې مه شې، چېرته ځې؟

خوازک: خوار مه شې بارکه! د ناحيې دفتر ته ځم.

بارک: د ناحيې دفتر ته د څه لپاره ځې؟

خوازک: کوچني ورور ته مې پېژند پاڼه اخلم.

۳_ څلور تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي، د پیژند پاڼې د اړتیا په اړه دې خبرې وکړي.

٤_ زده کوونکي دې لاندې مفردو نومونو ته د جمعې بڼې په پنسل ولیکي:

۱_ نجلۍ ۲_ تره ۳_ تذکره ٤_ وراره

۵_ ښوونځی ٦_ خبره ۷_ وخت ۸_ کلی

۹_ ته ۱۰_ ولایت

۵_ څو تنه زده کوونکي دې د تختې پر مخ لاندې لغات په جملو کې استعمال کړي:

۱_ ښنګ ۲_ ګڼ ۳_ اړتیا ٤_ پیژند پاڼه

۵_ اړین ٦_ جلا ۷_ خوینديي ۸_ مهال

٦_ دوه تنه زده کوونکي دې د درس لنډ مطلب بیان کړي.

کورنی دنده

هر زده کوونکی دې د خپل چاپېریال په اړوند د خبرو اترو په شکل یوه مرکه ترتیب کړي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې ووایي.

د پښتو د نثر مخینه (تاریخچه)



د هرې ژبې نثر او نظم یو تاریخي مخینه لري.

پښتو ژبه هم له دې ادبي نعمت څخه برخمنه ده، هم د نثر تاریخ لري هم د نظم.

نثر او نظم دواړه د مفکورو او مفاهیمو د لېږدولو وسیلې دي.

نثرد نظم په پرتله ډېرکارول کېږي، لامل یې د هغې اساني ده.

لیکونکي او ویونکي کولای شي هر ډول پېچلي موضوعات په څرګنده ژبه په نثر کې بیان کړي. په دې لوست کې به د پښتو ژبې د نثر تاریخ په اړه معلومات ولولئ.

ـ نثر او نظم څه توپیر لري؟

د ادبپوهانو په نظر نثر یوه عربي کلمه ده، په لغت کې شیندلو او تیتولو ته وایي، اصطلاحاً

هغه وينا يا معنا داره ليکنه ده چې له وزن، قافيې او رديف څخه أزاده وي.

جوته ده چې د ژبې اساس په نثر ايښودل شوی دی، خو د ليکني اثارو له مخې د نظم تاريخ تر نثر لرغونی دی.

د ليک له پيدا کېدو د مخه په حافظه کې د يو شمېر موضوعګانو ساتل د نثر په پرتله په نظم کې اسانه وو. دا خبره نه يوازې په پښتو او دري کې ريښتينې ده، بلکې د نړۍ ټولې ژبې همداسې دي.

د اريايي ولس شاعرانو به تل خپل ديني، ټولنيز، جنګي او حماسي اشعار او موضوعګانې په منظوم ډول ليکلې.

پښتو هم يوه لرغونې اريايي ژبه ده، د نظم تاريخ يې تر نثر لرغونی دی، يعنې د لاس ته راغلو بېلګو له مخې يې د نظم پيل په ۱۳۹هـ. کې د امير کروړ له يو نظم شوی دی. کېدای شي پښتو نظم تر دې هم لرغونی وي.

د پښتو ژبې لومړنی نثر د محمد هاشم سروانې کتاب د (سالو وږمه) دی.

دا کتاب ابو محمد هاشم ابن زيد سروانې په درېمه هجري پېړۍ کې د عربي ژبې د فصاحت او بلاغت په باب کښلی، خو له بده مرغه ددغه کتاب کومه نمونه په لاس کې نشته.

له ابو محمد هاشم نه وروسته د پښتو په نثر ليکونکو کې چې د چا نامه يادولای شو، هغه د بارک خان صابزي ماکو زوی سليمان ماکو دی.

سليمان ماکو تر شعر څخه په نثر ښې ليکنې کولای شوې. دی يو ګرځنده سړی و. د پښتونخوا په ګڼو علاقو ګرځېدلی و. د خپلې زمانې مشهور اولياء، روحاني او ادبي کسان يې ليدلي وو. د دغو کسانو احوال، وينا او اشعار يې په (تذکرة الاولياء) نومي اثر کې را غونډ کړي.

د پښتو نثر تر لاسه شوې نمونه په اوومې هجرې پېړۍ کې د سليمان ماکو ((تذکرة الاولياء)) د کتاب يو څو پاڼې دي.

د تذکرة الاولیاء نثر د پښتو خپل طبیعي نثر بللی شو چې له محاورې نه ډېر لرې نه دی او د عربي او دري اغېز پرې لږ دی.

تر دې را وروسته په لسمه پېړۍ کې د پښتو نثر دوه بهیرونه را منځته کېږي.

یو د مسجع نثر را منځته کېدل دي چې د پښتنو ملي، سیاسي تصوفي او ادبي مشر بایزید روښان (۹۲۶_۹۸۵هـ.ق.) یې بنسټ کېښود او خپل کتاب خیرالبیان یې پرې وکښو.

بل د مسجع او متکلف نثر له را منځته کولو سره سره د پښتو طبیعي او روان نثر هم دوام درلود چې د بایزید روښان مرید، ارزاني په خپلو آثارو کې روان نثر لیکلو ته دوام ورکړ او د مسجع نثر لاره یې خپله نه کړه.

تر دوی وروسته د خوشحال بابا نثري لیکنې ته را رسېږو.

له لسمې هجري پېړۍ نه وروسته د پښتو نثر لمن پراخه شوې ده او هر ډول مضامین او کتابونه پکې شته. د نثر په لیکدود کې هم زیات تغییر راغلی دی او د ساده نثر رواج بیا قوت موندلی دی. د دې دورې لوی علمبردار او لارښود خوشحال خان خټک دی.

خوشحال خان خټک پښتو نثر په نوي قوت او ځواک لیکي، موضوعي تنوع ورکوي، رواني او ښکلا یې زیاتېږي او د یو روان نثر بنسټ ږدي.

دستارنامه د خوشحال یو نثري اثر دی، نثر یې تر ډېره حده روان او ساده دی، جملې یې لنډې لنډې دي، سجع پکې ډېره نشته. د پښتو نثر په دغه دوره کې د خوشحال خټک او د خټکو د کورنۍ لویه کارنامه دا ده چې د پښتو نثر یې په رښتیا نثر کړ، په نثر کې یې خوږوالی، رواني او ساده ګي راوسته.

نو ویلی شو چې د خوشحال خټک نثر د پښتو د اوسني نثر چې پرمختیایي پړاوونه یې وهلي د بنسټ پخه خښته ده.

د پښتو نثر اوسنۍ دوره چې له (۱۳۰۰هـ.ل.) څخه را شروع کېږي او تر اوسه پورې رارسېږي د پښتو نثر د ښه توب، ډېر والي، نوښت او پراختیا له پلوه بډایه دوره ده.

د پښتو نثر په دې دوره کې د شکل او موضوع له پلوه پوره بدلون او توپیر راغلی دی، د

نوې زمانې نوي فکرونه او خیالونه، بدیعي او هنري نثرونه او هر ډول موضوعګانې په دې دوره کې د نثر په قالب کې ځای شوي او د پښتو نثر دنیا یې رنګینه کړې ده.

د دې دورې د لومړۍ برخې د نومیالیو لیکوالانو څخه، مولوي احمد، منشي احمد جان او قاضي میراحمد شاه رضواني یادولی شو چې د پښتو په نثر کې د یو نوي سبک او لیک ډول اساس ایښی دی. دوی د پښتو نثر د لیکلو ډول د ولس له محاورې سره نژدې کړ. پښتو متلونه او خوږې محاورې او اصطلاحګانې په پښتو نثر کې د دوی ښه هنر نمایي ده. مولوي احمد د (ګنج پښتو) په نامه په نثر یو کتاب ولیکه.

قاضي میر احمد شاه رضواني د ((بهارستان افغاني)) او ((شکرستان افغاني)) په نامه کتابونه چې زیاتره درسي بڼه لري، ولیکل. منشي احمد جان د ((هغه دغه)) د ((قصه خانی ګپ)) په لیکلو د پښتو د نثر خوند یو په دوه زیات کړ. په افغانستان کې ددې دورې د نثر پاخه لیکونکي: مولوي عبدالواسع کندهاری، مولوي صالح محمد، عبدالهادي داوي، محمد ګل مومند او نور د یادولو وړ دي. د پښتو د معاصر او اوسني نثر د سرلارو لیکوالو په ډله کې د پوهاند عبدالحی حبیبي، قیام الدین خادم،ګل پاچا الفت، عبدالرؤوف بېنوا، پوهاند صدیق الله رښتین، پوهاند عبدالشکور رشاد او نورو نومونه هم د یادولو وړ دي. دوی نه یوازې ډېر اثرونه لیکلي، بلکې د پښتو د ښه او سپېڅلي نثر لپاره یې هم ډېر خدمت کړی دی. د بېلګې په ډول د خادم له نثري اثارو څخه ((خیالي دنیا))، ((پښتو نولي))، ((نوی ژوندون))، د ارواښاد الفت له اثارو څخه ((بله ډیوه))، ((غوره نثرونه)) ((لوړ خیالونه او ژور فکرونه))، د ارواښاد بېنوا ((د زړه خواله))، او د پوهاند رښتین له نثري اثارو څخه ((هند سفر))، ((د فکر پلوشې)) او نور یادولای شو.

د متن لنډیز:

د ژبې اساس په نثر ایښودل شوی دی، مګر په حافظه کې د ساتلو لپاره نظم تر نثر اسانه و. په پښتو ژبه کې د لیکنې اثارو له مخې د نظم تاریخ تر نثر لرغونی دی.

د پښتو ژبې لومړنی نثر د ابو محمد هاشم کتاب د ((سالو وږمه)) دی، خو له بده مرغه ددغه کتاب د نثر کومه نمونه په لاس کې نشته.

د ابو محمد هاشم د سالو وږمې نه ورسته په (۶۱۲هـ.ق.) کې د سلیمان ماکو د تذکرةلاولیاء خو تر لاسه شوې پاڼې دي چې د پښتو د لومړني دور نثر نمونې پکې خوندي شوې دي.

د دې خو پاڼو تر لوستلو او څېړنو وروسته باید وویل شي چې دغه ډېر قوي نثر دی او دا ترې جوتېږي چې تر دې د مخه دې هم په پښتو کې د نثر زیات کتابونه لیکل شوي وي.

په لسمه هجري پېړۍ کې په پښتو ادب کې مسجع او مصنوع نثر را منځته شو چې علمبردار یې بایزید روښان و او خپل کتاب خیرالبیان یې په همدې نثر ولیکه. له لسمې هجري پیړۍ نه وروسته د پښتو نثر لمن ډېره پراخه شوې ده، هر ډول مضامین او کتابونه پکې لیکل شوي دي، په لیکدود کې یې هم زیات تغییر راغلی دی، د مسجع نثر پر ځای د ساده نثر رواج بیا قوت موندلی دی. د دې دورې لوی علمبردار او لارښود خوشحال ختټک دی. ددغې دورې د نثر مشهور کتابونه دستار نامه، بیاض، ګلدسته، تاریخ مرصع او نور دي. د پښتو معاصر نثر چې له ۱۳۰۰هـ. څخه پیلیږي او تر ننه را رسیږي، د نثر د دې دورې بنسټ ایښودونکو څخه مولوي احمد، منشي احمد جان، قاضي میر احمد شاه رضواني او نور دي. په افغانستان کې د معاصر نثر له سرلارو څخه د پوهاند حبیبي، پوهاند رښتین، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، بېنوا، پوهاند رشاد او نورو نومونه د یادولو وړ دي.

فعالیتونه

۱ــ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره د پښتو نثر د تاریخ په هکله خپل نظر ووایي.

۲ــ زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د پښتو نثر د یو ځانګړي پېر ځانګړتیاوې ولیکي. د ډلې استازی دې د خپلې ډلې نظر ووایي.

۳ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او بیا دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

د پښتو لومړی نثري اثر کوم دی؟

د پښتو لومړنی لاس ته راغلی نثري اثر په کوم کال لیکل شوی؟

د سلیمان ماکو د نثر عمده ځانګړنې کومې دي؟

په پښتو ادب کې د مسجع نثر علمبردار څوک دی؟

خیرالبیان د چا اثر دی او د نثر ډول یې څنګه دی؟

پښتو معاصر نثر له کومه وخته را پیلېږي؟

د غوره نثرونو لیکوال څوک دی؟

٤ــ زده کوونکي دې پخپل منځ کې یو له بل سره خبرې وکړي، هر زده کوونکی دې لومړی خپل ځان په څو لنډو جملو کې نورو ته ورویپژني او بیا دې د هرې دورې د نثر د خصوصیاتو په اړه ترې معلومات وغواړي.

۵ــ زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي، په پښتو نثر کې د لیکلو کتابونو نومونه دې په توره تخته ولیکي.

٦ــ څو تنه زده کوونکي دې د لوست لنډیز او مطلب نورو ټولګیوالو ته بیان کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پښتو نثر د ودې په اړه یوه مقاله ولیکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې ټولګیوالو ته ووایي.

شعر

هر ژوندی ولس شعر او ادب لري. لیکوال او شاعران لري. شعر د انسان په خټه کې اخښل شوی. کله چې انسان په ښو او بدو پوهېدلی، نو په شعر ویلو یې پیل کړی دی.

شعر د معنا، مفهوم او ظاهري بڼې په لحاظ د ژوند له تغییر او تحول سره ځان بدل کړی دی. شعر او ادب د انسان د ژوند انځور دی. کله چې انساني ژوندود او کلتور تغییر کوي، نو شعر او ادب هم ورسره بدلون مومي. په دې لوست کې به د شعر په اړه معلومات ولولئ.

شعر څه ډول کلام یا وینا ده؟

ادبيات د محتوا له مخې په تخليقي او تحقيقي دوو سترو برخو وېشل کېږي. شعر او هنري نثر تخليقي ادب دی. دا دواړه د ادب مهمې برخې دي. په دې فورم کې ډول ډول موضوعات، ټولنيز واقعيتونه او حقايق په منظومه او منثوره ژبه څرګندېږي. شعر د نورو علومو په څېر کوم ځانګړی او مشخص تعريف نه لري، هر څوک يې په پېژندنه، تحليل او سپړنه کې تر ډېره حده له خپل ذوق نه کار اخلي. له همدې امله يې تر اوسه داسې تعريف نشته چې د ټولو لپاره يو شان د منلو او تاييد وړ وي. ادبپوهان د شعر د پېژندنې لپاره بېلابېل نظريات اوتعبيرونه لري، څو يې په لاندې ډول در پېژنو:

شعر عربي کلمه ده او هغې ادبي وينا ته ويل کېږي چې د وېونکي عواطف او تخيل بيان کړي. سپېڅلې خوندورې وينا ته چې وزن او قافيه ولري، شعر ويل کېږي. شعر له هغو لطيفو او نازکو احساساتو او تخيلاتو څخه عبارت دی چې د موزونو او رنګينو الفاظو په جامه کې راوړل شي. شعر هغه وينا ده چې الفاظ يې ښکلي وي او وېونکی پکې فکر، پوهه، ذوق، د زړه هېجان او د روح اغېزه سره ګډه کړي. د اهنګ لرونکو عبارتونو په واسطه د واقعيت تخيلي او بياځلي (تکراري) انځورولو ته شعر ويل کېږي. شعر هغه وزن لرونکې وينا ده چې په انساني عواطفو او احساساتو کې خوځښت پيدا کوي. دغسې د شعر په لسګونو نور تعريفونو او تحليلونه شته.

که پورته يادو شوو تعريفونو ته په ځير وګورو، تخيل، جذبات، احساسات، ښکلا، عواطف، خوند، مفکوره، وزن و اهنګ پکې هغه مشترک ټکي دي چې ادبپوهان يې د يوې وينا د شعريت معيارونه ګڼي. ځينو د وزن تر څنګ قافيه هم د شعر د اساسي رکن په حيث بللې ده، خو اوس د نويو ازادو بې قافيې شعرونو په را منځته کېدو سره ثابته شوې چې قافيه د شعر اساسي توکی نه، بلکې يو عارضي يا فرعي رکن دی.

په دې توګه ويلای شو:

شعر د ټولنيزو واقعيتونو غبرګون دی. شاعر له خپل چاپېريال څخه اغېزمن کېږي، د ټولنې هرې پيښې ته په حقيقي او واقعي سترګه ګوري او د هرې پېښې اصل او بنياد را سپړي. په داسې ښکلې ژبه يې وړاندې کوي او داسې په زړه پورې يې تمثيلوي چې د

اوریدونکو او لوستونکو احساسات را وپاروي او پر احساساتو یې راولي.

دلته به د نوي او ازاد شعر یوه بېلګه ولولو:

زه مسافر یم خو لار ورکی نه یم
ما د رڼو کروندو لار لیدلې
زه هغه وریځې په سکروټو ولم
چې د ځنګله د کمیسه پولوته
د نیمو شپو ترانې لونې
زه مسافر یم خو لار ورکی نه یم
ما د سپیدو په لوري پل ایښی دی
زه د ایمان او ارادې په ګوتو
د توري شپې ګرېوان ته لاس اچوم
او د انسان د ازادۍ کوترې
د شنه اسمان لوري ته الوزوم
زه مسافر یم خو لار ورکی نه یم
په منده منده د یار کلي ته ځم
هلته تودوخه او رڼا ډېره ده
زه به لمر بوځمه د یار کلي ته
چې یخ وهلې ځمکه وغوړېږي
او چمن وخاندي
او په سپېرو شونډو کې
د امیدونو موسکا ونخښېږي
(...)

دویمه بیلګه:

دا زمـــــوږ زیـــبـــا وطـــن
دا زمـــــوږ لـــېـــلا وطـــن
دا وطـــــن مـــو ځـــــان دی
دا افـــغـــانـــســـتـــان دی
دا د مـیـنـې کــــور زمــــوږ
دا د پـــلـــرو ګــــور زمـــوږ
نـــــه ورکـــــــوو چـــــا لـــره
دا د سـتـرګـو تــــور زمــــوږ
نـــه دی د بـــل چـــا وطـــن
دا دی د شـــبـــرشـــاه وطـــن
کـــور د خـوشـحـال خـــان دی
دا افـــغـــانـــســـتـــان دی
دا وطـــــن دی ځــــان زمــــوږ
دا وطـــــن ایـــمــــان زمــــوږ
وایـــــــی پـــــه خـــاپـــوړوکـې
داســــې مــــاشــــومــــان زمــــوږ
دا مــــــو د بـــابـــا وطـــن
دا مـــــو د دادا وطـــن
پـــه مـــوږ بـــانـــدې ډېـــر ګـــران دی
دا افـــغـــاانـــســـتـــان دی
ځــــاریـــې لـــه ســیــنــدونــو شـم
ځـــــاریــــې لــــه ډاګـــونـــو شـم
ځـــــاریــــې لــــه خـــوړونـــو شـم

څار یې له دې غرونو شم
دا زمونږ اشنا وطن
زړګی مې پرې روښان دی
دا افغانستان دی

دا وطن زیارت زمونږ
دا وطن نعمت زمونږ
دا وطن په دې دنیا
دی لکه جنت زمونږ
دا وطن صفا وطن
زړه د اسیا وطن
ژوندون د ملنګ جان دی
دا افغانستان دی

د شاعر لنډه پېژندګلوي:

اروابناد ملنګ جان په ۱۲۹۳ لمریز کال د ننګرهار ولایت په بهسودو کې زېږېدلی دی. پلار یې ملك عبدالشکور نومېده چې په درې کلنۍ کې ترې یتیم پاتې شو. د ملنګ جان لومړنی نوم محمد امین و. وروسته امین جان او په پای کې ملنګ جان شو. پنځلس کلن و چې د شعر ژبه یې ویانده شوه اوپه خوږو نغمو یې پیل وکړ. په ۱۳۳۶ لمریز کال د لړم په لسمه چې کله له کابله ننګرهار ته له خپلې کورنۍ سره را روان و، د لته بند په کږلېچونو کې د موټر د اوښتلو له امله له خپل یوازیني درې کلن زوی، دواجان سره مړ شو.

د متن لنډیز:

ادبیات د محتوا له مخې په تحقیقي او تخلیقي برخو باندې وېشل کېږي. شعر او هنري نثر تخلیقي ادب دی چې دا دواړه د یو ولس د ادب مهمې برخې دي او د هغه ولس د هویت ځرګندونه کوي. شاعر او لیکوال له خپل چاپېریال څخه اغېزمن کېږي، ټولنیز واقعیتونه په اهنګواله ژبه په خپل شعر کې ځرګندوي، د ټولنې هرې پیښې ته د زړه په سترګو ګوري او په ښکلو، رنګینو او موزونو ویناوو کې یې نغاړي. پخوا شعر موزون او مقفٰی کلام بلل کېده او د وزن تر څنګ یې قافیه د شعر اړین توکی باله، مګر د نوي او ازاد شعر په را منځته کېدو دا جوته شوه چې قافیه په شعر کې یو عارضي رکن دی، نه اصلي. د شعر لپاره اړین توکي: اهنګ، وزن، مفکوره، تخیل، احساس او عاطفه دي. (زه مسافر یم خو لار ورکی نه یم) تردې سرلیک لاندې د ازاد شعر یوه ښکلې بېلګه ده چې هم خوند لري او هم جاذبه، هم شعریت پکې دی او هم موسیقي. له ښکلې او انساني عاطفې ډکه ده او د حال د ښه بیان په ترڅ کې د ښې راتلونکې هیله هم پالي او لوستونکي ته یو نوی تصویر هم په لاس کې ورکوي. دویمه بېلګه شعر چې په کلاسیک قالب کې مرحوم ملنګ جان ویلی دی. شاعر پخپل شعري کلام خپل وطن زیبا بللی، خپل وطن خپله لیلا او معشوقه ګڼي دا له نیکونو او پلرونو نه په میراث پاتې وطن به د زړه په وینو سمسورو او په مېړانه به یې ساتنه کوو...

فعالیتونه

۲ــ خو تنه زده کوونکي دې په وار سره له متن څخه د شعر یو یو بند په لوړ اواز ووایي.

۳ــ له زده کوونکو څخه دې څو ډلې جوړې شي، د هرې ډلې یو غړی دې د شعر یو

بند ولولي او د بلې ډلې غړی دې هماغه لوستل شوی متن معنا کړي.

٤ـ زده کوونکي دې شعري متن په پټه خوله ولولي او د تشبیه ارکان دې پکې وښيي.

٥ـ زده کوونکي دې د تختې په مخ لاندې لغات معنا او په مناسبو جملو کې استعمال کړي:

ایجاد، ویاند، چاپېریال، بیا ځلي، شفا، موسکا، مخیل، لونل، پل، تودوخه.

٦ـ څو تنه زده کوونکي دې د شعر مفهوم په څو جملو کې د ټولګي په وړاندې ووايي.

٧ـ دوه دوه تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي، د لوستل شوي متن په اړه دې په خپل منځ کې خبرې وکړي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې د لومړۍ او دویمې بېلګې شعرونو لنډيز په څو کرښو کې په روان نثر ولیکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې ټولګیوالو ته ووايي.

لاندې شعر ولولئ او خوند ترې واخلئ:

هـر مـلـخـې د سـربـازۍ لـه هـنـر څـه زده
چـې پـه دا هـنـر کـې سـر ښـنـدې پـتـنـګ د ی
لا تـر اوســه یـې مـاغـزه پـه کـرار نـه دي
چـا چـې مـا سـره و هـلـې سـر پـه سـنـګ دی
لا پـه خـوب کـې پـه لـړزه پـرېـوزي لـه کټه
چـې د چـا تـر غـوږ زمـا د تـورې شـرنـګ دی
کـه پـه دا دور مـې ګـورې هـغـه زه یم
چـې مـې داغ پـه خـاطـر ایـښـی دا ورنـګ دی
درســت جـهـان مـې و مـغـلـو تـه خـیـبـر کړ
ځـای ځـای یـې پـښـتـانـه وتـه قـلـنـګ دی
خوشحال خان خټک

نیکمرغه هغه څوک دی چې له خپلې هرې خطا څخه نوې تجربه تر لاسه کړي.
((سقراط))

پښتو ادبیاتو دویمه (منځنۍ) تاریخي دوره

د هرې ژبې ادب پر دوو ډولونو (شفاهي او لیکني) باندې وېشل کېږي. پښتو هم له هغو یادو ژبو څخه ده چې لرغونی ګړنی (شفاهي) او لیکني (تحریري) ادب لري. شفاهي ادبیات د ټولنو له را منځته کېدو سره سم را منځته شوي دي. هره یوه ټولنه خپل دود، رسم، رواج او فرهنګ د ولسي ادبیاتو په هنداره کې نورو ته ورښیي. د شفاهي ادبیاتو پیل نشي څرګندېدای، خو لیکلي ادبیات هرو مرو له یو تاریخي پړاو سره تړاو لري. که موږ د پښتو لیکلو ادبیاتو په اړه خبرې کوو، نو باید کره لاسوندي یې ولرو چې له بده مرغه زیات شمېر یې د ځینو لاملونو له امله په لاس کې نشته. بیا هم د پښتو لیکني ادب د لاښې پېژندنې لپاره پښتو ادبیات په درېو دورو:

(لرغونې، منځنۍ یا کلاسیکه، معاصره) باندې وېشل شوي دي. په لسم ټولګي کې مو د پښتو ادبیاتو په لرغونې دورې خبرې کړې دي. د درېمې یا معاصرې دورې په اړه به په دولسم ټولګي کې معلومات تر لاسه کړو. دلته د پښتو ادب په منځنۍ دورې باندې غږېږو.

د پښتو ادبیاتو دویمې تاریخي دورې د پیل او پای په اړه څه پوهېږئ؟

د پښتو ادبیاتو دویمه دوره چې د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ او کلاسیکه دوره هم ورته ویلای شو، د لسمې هجري پېړۍ له نیمایي پیلېږي او د څوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړیو دریو لسیزو پورې را رسېږي. د پښتو ادبیاتو دا دوره د پښتو ادب په تاریخ کې ورځای لري. په دې دوره کې پښتو ادبیات د افغانستان، پښتونخوا او هند په سیمو کې له ځینو ملي، مذهبي او پښتني غورځنګونو سره په تړاو را ټوکېږي او وده کوي. د سیمې د هغه مهال فرهنګي ادبي جریانونه پر پښتو ادبیاتو خپل اغېز ښندي او د همدغو جریانونو په پیروۍ په پښتو ادب کې ځانګړي سبکونه پیدا کېږي او خپل ځانګړي پېروان مومي.

د لومړۍ ادبي دورې په پرتله د دې دورې یوه ستره ځانګړنه دا ده چې موږ یې بشپړ او مکمل ادبي او فرهنګي اثار په لاس کې لرو. په دې دورې پورې اړوند په سلګونو پښتو دېوانونه، کیسه ییز اثار او په زرګونو ولسي سندرې زموږ سره شته چې د پښتو د ادبي تاریخ د یوې سترې پانګې په توګه هر اړخیز بحثونه پرې کولای شو.

په دې دوره کې له ګاونډیو ژبو سره د پښتو ادبیاتو تړون هم پراختیا مومي. له عربي، فارسي او هندي ژبو څخه پښتو او له پښتو څخه ځینو دغو ژبو ته د اثارو د راکړې ورکړې مسئله هم خپلو لوړو پړاوونو ته خېژي. د پښتو ادبیاتو دویمه دوره له روښاني غورځنګه پیل او همداسې پسې په اخوند درویزه او د ده پر پېروانو، بیا د خوشحال خټک، رحمان بابا، هوتکیانو او د احمد شاهي پېر تر نورو فکري او فرهنګي بهیرونو رارسېږي.

د روښانیانو او اخوند درویزه دواړو په اثارو کې عرفان (تصوف) او د عرفاني لارو د بنسټونو په خپلولو سره ځان الهي ذات ته نژدې کول، د نفس تزکیه، د زړه سپېځلتیا، د اسلام د مقدس دین د اساساتو بیان، د اسلام د دین د لاربښوونو په رڼا کې د خلکو اخلاقي روزنه پندونه، نصایح او نور دې ته ورته مطالب د دې ډلو له خوا په لیکل شوو، ژباړل شوو او پنځېدلو اثارو کې لیدل کېږي. د اهدافو همدا ورته والی موږ دې ته اړ باسي چې د دغو دواړو ډلو اثار په یوه پړاو کې وڅېړو او د دویمې ادبي دورې د لومړي پړاو نوم پرې کېښږدو.

خيرالبيان او مخزن الاسلام د دې پړاو دوه مشهور کتابونه دي چې په مسجع نثر ليکل شوي دي او له لرغونې دورې څخه يې يوه ځانګړې لار غوره کړې ده. مقصودالمؤمنين، صراط التوحيد، فخرالطالبين، حالنامه، د پښتو رسم الخط د بايزيد روښان نور اثار دي چې په همدې دوره کې ليکل شوي دي. د دې پړاو په منثورو اثارو کې پر نورو سربېره د علي محمد مخلص او ارزاني روښاني رسالې د يادولو وړ دي. د دې رسالو نثرونه سجع نه لري او د هغه وخت له شرايطو سره سم روان نثر بلل کېدای شي. د دې پړاو په اشعارو کې غزلې، قصيدې، رباعي، مثنوي، قطعې، مربع او مخمس اشعار پيدا کېږي. په دې شعرونو کې مربع او مخمس داسې شعري انواع دي چې په لومړۍ ادبي دوره کې يې څرک نشو ايستلای. د دې پړاو زياتره ليکوال او شاعران له خو ژبو لکه پارسي، پښتو، عربي او هندي سره اشنا دي، په دغو ليکوالو کې ځينو پر پښتو سربېره په هندي، پارسي او عربي ژبو هم اثار ليکلي دي چې له نورو فرهنګونو سره د پښتو ليکوالو تړاو ځني څرګندېږي. ارزاني خويشکی، واصل روښاني، خواجه محمد، کريمداد بنګښ، علي محمد مخلص، دولت لواڼی، قادر داد، اخوند درويزه، محمد حليم، عبدالسلام، اخوند احمد، بابو جان، شيخ محمد سعيد او په لسګونو نور د دې پړاو شاعران او ليکوالان بلل کېږي. خوشحال خان خټک او د ده لاروياندې دورې بل پړاو جوړوي.

خوشحال نه يوازې د خپل وخت يو ټولنيز سياسي شخصيت او بريالی سالار و. بلکې دی د پښتو ژبې يو داسې شاعر او ليکوال و چې که ووايو د پښتو ادب تاريخ دده له نامه او اثارو پرته نيمګړی دی، نو زياتی به نه وي.

خوشحال خټک پښتو ژبې او ادب ته په نظم او نثر کې هغه څه ورکړل چې تر ده د مخه او وروسته يې ښايي ساری ډېر لږ وګورو. خوشحال خان د خپل هنر او خپلې ژبې د لفظي او معنوي بډايتوب لپاره د ګاونډيو ژبو له ادبي زمينو څخه پوره ګټه واخيسته، پښتو شعر يې د شکل او شعري ژانرونو له پلوه بډای کړ او په موضوعي لحاظ يې داسې څه پرې نه ښودل چې شعر يې پکې نه وي ويلی. ده د فارسي ژبې ټول قالبونه لکه: (مثنوی، غزل، قصيده،

رباعي، مخمس او نور) لفظي او معنوي صنايع په پښتو ادب کې راوستل. د مضمون له پلوه د ده په اثارو کې ډېر زيات نوښتونه ليدل کېږي چې د هغه وخت په شرايطو کې ساری نه لري. په دې پړاو کې د پښتو ادب ځينې اړخونه د پښتو له ټولنيز ژوند څخه رنګ اخلي. د پښتو غزل د ختيځ غزل له پېژندنې سره سم ټولې هنري ښېګڼې خپلې کړې او پښتو بوللې هم د غوري دورې د بوللو رنګ او خوند وموند. د ختيځ ادب داستانونو هم پښتو ادب ته لار پيدا کړه، د فارسي او عربي ځينې اثار په پښتو وژباړل شول.

دا عصر يوازې د نظم د نهضت عصر نه دی، بلکې د نثر لمن هم په دې دوره کې پراختيا موندلې ده او د پير روښان د مسجع نثر له خصوصياتو څخه را اوښتی دی. د افکارو ژورتيا، د تخيل رنګيني او د قالبونو تنوع د منځنۍ ادبي دورې غوره ځانګړنې ګڼل کېږي. خوشحال تر درې سوو زيات اثار درلودل. د زماني له تاړاکه د هغه د راپاته شوو اثارو په ډله کې د شعرونو له کلياتو، فراقنامې، دستارنامې، بازنامې (منثور او منظومه) فالنامې، فضل نامې، طب نامې، بياض، ځنځيرۍ او سواتنامې نومونه يادولای شو. خوشحال خټک په پښتو ادبياتو کې يو ځانګړی سبک را منځته کړ. د ده د کورنۍ يو شمېر نورو شاعرانو د دغه سبک پيروي کړې ده.

اشرف خان هجري، عبدالقادر خټک، سکندر خان خټک، صدر خان خټک، ګوهر خان خټک، بي بي حليمه خټک، افضل خان خټک، قلندر، اشرف خليل او يو شمېر نور د خوشحال خان خټک د سبک پيروان دي.

د دې پړاو بل مخکښ رحمان بابا و. په يوولسمه پېړۍ کې د راپورته شوو شاعرانو په ډله کې يو هم عبدالرحمان مومند و چې پښتانه له ډېرې مينې او زياتې عقيدې ورته (بابا) وايي او په پښتني ولسونو کې د رحمان بابا په نامه مشهور دی. رحمان بابا د يو ځانګړي سبک خاوند دی. د ده سبک د خپلو ځانګړتياوو له مخې په ولسي او فرهنګي حلقو کې ډېر شهرت او محبوبيت وموند او د دولسمې، ديارلسمې او څوارلسمې پېړۍ شاعران په ده پسې روان شول. د رحمان بابا سبک پېچلتيا نه لري، ډېر طبيعي او ساده دی، د شعر د

الفاظو په ټاکلو کې زیار ایستل شوی دی؛ د شعر د خوند او رنګ لپاره یې ډېر ښکلي خو ساده او عام فهمه الفاظ غوره کړي دي. د واقعیتونو بیان ته زیات پام کېده، اخلاقي، عرفاني او نور ټولنیز مسایل پکې راغلي دي. په دې پړاو کې لس ګونه پښتانه شاعران را منځته شول چې د شعرونو پنځه دیوانونه یې درلودل. د دې پړاو شاعران زیاتره عالمان وو. د خپلې سیمې د ژبو له ادبیاتو سره یې اشنایي درلوده، له خپلې مورنۍ ژبې پرته یې په فارسي او هندي هم شاعري کوله. د رحمان بابا د سبک په پیروانو کې د یونس خیبري، مهین خلیل، معزالله مومند، اخوندګدا، حافظ الپوري، نجیب سر بندي، عبدالعظیم سواتي، میا نعیم متي زي او یو شمېر نورو نومونه یادولای شو.

هوتکیان او د دې دورې بل پړاو:

په کندهار کې د پښتو د ملي دولت جوړېدل او په شاهي دربار کې د پښتو د ودې د زمینې را منځته کېدل د دویمې دورې په را وروسته پړاو کې ټاکلی دریځ لري. کندهار د خپل جغرافیاوي موقعیت له مخې د لسمې او یوولسمې پېړۍ په جریان کې د ایران د صفوي او د هند مغولي امپراتورۍ تر منځ واقع شوی و.

د پښتو او فارسي ژبو یو شمېر اثار دغه مهال منځته راغلي دي چې د ځینو هغو په ایجاد او تالیف کې هوتکي پاچاهانو لاس درلودلی دی. په دې توګه د هېواد د فرهنګي تاریخ په لیکلو کې د دغه کورنۍ نوم لوړ ځای لري.

د میرویس نیکه مور، نازو انا، زوی، شاه حسین او لور، زینبه د پښتو ژبې شاعران وو، ریدي خان، حافظ نور محمد، داود هوتک، د پټې خزانې لیکوال محمد هوتک، یار محمد هوتک، ملا محمد یونس توخي، بابو جان، ملا نور محمد غلجی او په لسګونو نور د دې دورې وتلي شاعران او لیکوال دي. ((پټه خزانه)) د دې مهال یو ارزښتمن کتاب دی چې د دریوو خزانو په درلودلو د لرغونو او دهغه د خپل مهال زیات شمېر پښتانه نارینه او ښځینه لیکوال او شاعران او د هغوی د لیکنو بېلګې تر موږه را رسوي. همدارنګه د هوتکو د پاچاهۍ په مهال د پښتو د ولسي ادب ډېرې ښکلې بېلګې را منځته شوي چې

زموږ د ولسي شعر برخه يې بډايه کړې ده. په دې پړاو کې د پښتو د ليکلي ادب ځينې موضوعات له فولکلور څخه اخستل شوي دي. لکه د (شها او ګلان) نکل او يا د (اوبښ او سوبې) کيسه چې د پښتو د ولسي شعر په قالب کې يې نظم کړې دي. د يوولسمې پېړۍ په پيل او د دولسمې پيړۍ په لومړيو کې په هند کې د پارسي ژبې يو شمېر اوسېدونکو شاعرانو هغه نوي شعر ته لار ومونده چې د لسمې هجري پېړۍ په پيل کې را منځته شوی وه. دې سبک د هندي سبک په نامه شهرت وموند.

دې سبک د يوولسمې پېړۍ په شاوخوا کې پښتونخوا او د افغانستان سيمو ته هم لاره ومونده، همدغه مهال هندي سبک پښتو ادب ته لاره پيدا کړه چې په پښتو شاعرۍ کې د هندي سبک بنسټ ايښودونکی حميد مومند دی.

حميد د شعر ويلو ډېره ښه وړتيا درلوده او د تازه مضمون په پيدا کولو ښه ماهر و. خو هنر يې بيا دا و چې د هندي سبک بنسټونه يې په اعتدالي بڼه خپل کړي وو. د ده شاعرۍ د پښتو ژبې لفظي او معنوي ځانګړتياوې نه دي بايللې. حسين، قلندر، خانګل خليل، کامګار خټک، دوست محمد، علي خان مامنزی، حمدالله کاکا خېل، سليم، محمدي صاحب زاده، بېدل هشنغری، کاظم خان شېدا، محمد بياض، نور محمد نوري افغان او يو شمېر نور په پښتو ادب کې د هندي سبک پېروان دي چې نژدې هر يو يې د دېوان خاوند شاعر بللی شي. د پښتو ادبياتو د دويمې دورې په وروستي پړاو کې د احمدشاه بابا په کورنۍ کې د پښتو پالنه هم ځانته ځای لري.

احمد شاه بابا له خپلو سياسي، ټولنيزو او ملي خدمتونو سربېره د خپل هېواد فرهنګ لپاره هم نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. د پښتو او فارسي ژبو شاعران او ليکوال يې روزلي دي. خپله هم شاعر و، په پښتو ژبه ترې د شعرونو يو دېوان پاتې دی، د کورنۍ له غړو څخه يې تېمورشاه او شاه شجاع په پښتو شاعري کړې ده. په دربار کې يې وکيل الدوله، عبدالله جان پوپلزی هم د پښتو ژبې شاعر و.

پير محمد کاکړ د احمدشاه بابا د دربار يو بل شاعر و، دی د پښتو د ډېرو ښو شاعرانو

او لويو عالمانو په ليکه کې ولاړ سړی و، نوموړی د پښتو ژبې يو دېوان لري. د هغه دېوان د هنري ارزښتونو له پلوه د منني وړ دی. انځورونه يې ښکلي دي پر دې سربېره پير محمد کاکړ د (معرفت الافغاني) په نامه د پښتو ژبې يو گرامر هم ليکلی دی چې د پښتو نثر ښې نمونې پکې خوندي دي.

شمس الدين کاکړ د هغه د سبک له پېروانو له ډلې څخه و. حافظ گل محمد مرغزی د احمدشاهي دوران يو بل شاعر و، نوموړی له احمدشاه بابا سره په لښکري سفرونو کې ملگری و. مرغزي احمدشاهي شاهنامه ليکلې ده، په شاهنامه کې د احمدشاه بابا د (١٦) کلونو ځينې پېښې بيان شوي دي. په دې پېر کې يو شمېر نور شاعران هم تېر شوي چې حبيب الله، ملا علم اپريدی، ابوالقاسم او يو شمېر نور يې د پښتو دېوانونو خاوندان وو.

د متن لنډيز:

د پښتو ادبياتو منځنی يا دويمه دوره د لسمې هجري پېړۍ له نيمايي پېلېږي او د خوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړيو دوو لسيزو پورې را رسېږي.

په دې دورې پورې اړوند ادبي اثار د يوې سترې پانگې په توگه زموږ په واک دي چې هر اړخيز بحثونه پرې کولای شو.

دا دوره له روښاني غورځنگه پيل او همداسې پسې پراخوند درويزه او د ده په پېروانو، خوشحال خټک، رحمان بابا، حميد مومند، د هوتکو او احمدشاهي پېر تر نورو فکري او فرهنگي بهيرونو رارسېږي، تر هغه چې دا دوره پای ته ورسېږي او ځای يې دريمه ادبي (معاصره) دوره ونيسي. د پښتو ادبياتو په دې دوره کې دوه لوی سياسي او ادبي نهضتونه تېر شوي دي، يو روښاني ملي نهضت دی چې سر لاری يې بايزيد روښان و او بل خوشحال خان او د هغه د کورنۍ ادبي او ملي نهضت و چې بنسټ ايښودونکی يې د پښتو ژبې او ادب پلار خوشحال خان خټک و. د روښاني نهضت يوه لويه ځانگړتيا دا وه چې په هغه وخت کې روښان او پلويانو يې په پښتنو کې سياسي شعور را ژوندی کړ او پښتانه يې د فيوډالي مغولو پر ضد د هېواد د آزادۍ لپاره مبارزې

ته چمتو کړل او له بله پلوه يې په پښتو ادبياتو کې د قدر وړ اثار و ليکل او بايزيد روښان په پښتو ادب کې د مسجع نثر بنسټ کېښود او خپل کتاب خيرالبيان يې په همدې سبک وليکه. د روښاني دورې په منثور اثارو کې ځينې رسالې شته چې نثرونه يې سجع نه لري او د هغه وخت له شرايطو سره سم روان نثر بلل کېږي. د بېلګې په ډول د علي محمد مخلص او ارزاني روښاني رسالې يادولی شو. د کلاسيکې دورې په لومړي پړاو کې اخوند درويزه چې په فکري لحاظ د بايزيد روښان مخالف و، خو د نثر د سبک په لحاظ يې د پير روښان له مسجع نثر څخه پيروي کړې او د خيرالبيان په مقابل کې يې خپل کتاب ((مخزن الاسلام)) په مسجع نثر وليکه. د کلاسيکې دورې د دويمې برخې بنسټ ايښودونکی چې خوشحال خان خټک دی، د قلم او اوتورې دواړه ډوله مبارزه يې پر مخ بيولې ده. د توري په ډګر کې د فيوډالي مغولو په ضد د خپل هېواد ازادي او د يو ملي حکومت د جوړېدو لپاره هلې ځلې. د قلم په ډګر کې د پښتو ژبې د ملي ادبياتو په پراختيا کې د قدر وړ خدمتونه کړي او پښتو ژبې ته يې غنيمت اثار په ميراث پرېښودل. خوشحال پښتو ادب کې د يو نوي سبک بنسټ کېښود، په نثر کې يې د پير روښان سبک نه پيروي و نه کړه، د ساده ګی او روانی لاره يې غوره کړه. له بلې خوا يې پښتو شعر د شکل او مضمون له خوا خورا بډای کړ. د خوشحال سبک د ده په کورنی کې ښه وپالل شو. رحمان بابا د دويمې ادبي دورې د يو بل پړاو مخکښ و. د ده سبک د خپلو ځانګړتياوو له مخې په ولس او فرهنګي حلقو کې ډېر شهرت او محبوبيت وموند او د دولسمې، ديارلسمې او څوارلسمې پېړی شاعران په ده پسې روان شول. د رحمان بابا سبک پېچلتيا نه لري. ډېر طبيعي او ساده دی. د شعر د خوند او رنګ لپاره يې ډېر ښکلي، خو ساده او عام فهمه الفاظ غوره کړي دي. د واقعيتونو بيان ته يې زياته توجه کړې ده.

په کندهار کې د پښتنو د ملي دولت جوړېدل او په شاهي دربار کې د پښتو د ودې د زمينې را منځته کېدا د دويمې دورې په را وروسته پېړونو کې ټاکلی دريځ لري. د

هوتکو د پاچاهۍ په ولکه کې دغه مهال په سلګونو لیکوالو اثار لیکلي او شعرونه يې ویلي دي. د پښتو قیمتي او تاریخي اثر (پټه خزانه) چې په درې خزانو مشتمله ده، همدا مهال لیکل شوې ده. د پښتو د تحریري تاریخي حماسو لیکل همدا د هوتکو د پاچاهۍ په دوران پورې اړه لري. د یوولسمې هجرې پېړۍ په پیل او د دولسمې پېړۍ په لومړیو کې په هند کې د فارسي ژبې یو شمېر اوسېدونکو شاعرانو هغه نوي شعر ته لار ومونده چې د لسمې پېړۍ په پېل کې را منځته شوی. دې سبک د هندي سبک په نامه شهرت وموند چې په پښتو ادب کې بنسټ ایښودونکی حمید مومند او پالونکی کاظم خان شېدا او نور یادولی شو. حمید مومند هم په پښتو ادب کې د یو ځانته سبک خاوند شاعر ګڼلی شو. د دویمې ادبي دورې په وروستي پړاو کې احمد شاه بابا له خپلو سیاسي ټولنیزو او ملي خدمتونو سربېره د خپل هېواد فرهنګ لپاره هم نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي، د پښتو او فارسي ژبو شاعران يې روزلي دي، احمدشاه بابا خپله هم شاعر و چې د شعر یو بشپړ دیوان لري او په کورنۍ کې يې تیمور شاه او شاه شجاع په پښتو شاعري کړې ده. پیر محمد کاکړ هم د احمدشاه بابا د دربار شاعر و، د معرفت الافغاني په نامه يې لومړۍ پښتو ګرامر لیکلی او د شعر دیوان هم لري.

فعالیتونه

۱ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د پښتو ادبیاتو د دویمې ادبي دورې د پیل او پای په اړوند دې خبرې وکړي.

۲ـ زده کوونکي دې په دوو ګروپونو ووېشل شي، یو ګروپ دې د دویمې ادبي دورې لومړي پړاو او بل ګروپ دې د دویم پړاو ځانګړتیاوې ولیکي او د هر ګروپ مشر دې د خپل ګروپ نظر ووايي.

۳ـ پښتو ادبیاتو کومې تاریخي دورې تر شا پرېښې دي؟ درې تنه زده کوونکي دې د

خپلو معلوماتو له مخې د هغو په اړه معلومات وړاندې کړي.

٤ـ زده کوونکي دې د هغو د شمېر له مخې په شپږو ډلو وویشل شي، هره ډله دې د دویمې دورې په یو ټاکلي پړاو باندې خپل نظرونه روښانه کړي. د هرې ډلې استازی دې هغه را غونډ او د ټولګي په وړاندې دې ولولي.

٥ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

پښتو ادبي تاریخ په څو دورو وېشلی شو؟

پښتو ادبیاتو دویمه تاریخي دوره د لومړۍ دورې سره څه توپیر لري؟

په عمومي ډول د پښتو ادبیاتو په کلاسیکه دوره کې کوم ادبی او سیاسي نهضتونه پېژنئ؟

خیرالبیان د چا اثر دی او په کوم سبک لیکل شوی دی؟

د خوشحال د پنځو اثارو نومونه واخلئ؟

٦ـ څلور تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي، د پښتو ادبیاتو منځنۍ دورې په اړه دې یوه یوه دقیقه خبرې وکړي.

٧ـ دوه تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي په وړاندې د دویمې ادبي دورې لنډیز ووايي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې په کور کې د پښتو ادبیاتو منځنۍ دورې عمده ځانګړنې ولیکي او په بله ورځ دې ټولګیوالو ته ووايي.

د ناروغ پوښتنه (خبرې اترې)

ښځه د کورنۍ او کورنۍ د ټولنې بنسټ جوړوي. په ګډ ژوند کې د یوې ټولنې وګړي یو له بل سره راشه درشه، تګ او راتګ لري. د یو بل په حال ځان خبروي، د ستونزو او کړاوونو په مهال یو بل ته لاس ورکوي، د ناروغتیا، ناورین، غم او خپګان په وخت سره غمشریکي واوسي. له دغو کارونو څخه یو یې د ناروغ پوښتنه ده. د ناروغ په پوښتنه ناروغ خوشحالیږي او زموږ دیني دنده سرته رسیږي.

ایا تاسو کله هم په روغتون کې د ناروغ پوښتنې ته تللي یاست؟

روغتیا لوی نعمت او د انسان شتمني ده، په خوند یې هغه څوک ښه پوهېږي چې یو ځل ناروغ شي. د ناروغۍ په مهال د انسان د وجود مقاومت کمېږي، نهیلي ورته پیدا کېږي او دې ته سترګې په لار وي چې دوستان، ملګري او خپلوان یې پوښتنې ته ورشي. د ناروغ په پوښتنې مونږ له یوې خوا خپله دیني دنده سر ته رسوو او له بلې خوا د خپل ټولنیز مسؤولیت له مخې له ناروغ سره خوا خوږي کوو او ډاډ ورکوو. ناروغ ته د ورتګ پر مهال ښایي ټولنیز اداب په پام کې ونیسو، هغه ته د خیر او روغ صحت دعا وکړو، ډېرې خبرې ورسره ونه کړو، د هغه د خپګان لامل نشو، بې وخته یې پوښتنې ته ور نشو او له اړتیا پرته ډېر ورسره تم نشو.

لومړۍ محاوره: (مېوند ــ خیبر)

مېوند: خیبره وروره، خبر شوی یم چې ناروغ یې؟

خیبر: هو، ناڅاپه را ته د ګېډې درد پیدا شو. ورو ورو ډېرېده، مجبور شوم روغتون ته راغلم.

مېوند: نه پوهېږې چې ولې ناروغ شوې؟

خیبر: څه درته ووایم، خامه ګندنه مې خوړلې وه.

مېوند: ګندنه باید ترخوړلو د مخه پاکه پرېمنځل شي.

خیبر: هو، کېدای شي پرېمنځلې یې وي.

مېوند: ځانته پرېمنځل بس نه دي. باید د پتاسو په محلول یا د مالګې په اوبو کې پرېمنځل شي.

خیبر: ښایي د خامې او ناپاکې ګندنې د خوړلو له امله ناروغ شوی وم.

مېوند: اوس ښنګه یې؟

خیبر: اوس یو څه ښه یم. ډاکټر را ته درمل را کړي.

مېوند: زه درنه ځم. که څه شي ته دې اړتیا وي چې راپې ورم.

خیبر: نه وروره، ډېره مننه. خدای ﷻ دې ښه درسره وکړي.

خبرې اترې:

ظریفه: شریفې خورې، خېر خو به وي، څو ورځې ښوونځي ته را نغلې؟

شریفه: ناروغه شوې وم. د ستوني درد را ته پیدا شوی و.

ظریفه: څه دې وکړل، ډاکټر دې ولید که نه؟

شریفه: هو، ومې لیده، د څو ورځو درمل یې راکړل. اوس یو څه ښه یم.

ظریفه: پام کوه شریفې خورې، د ستوني خوږ ډېره بده ناروغي ده.

شریفه: هو خورې، تبې نیولې وم، ټول بدن مې خوږېده.

ظریفه: درمل دې په خپل وخت و خوره او استراحت وکړه.

شریفه: درمل خو خورم، خو استراحت نشم کولای، ځکه لوست را نه تېرېږي.

ظریفه: نه خورې، روغتیا تر بل هر څه مهمه ده. لوست به بیا ووایې.

شریفه: ښه همداسې به وکړم، خو په دې شرط چې نوټونه دې بیا را کړې.

ظریفه: ولې نه خورې، ټول تېر لوستونه به هم درسره تکرار کړم. خدای ﷻ دې تا ښه کړي!

شریفه: کور دې ودان خورې خدای ﷻ دې ښه درسره وکړي.

خبرې اترې:

علي ګل: سرداره سترې مه شې. رنګ دې ولې ژېړ دی؟

سردار: علي ګله، ته خبر نه یې، نژدې مړ شوی وم؟

علي ګل: خدای ﷻ دې نه کړي سرداره ولې؟

سردار: ملاریا شوی وم. سختې تبې مې کولې، ټول ځان مې خوږېده، زړه مې هم را جګېده.

علي ګل: هو، ډېر خپه شوم. ملاریا ډېره بده ناروغي ده.

سردار: درمل مې وخوړل، هغې نور هم بدتر کړم. درمل هم ګرم وو او هوا هم ډېره توده.

علي ګل: پوه نشوې چې چېرته د ملاريا ماشي چېچلی وې؟

سردار: د جمال کاکا کره تللی وم، څو شپې هلته وم. کېدای شي هلته به يې چېچلی يم.

علي ګل: څه پوه شوې، سرداره چې هلته به ماشي چېچلی يې؟

سردار: د جمال کاکا د کور شاوخوا د اوبو ډنډونه دي. اوبه يې هم خوسا وي. هلته هرو مرو د ملاريا ماشې شته.

علي ګل: چېرته چې ناپاکه اوبه وي، چټلي هم زياته وي. هلته ملاريا او نورې ناروغۍ پيدا کېږي.

سردار: کېدای شي د ملاريا د ناروغۍ مخه ونيول شي؟

علي ګل: هو، خو ډېر ستونزمن کار دی. موږ کولای شو د ناپاکو اوبو ډنډونه له منځه يوسو او د شپې د خوب په مهال تر پشه خانې لاندې څملو.

سردار: مننه علي ګله. دواړه به د جمال کاکا کلي ته ورشو او هغوی ته به په دې اړه سلا مشورې ور کړو.

د متن لنډيز:

روغتيا شتمني ده، په ارزښت يې هغه مهال پوهېږو چې ناروغه شو. انسان په ژوند کې هرومرو ناروغه کېږي. د ناروغۍ پر مهال بايد ډاکټر ته ورشو او د هغه له لارښوونې سره سم درمل وخورو. د ډاکټر له معاينې نه پرته بايد پخپل سر د درمل له خوړلونه ډډه وکړو، ښايي بدن ته د ګټې پر ځای زيان ور ورسېږي. که ناروغي ډېره وي، بايد روغتون ته لاړ شو، او د ډاکټر تر لارښوونې لاندې درمل وخورو. ناروغ د ناروغۍ پر مهال ډېر نهيلی کېږي. بايد پوښتنې ته يې ورشو، څه مرسته چې مو له لاسه کېږي بايد ورسره يې وکړو. دا د ناروغ پر روحيه ښه تاثير کوي، ناروغ پرې خوشحالېږي، روحيات يې پياوړي کېږي او د روغتيا احساس کوي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي، د مرکې په څېر دې يو د بل حال و پوښتي.

۲ ـ دوه دوه تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او په لاندې ډول دې خبرې وکړي:

شريف: ظريفه! د لاس او پښو بندونه مې درد کوي، چا ته لاړ شم.

ظريف: شريف جانه، په (بر کلي) کې د داخله ناروغيو يو ډېر پوه ډاکتر دی. هغه ته ورشه.

څنګه به يې پيدا کړم؟ که وخت لرې ته را سره لاړ شه.

اوس خو وزګار نه يم. مازديګر ته به دواړه لاړ شو.

۳ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او لاندې لغتونه دې د تختې پر مخ وليکي او په جملو کې دې استعمال کړي:

۱ـ لامل ۲ـ روغتون ۳ـ درمل ٤ـ درملتون ٥ـ ټولګيوال

٦ـ زيانمن ۷ـ ناورين

٤ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او په چوکاټ کې ليکل شوو کليمو نه دې جملې جوړې کړي:

ډاکتر، روغتون، روغتيا، شتمني، شريفه، ظريفه، مېوند، خپبر، ناروغ، ته، دی، ده، لاړ، شي، بايد.

٥ـ دوه تنه زده کوونکي، يو د ډاکتر او بل د ناروغ په رول کې د ټولګي مخې ته راشي او په لاندې ډول دې خبرې وکړي:

ناروغ: نه پوهېږم ډاکټر صاحب ګېډه مې خوږېږي.
ډاکټر: د شپې دې څه خوړلي دي؟
ناروغ: لوبیا او یو څه ګندنه.
ډاکټر: پر مېز څمله چې معاینه دې کړم.
ناروغ: داکټر صاحب ناروغي، خو به مې خطرناکه نه وي؟
ډاکټر: نه داسې څه نشته، تاسو خپلې روغتیا ته هېڅ پام نه کوئ.
ناروغ: ولې نه، موږ خو نه غواړو چې ناروغه شو.
ډاکټر: تاسو پوهېږئ چې د خامو خوړو او ناپاکه ګندنې خوړل څومره ضرر لري؟

٦ـ یو تن زده کوونکی دې د لوست د لنډ مطلب په اړوند خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې هر یو د خپل ملګري د پوښتنې په اړه یوه محاوره ولیکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې ووایي.

د خوشحال خټک په ژبه برکت شه	چې ویل کـــړه په پښتو لـــــه هـــره بابه
کـــــه د نظم کــه د نثر کــه د خط دی	په پښتو ژبه مې حــــــــق دی بې حسابه

معاصر ادبي نثر

نظم او نثر دواړه د مفکورو او مفاهیمو د لېږدولو وسیلې دي. نثر د نظم په پرتله ډېر کارول کېږي. لامل یې دا دی چې نثر اسان دی، هر لیکونکی یې لیکلی شي او هر ډول موضوع پکې بیانولای شي. نظم بیا د نثر په مقابل کې ستونزمن دی، ځکه وزن او قافیه پکې اړین دي. نثر د معنا، لفظ او مهال له مخې ډېر ډولونه لري چې یو یې ادبي معاصر نثر دی. په دې لوست کې یې تاسې ته در پېژنو:

که ورځنۍ خبرې په لیکنۍ بڼه وي، په څه نامه یادېږي؟

نثر عربي کلمه ده، د شیندلو او پاشلو معنا لري. په اصطلاحي معنا سره نثر هغه کلام دی چې وزن او قافیه و نه لري. ادب څېړونکي د ادبیاتو د اوسني تعبیر له مخې د یوې ژبې ټول لیکلي (تحریري) او نالیکلي (شفاهي) منظوم او منثور اثار چې هنري ارزښت ولري، ادبیات ګڼي. دغه ادبي هنري اثر باید په داسې ژبه بیان شوی وي چې هم د ټولنیز ژوند هینداره وي او هم په لوستونکي او اورېدونکي کې یو عاطفي احساس پیدا کړي.

په هنري او ادبي لیکنو کې د لیکوال ذوق، احساس او تمایلات د واقعیت او مطلب د افادې لپاره بنسټیز حیثیت لري.

لیکوال هغه څه چې لیدلي، اورېدلي، احساس کړي او یا یې په ذهن او خیال کې تېرېږي، بیانوي، خو د تحقیقي او علمي لیکنو په څېر دلیل راوړلو ته هېڅ اړتیا نه لري. هنریت یا هنري ارزښت هغه ځانګړنه ده چې ادبي او غیر ادبي لیکنې سره بېلوي. په ادبي لیکنو کې د لیکوال په استعداد او فني مهارت پورې اړه لري چې انساني رواني حالات، د خلکو هیلې او غوښتنې، جذبات، او احساسات او عواطف په الفاظو کې ښکلي انځور او راونغاړي، مقابل لوري (لوستونکي یا اورېدونکي) ته یې ولېږدوي او د هغه په عواطفو کې خوځښت راولي. پښتو ژبه ډېر هنري ادبي اثار لري چې بېلګې یې په نالیکلي او لیکلي ډول په نظم او نثر کې موجودې دي.

په منثورو کې له مسجع نثر نه نیولې د نن ورځې تر روانو، ساده او د هنر او ښکلا په ګاڼه سمبال نثرونه هم شامل دي.

پښتو ادبي نثر له (۱۹۵۰) عیسوي کال نه وروسته وده او پراختیا موندلې ده. ادبي ټوټه، لنډه کیسه، ناول، داستان، رومان، ډرامه، طنز د نني ادبي او هنري نثر بېلګې دي چې په لاندې ډول یې در پېژنو:

۱ـ ادبي ټوټه

د هنري ادبیاتو یو ځانګړی ډول دی چې د شکل په لحاظ له لنډو کیسو څخه وړه وي او د مضمون په لحاظ هر ډول مطالب پکې راتلای شي. په ادبي ټوټه کې شاعرانه تخیل کم

وي، واقعي پېښې پکې څېړل کېږي او لوبغاړي يې هم واقعي خلک وي.

د معاصر هنري نثر دغه ډول، ځينو ادبپوهانو د (منثور شعر) په نامه هم ياد کړي، ځکه اصلاً نثر دی، خو شعري کيفيت لري. د يو حقيقت او واقعيت په اړه په حکايوي بڼه په زړه پورې تشريح او توضيح کوي. دا توضيح او تشريح په داسې رنګينو الفاظو کې نغښتې وي چې په بشري احساس او عواطفو ژور اغېز کوي. د ادبي ټوټې غوره بېلګې د پښتو ژبې د معاصر ليکوال او نثر ليکونکي ګل پاچا الفت په غوره نثرونو کې موندلای شو. لکه: دوه جنازې، دوه دهقانان او نور . . . .

۲ـ لنډه کيسه

په لويديځ ادب کې (Short story) بلل کېږي. لنډه کيسه د نثري کيسو يو ډول دی، لنډه او له داسې عناصرو څخه جوړه وي چې يو له بله سره تړلي او يو د بل تر اغېز لاندې وي. موضوع د خپلو حدودو په چوکاټ کې رانغاړي، بې ضرورته خبرې پکې ځای نه لري. د تاثر او اغېز يووالی پکې يوازينی شرط دی.

۳ـ ناول

ناول د لاتيني ژبې کلمه ده. لغوي معنا يې نوی، تازه او عجيبه څيز دی. په ادبي اصطلاح کې هغې ادبي نثري کيسې يا داستان ته وايي چې له لنډې کيسې څخه لوی او له رومان څخه لنډ وي. په ليکني چوکاټ کې يې طرح، اصلي او فرعي کرکټرونه، مکالمې او د کيسې پيل، منځ او پای لري. له لنډې کيسې سره يې توپير په دې کې دی چې هم پکې پېښې په تفصيل سره بيانېږي او هم يې کرکټرونه زيات وي.

٤ـ رومان

رومان فرانسوي کلمه ده، په ځينو فرهنګونو کې يې معنا خيالي داستانونه او په ځينو کې د مينې او محبت کيسې راغلي دي. په ادبي اصطلاح کې هغې کيسې ته ويل کېږي چې له

ناول څخه اوږده وي.

د ژوند ډېري او بېلا بېلې خواوې پکې منعکس شوې وي او د بېلا بېلو پېښو انځور په ادبي قالب کې ځايوي.

د جوړښت په لحاظ له ناول سره دومره توپير نه لري، يوازې د موضوع په انتخاب او د واقعيتونو په څېړلو کې توپير لري. هغه دا چې په ناول کې همېشه واقعيتونه د علمي اصولو له مخې څېړل کېږي، خو په رومان کې په خيالي ډول. يعنې کوشش کېږي چې خيالي واقعات لوستونکي ته په رښتينې بڼه وړاندې کړي.

٥ـ داستان

داستان د حماسي ادب يو ځانته فورم دی. د جوړښت په لحاظ تر وړې کيسې لوی او له ناول څخه وړوکی وي.

څرنګه چې داستان حکايتي بڼه لري، نو د ناول په تناسب يې تخيلي جنبه زياته وي.

په داستان کې د هنري قهرمان پر ژوند پوره رڼا اچول کېږي او د ګډون کوونکو شمېر يې هم د وړې کيسې د ګډون کوونکو په پرتله زيات وي.

٦ـ ډرامه

له يوناني کلمې (ډراو) نه مشتق شوې چې د عمل او کړنې معنا لري. په ادبي اصطلاح کې هغه ادبي اثر ته ويل کېږي چې د ډيالوګ يا خبرو اترو په شکل ليکل شوی وي او دا خبرې د لوبغاړو په منځ کې رواني وي. يا په بله وينا: ډرامه د يوې ژوندۍ کيسې نوم دی چې ټول احساسات او جذبات پکې د حرکت او خوځېدو په واسطه څرګندېږي او هره پېښه عملاً په سترګو ښکاري. ډرامه دوې برخې لري: تراژيدي او کمېډي.

په تراژيدي ډرامه کې د هنري اثر پر قهرمان په تراژيدي ډول خبرې کېږي او صحنه داسې تمثيلوي چې ليدونکي غمجن او د تاثر په حالت کې وساتي. په کمېډي کې صحنې په داسې ډول اجرا کېږي چې خلک وخندوي. د ادبپوهانو په نظر ډرامايي وحدتونه (د وخت، ځای او د عمل وحدت) د ډرامې د فن بنسټيز توکي دي.

د جوړښت له مخې ډرامه درې ډولونه لري:

۱ـ د سټېج ډرامه. ۲ـ راډیوي ډرامه، ۳ـ تلویزیوني ډرامه

(فلمونه او ننداري پکې راځي) هره یوه یې ځانګړې ژبه او وسایل لري.

ډرامه درې برخې: (پیل، اوج او پای) لري.

پیل یې باید داسې وي چې لوستونکي، اورېدونکي یا لیدونکي له ځانه سره یوسي. د کیسې پیل د کیسې اوج ته لار هواروي. د ډرامې په منځ کې د بېلا بېلو لوبغاړو (کرکټرونو) تر منځ ټکر یا کشمکش را منځته کېږي چې دې ته د ډرامې اوج وایي. دا غوټه بیا د ډرامې په پای کې ایله کېږي یا خلاصېږي.

په پښتو کې لومړۍ ډرامه د عبدالاکبرخان اکبر ((درې یتیمان)) ده چې په ۱۹۲۷عیسوي کال یې لیکلې ده. تر دې وروسته په پښتونخوا او افغانستان کې یو شمېر لیکوالو د ډرامې لیکلو ته مخه کړې ده. د سټېج، راډیو او تلویزیون لپاره ګڼې ډرامې لیکل شوي دي.

۷ـ طنز

طنز عربي کلمه ده. فرهنګونو د طنز لغوي معنا ناز او کرشمه، پېغور او مسخره کول راوړي. په ادبي اصطلاح کې د هنري ادبیاتو یو ډول دی چې په لیکنه کې یې د لیکوال اصلي مقصد نیوکه (انتقاد) وي، خو انتقاد یې د شوخۍ په بڼه او یا په بله وینا د تمسخر په جامه کې نغښتی وي. د وینا لمن او اندازه یې په زړه پورې او د ټوکو ټکالو په شکل وي. زیاتره وخت پکې مسایل سرچپه (معکوس) مطرح کېږي. طنز په واقعیت کې هغه ترخه خندا ده چې د ټولنې د خلکو په ناوړه اعمالو، عاداتو، اخلاقو او افکارو باندې کېږي.

۸ـ ادبي راپورتاژ:

د هنري ادبیاتو یو ځانګړی ژانر دی. له عادي راپورتاژ سره یې اصلي توپیر دادی چې په ادبي راپورتاژ کې د پېښې تعبیر، تفسیر او تحلیل په ادبي او هنري ژبه شوی وي. ددې ډول راپورتاژ لیکونکی پېښو ته په دقیق نظر ګوري او له هغو څخه خپل برداشت د تخیل په ملتیا په خوږه هنري ژبه وړاندې کوي.

۹_ سفرنامه

په سفرنامه کې سفر کوونکی خپلې خاطرې د قلم په ژبه او د ادب په ادا خوندي کوي او راتلونکو نسلونو ته يې د يادگار په شکل پرېږدي. په نړيوال ادب کې سفرنامې اوږده مخينه لري. په سفرنامه کې دعلمي تحقيقاتو لپاره په زړه پورې مواد پيدا کېږي.

۱۰_ ادبي ليکونه

دا هغه ليکونه دي چې په ځانگړې ادبي او هنري بڼه ليکل کېږي. په ادبي ليکونو کې يو لړ مهم انتقادي، سياسي، فلسفي او ادبي مسايل ليکل کېږي. او د اديبانو تر منځ تبادله کېږي. د ليکنې ژبه يې هنري او د تحليل رنگ پرې غالب وي. له استعارو، کنايو، تشبيهاتو او نورو ادبي صنعتونو څخه پکې کار اخيستل شوی وي. ژبه يې خوږه او د ليکنې طرز يې دومره په زړه پورې وي چې لوستونکي يې په لوستنه نه مړېږي.

د متن لنډيز:

د اوسني تعبير په اساس د يوې ژبې ټول ليکني او گړني، منظوم او منثور اثار چې هنري ارزښت ولري، ادبيات گڼل کېږي.

په هنري نثر کې ليکوال ټول مفاهيم د الفاظو په قالب کې په تخيلي ځواک سره ځايوي. دغه تخيلي ځواک په بشري احساس او عواطفو ژور اغېز کوي او را پاروي يې.

هنريت يا هنري ارزښت هغه بنسټيزه ځانگړنه ده چې ادبي ليکنې له نورو غير ادبي ليکنو څخه بېلوي.

معاصرې ادبي هنري ليکنې د بڼې له مخې لاندې ډولونه لري:

ادبي ټوټه، لنډه کيسه، ناول، رومان، ډرامه، طنز، ادبي ليکونه، ادبي راپورتاژ او نور. . .

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او مفهوم ته دې ځير شي.

۲ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د متن اصلي مفهوم دې ووايي.

۳ـ څلورتنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او د ادبي معاصر نثر په اړه دې یوه یوه دقیقه خبرې وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې په خپل وار سره تراژیدي او دویمه ډله دې یوه کمېډي ننداره د حرکاتو له لارې تمثیل کړي.

۵ـ زده کوونکي دې په څلور ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د خپل سفر په اړوند یو راپور ترتیب کړي، د ډلې استازی دې د خپلې ډلې په استازیتوب د خپلې ډلې ترتیب شوی راپورتاژ نورو ته ووايي.

٦ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- ادبي هنري نثر له نورو نثري لیکنو سره څه توپیر لري؟
- یوه لنډه کیسه له کومو توکو څخه جوړه وي؟
- د ناول او لنډې کیسې توپیر په څه کې دی؟
- ادبي راپورتاژ او ژورنالیستکي راپورتاژ څه توپیر لري؟
- طنز له ډرامې سره څه توپیر لري؟
- څو ډوله ډرامې پېژنئ؟
- ډرامه خپل پیغام څنګه لیدونکو ته وړاندې کوي؟

۷ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د هر ادبي هنري نثر په اړه په لنډیز سره درې درې دقیقې خبرې وکړي.

زده کوونکي دې په کور کې د چاپېریال ساتنې په اړه یو مطلب ولیکي چې تر لسو کرښو کم نه وي او د بلې ورځې پښتو مضمون په ساعت کې دې ووايي.

د پښتو معاصر نثر لاندې بېلګه ولولئ او خوند ترې واخلئ.

بې زړه

د ایمان ځای زړه دی او دی بې زړه دی.

چې وړوکی و، له شیشکو او پیریانو ډارېده چې لږ غونډې لوی شو د ملا صاحب له ډاره په سبق نه پوهېده.

اوس چې لوی دی، د خان ډار، د ملک ډار، د حاکم ډار یې په زړه کې ټینګ ځای نیولی دی. په لاره کې ورسره د غلو وېره ده او په کور کې د غلیمانو له وېرې خوب نه ورځي.

لویه خدایه، په کوم زړه کې چې دغومره ډېرې وېرې وي، ستا وېره ډېره ځای نه شي پیدا کولی.

په دغسې زړه کې ستا خوف ته ډېر لږ ځای پیدا کېږي، که ستا ډار او د ظالمانو ډار په یوه زړه کې یو شان موجود وي، له دې نه لویه ګناه بله نه شته. کاشکې دوی یوازې له تا وېرېدلی او ستا د دښمنانو ډار یې په زړه کې نه وای. د خلکو ډار ستا وېره په زړونو کې کموي او ایمان ته زیان رسوي. ستا ضعیفه بندګان یوازې له تانه، نه وېرېږي، له نورو هم وېرېږي. دوی اوس د زورورو په مخ کې حق نه شي ویلی او نه د حق طرفداري. ته په دروغو خپه کېږې او دوی له وېرې د ظالمانو خدمتونه او صفتونه کوي. هغه مسلمان اوس چېرته دی چې یوازې او بس ستا بنده باید د ډارېدنه نه وي او د نمرود له اوره یې سترګه ونه سوځي. (ګل پاچا الفت)

ملي ارشيف

لرغوني خطي کتابونه، ليکنې، چاپي کتابونه، د پاچاهانو ليکلي فرمانونه او تاريخي سندونه يو ارزښتمن فرهنګي ميراث دی. دغه ډول اسناد او ليکنې چې د تېرو زمانو د پاچاهانو په اړه معلومات چمتو کوي بايد د يو ارزښتمن فرهنګي ميراث په توګه خوندي وساتل شي. په افغانستان کې داسې اثار په ملي ارشيف کې خوندي دي او په دې اړه (ملي ارشيف) په نامه يوه ځانګړې اداره او ودانۍ هم موجوده ده.

تاسو ملي ارشيف د نوم په اورېدو څه فکر کوئ؟

د نړۍ په هر هېواد کې داسې یو ځای شته چې هلته ټول زاړه خطي کتابونه، چاپي زاړه کتابونه، د تېرو پاچاهانو فرمانونه، رسمي سندونه، انځورونه او نور ساتل کېږي. دغه ځایونو ته ارشیف وایي. زموږ په ګران هېواد افغانستان کې هم دغسې یوه ودانۍ شته چې ملی ارشیف نومېږي. د ملي ارشیف دغه ودانۍ د کابل ښار په سالنګ واټ کې واقع او د امیرعبدالرحمٰن خان د واکمنۍ پر مهال جوړه شوې ده. نوموړې امیر دا ودانۍ د خپل زوی شهزاده حبیب الله خان د کار لپاره جوړه کړې وه. ودانۍ دوه پوړه ده، لومړی پوړ یې تر ځمکې لاندې دوه سالونه او لس خونې لري.

دا ودانۍ د محمد داود خان د جمهوریت په لومړیو (۱۳۵۲هـ.ش.) کې د ملي ارشیف لپاره ځانګړې شوه او د عامه کتابتون تر اداري لاندې یې فعالیت پیل کړ.

ملي ارشیف په رسمي توګه د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت د یوې ځانګړې فرهنګي اداري په توګه په (۱۳۵۹هـ.ش.) کال پرانستل شو. لومړی هغه لیکلي او چاپي تاریخي او هنري اثار چې د کابل په عامه کتابتون او نورو دولتي ادارو کې موجود وو، په ملي ارشیف کې ځای پرځای شول او بیا د هېواد له ګوټ ګوټ څخه اړوند اثار ورته راوړل شول چې دا لړۍ تر ننه هم روانه ده او له یوې ورځې څخه بلې ته د اثارو شمېره زیاتېږي. ټول هغه اثار چې اوس زموږ په ملي ارشیف کې خوندي دي، د اسلامي دورې له پیلامې څخه په را وروسته پېړیو پورې اړه لري. تر ټولو لرغونې لاس کښلې (خطي) نسخه چې په ملي ارشیف کې خوندي ده هغه د قرآنکریم پنځه پارې دي چې د هوسۍ پر پوستکي لیکل شوي او لیک یې د حضرت عثمان (رض) وخت ته منسوب ګڼل شوی دی.

بل لرغونی سند د تېموري دورې د نومیالي واکمن سلطان حسین بایقرا فرمان دی چې په (۹۰۱هـ.ش.) کال په نستعلیق لیک لیکل شوی، اوس په ملي ارشیف کې خوندي دی. اوس زموږ په ملي ارشیف کې د کتابونو په زرګونو خطي او چاپي نسخې، تاریخي سندونه او انځوریز خطي کتابونه او پاڼې خوندي دي.

په دغو خطي نسخو کې یو هم د پښتو ډېر ارزښتناک ادبي کتاب (پټه خزانه) نومېږي چې د هغې په تر لاسه کېدو سره پښتو لیکلی ادب د دویمې هجري پېړۍ نیمایي ته رسېږي.

د افغانستان ملي ارشيف له ډېرو زياتو لرغونو او تاريخي چاپي او خطي سندونو او اثارو سره له ستر ملي او نړيوال ارزښت څخه برخمن دی. د افغانستان ملي ارشيف د (سواربيکا) يا د ارشيفونو د نړيوالې مؤسسې د غړيتوب وياړ هم تر لاسه کړی دی.

د تاريخي، علمي، ادبي فرهنگي او نورو اثارو د خوندي ساتنې اداري (ملي ارشيف) د بډای کولو لپاره بايد هر اړخيزې هلې ځلې وکړو او يوه ملي دنده يې وبولو.

څرگندونې

سواربيکا: د ارشيفونو يو نړيوال تنظيم يا مؤسسه ده چې د ډېرو هېوادونو ملي ارشيفونه يې غړيتوب لري.

د متن لنډيز:

ملي ارشيف زموږ په هېواد کې د لرغونو خطي او چاپي اثارو، تاريخي سندونو او پاچاهانو د فرمانونو او ليکونو د خوندي ساتنې ځانگړې اداره ده.

په دې اداره کې تاريخي ليکلي اثار له خرابېدو او ورکېدو څخه ژغورل کېږي.

امير عبدالرحمٰن خان د ملي ارشيف اوسنۍ ودانۍ د خپلې واکمنۍ په کلونو کې د خپل زوی حبيب الله خان، د کار لپاره جوړه کړې وه. ملي ارشيف په ۱۳۵۲ لمريز کال د محمد داود خان د جمهوريت په لومړيو کې د عامه کتابتون تر اداري لاندې را منځته شو. په رسمي توگه د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د يوې ځانگړې فرهنگي اداري په توگه په ۱۳۵۹ هجري کال پرانستل شو.

ملي ارشيف اوس د زرگونو خطي او چاپي کتابونو، سندونو او نورو اثارو په لرلو سره له ملي او نړيوال اعتبار څخه برخمن او د ارشيفونو د نړيوالې مؤسسې د غړيتوب وياړ هم لري.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي، بیا دې دوه تنه زده کوونکي د لوست مفهوم بیان کړي.

۲ـ څو تنه زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- ملي ارشیف څه اهمیت او ارزښت لري؟
- د ملي ارشیف د لا بډاینې لپاره باید څه وکړو؟
- په متن کې د یادو شخصیتونو نومونه واخلئ؟
- تاسو که د لرغونو توکو د ساتلو کومه بله ودانۍ لیدلې وي، نوم یې واخلئ؟

۳ـ دوه تنه زده کوونکي دې په خپل منځ کې د ملي ارشیف د لیدلو په اړه خبرې وکړي.

په لاندې ډول:

- مرجانې خورې، ته په کوم ښوونځي کې زده کړه کوې؟
- درخانۍ خورې، زه د الایي لیسې زده کوونکې یم.
- په څوم ټولګي کې یې؟
- زه سږ کال یوولسم ټولګي ته بریالۍ شوم.
- لوستونه مو پیل شوي دي؟
- هو، دا دریمه اوونۍ ده چې لوست مو پیل شوی دی.
- دا بل هلك څوك دی؟
- دا زما کشر ورور دی.
- تاسو چېرته روان وئ؟
- درخانۍ خورې! زه له خپل ورور سره کابل ته ځم.
- خیر خو دی د څه لپاره؟
- هو، خورې خیر خیریت دی، غوارم چې ملي ارشیف وګورم.

- ملي ارشيف څه شی دی؟
- ولې خورې ته ملي ارشيف نه پېژنې! ملي ارشيف يوه ځانګړې اداره ده چې لرغوني خطي نسخې چاپي اثار او تاريخي سندونه پکې ساتل کېږي.
- دا اداره چېرته موقعيت لري؟
- د ملي ارشيف ودانۍ يا اداره د کابل ښار په سالنګ واټ کې واقع ده.
- ښه نو، په خير لاړه شې، خوګوره چې له ملي ارشيف نه د ليدنې په مهال لازم او اړين ياداشتونه له ځانه سره واخلې.
- د خدای په امان! دا کار به ضرور کوم.

٤ـ درې تنه زده کوونکي دې د تختې پر مخ لاندې لغات په جملو کې استعمال کړي:
(وياړ، اړين، مهال، پرانستل، پېلامه، اړوند، پوړ، ګوټ، چمتو، انځورونه)

٥ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، يوه ډله دې د ملی ارشيف د ارزښت په اړه او بله ډله دې ددغې ادارې د جوړېدو تاريخ په اړه معلومات وليکي او د ډلې مشر دې د ټولګي په وړاندې بيان کړي.

٦ـ دوه تنه زده کوونکي دې په وار سره د لوستل شوي متن لنډ مفهوم بيان کړي.
٧ـ که کوم زده کوونکی د امکان په صورت کې کابل ته لاړ، له ملي ارشيف څخه دې ليدنه وکړي، د خپلو ليدنو ريوټ ترتيب او خپلو هم ټولګيوالو ته دې واوروي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو مشرانو په مرسته په خپل کور او کلی کې د لرغونو قلمي اثارو او نورو پخوانيو سندونو د شته والي په اړه معلومات را غونډ او د بلې ورځې ښتو مضمون په ساعت کې دې خپلو ټولګيوالو ته ووايي.

د وطن مينه

زمـوږ په ويـنـودې تـازه شي وچ بـــــوستان د وطن
يـوځـل دې ځـار پـه معشوقې شــي عاشقان د وطن
چې تـــــــــــرقي د قام وطن د ځان زينت وګڼو
خـوب د غفلت نـه دې بـيـدارې شــي زنــان د وطن
نسلونه واړه اينـده بـه محبان وي د قـــــــام
کـه پـه بـيـدارو پـيـو لـوی شـي فـرزنـدان د وطن
خويندو د خـدای لپاره پاڅئ دادی وخـت د همت
وګورئ څومره دې قومونه محبان د وطـــــــــن
ځـای د تعليم دی ستا جولی ای عزتمندې خورې!
لـوی هغه زوی کـړه چې سبا شي سخندان د وطـن
که په زيور د قومي عشق موږه سينګار جوړ که خپل
دا مې يقين دی نور به ونـــــــــــــشي نقصان د وطن
د قــوم وطــن عــزت زمـــوږه د عــزت معـيـار دی
د سـر پـه بـيـه عـزت اخـلـي شـاه زلـمـيـان د وطن
د غافل قـوم نـوم و نښان پـه دنيا نـه دی پـــاتې
تـاريـخ بـه هير نـه کـړي هيڅيرې بـهـادران د وطن
ددې دنيا په مخ هغه خلک ژونـــــدي دې پاتې
چې پـه کوښښ د چا ژونـدون شي جـاودان د وطن
اخـر ترڅـو بـه بې خبـر د قـام لـه حـال يـو داسـې
راځـئ چـې وکــړو لـړ د نــورو نـه پـرسـان د وطن
پـه کـومه لار دې رسـيـدلي قافـــــــلي د وطن
چـې مـوږ هـم بـوځـو پـه هـغـه لا رکــــاروان د وطن
کـه د قـران پـاک پـه تعليم مـو کـړې سينې روښانه
وريځې د جهل به شي لـرې له اســــمان د وطن
((سيده بشری بيګم))

ښځې او ټولنه

کورنۍ لومړنۍ انساني ټولنه ده چې له مور، پلار او اولادونو څخه عبارت ده. همدا کورنۍ دي چې له مجموعې یې ټولنه جوړېږي. په ټولنې کې ښځې او نارینه دواړه شته. له یوه پرته د بل په شتون ټولنه بشپړه نه ده. په ټولنې کې ښځې او نارینه یو له بله سره داسې اوبدل شوي دي چې د یو له نشتوالي پرته بل نیمګړی دی. همدارنګه نارینه او ښځې لکه د یوه مرغه دوې وزرې دي، که یو مرغه په یو وزر الوتنه نشي کولای، یوه ټولنه هم د بشپړوالي لپاره نارینه او ښځوته یو شان اړتیا لري.

د ښځې له شتون پرته به یوه کورنۍ او ټولنه څنګه وي؟

لوی څښتن تعالی فرمايي چې ژباړه يې داسې ده: "ښځې ستاسو لباس او تاسو د هغوی لباس ياست" له پورته وينا څخه څرګنديږي چې ښځه او نارينه يو د بل جزء دی. همدا شان نارينه د ښځې او ښځه د نارينه عيب پټوي او حيا يې خوندي کوي. ويلای شو چې په ټولنه کې ښځې او نارينه يو له بل سره لازم او ملزوم وي. نارينه او ښځې دواړه د ټولنې د ترکيب او جوړښت دوه عناصر دي. که له دې عناصرو څخه يو کمېږي، نو د ټولنې جوړښت ګډوډېږي.

سپېڅلي دين اسلام دواړو ډلو ته په مينې او محبت امر کړی، له کرکې، نفرت، حسد او کينې څخه يې منعه کړي دي او هرې ډلې ته يې بېل بېل حقوق ورکړي او ټاکلي دي.

ښځې د ټولنې نيمايي برخه جوړوي، ارزښت يې له نارينه ووسره برابر دی. د نړۍ پرمختګ د ښځو له برکته دی. د هر بريالي نارينه تر شا يوه ښځه شتون لري. وايي: ((ښځه په يوه لاس زانګو او په بل لاس جهان زنګوي.))

ښځه هغه موجود دی چې د ژوندانه په ټولو برخو کې له نارينه سره اوږه پر اوږه برخه لري. ښځه د کور ډيوه ده، ښځه د مينې او عاطفې جوهر دی، ښځه مور ده او مور د ټولنيزو چارو په ټولو اړخونو کې شريکه ده.

د افغانستان په تاريخ کې د پرله پسې جګړو او ناخوالو له امله ښځو ډېر زيانونه ګاللي دي، ښځه کونډه شوې، ښځه بوره شوې، ښځه وراره شوې، ښځه بې پلاره شوې، که هر څه غم او کړاو په نارينه راغلی، ښځو تر هر چا دمخه او تر هر چا زيات هغه ګاللی دی، د هرې جګړې لومړۍ قرباني ښځه وه.

له دې ټولو ناخوالو سره سره ښځه نه ده تسليم شوې، ښځو اتلولي ښودلې او خپل شهامت يې له لاسه نه دی ورکړی. پر هېواد د پردو د يرغل پر مهال د نارينه وو تر څنګ دربدلې، هغوی ته يې په سنګر کې ډوډۍ، اوبه او کارتوس وړي. که نارينه ټپي شوی د هغه پالنه يې کړې، له هغوی سره يې ورځينو کارونو ته اوږه ورکړې او د دې تر څنګ يې د خپلو اولادونو په روزلو کې هڅه او هاند کړی دی.

زموږ د هېواد د نارينه پوهانو، ليکوالو، شاعرانو او ملي شخصيتونو تر څنګ ښځو په

ټولو يادو برخو کې خپله ونډه ورکړې، ولې په تاريخ کې يې نومونه په زرينو کرښو ليکل شوي دي.

د دې نوميالو مېرمنو په ډله کې نازو انا، زرغونه انا، عايشه دراني، رابعه بلخي، بي بي نېکبخته، مېرمن الايي، غازي ادې، مېرمن عينو د مېوند اتله ملالۍ، ناهيد او په سلګونو نورې شاملې دي.

نن د تاريخ په دې پړاو کې ښځو خپل غړونه پورته کړي او په ټولنې کې يې خپل دريځ پياوړی کړی. اوس ښځې کولای شي په کابينه کې ګډون وکړي او د وزارتونو په لوړو څوکيو عملاً کار وکړي. ولسي جرګې او مشرانو جرګې ته ځانونه کانديد کړي او څوکۍ ترلاسه کړي. د هېواد د سرنوشت په ټاکلو کې له خپلو نارينه ورونو سره په ګډه پرېکړه وکړي او خپله رايه وکاروي. په ښوونځيو، پوهنتونونو او د هېواد د لوړو زده کړو په موسسو کې زده کړه او يا تدريس وکړي. لنډه دا چې اوس ښځو ته په ټولنه کې د خپل مسؤوليت او دندو د پرمخ وړلو لپاره تر پخوا زياته زمينه برابره شوې ده.

د متن لنډيز:

تاسې په پورتني لوست کې ولوستل چې ښځې د ټولنې نيمايي برخه جوړوي او په ټولنيزو او اقتصادي چارو کې له نارينه وو سره برابره ونډه لري. نارينه او ښځې دواړه د ټولنې د ترکيب او جوړښت دوه اساسي توکي دي. کله چې له دې توکو څخه يو کمېږي نو ټولنه او ژوندون له منځه ځي. که موږ ټولنه يو الوتونکي وګڼو، نو نارينه او ښځينه به د دې الوتونکي دوه وزرونه وي کله چې دا دوه وزرونه سالم وي، نو الوتونکی په ډېره اسانۍ او ښه توګه سره الوتنه کولای شي. په همدې ډول د ټولنې په جوړښت، ترقي او پر مختګ کې هم نارينه او ښځينه دواړه يو شان رول لوبولی شي. د همدې دوو په ګډه همکارۍ، يو بل ته په درناوی د يوې نېکمرغه، سوکالې، پرمختللې او رغنده ټولنې جوړېدل ممکن کېدای شي.

فعاليتونه

۱ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره پورتنی لوست د کتاب له مخې ولولي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونيسي.

۲ـ زده کوونکي دې لاندې جملې بشپړې کړي:

ښځې ستاسو (............) او تاسو د هغوی (...............) ياست.

ښځه د ټولنې .... برخه جوړوي.

ښځه او نارينه يو د بل لپاره د (   ) حيثيت لري.

د هر بريالي نارينه تر شا يوه (   ) شتون لري.

ښځه مور ده او (   ) د ټولنيزو چارو په ټولو اړخونو کې شريکه ده.

۳ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي په ټولنه کې د ښځې په ارزښت دې خبرې وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې د متن ستونزمن لغات پرتخته وليکي او نور زده کوونکي دې په وار سره د هر لغت د معنا په اړه خبرې وکړي.

٥ـ زده کوونکي دې د ټولګي د شمېر په پام کې نيولو سره په ډلو وويشل شي. هره ډله دې د ټولنې په جوړښت کې د ښځو په رول باندې ليکنه وکړي. د ډلې مشر دې د خپلې ډلې نظر ووايي.

٦ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره د لوست لنډ مفهوم ووايي

کورنی دنده

هر زده کوونکی دې په خپل ښار، کلي او چاپېريال کې د ښځو او نجونو په وړاندې د ناروا چلند کومه تر سترګو شوې بېلګه وليکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې نورو ته ولولي.

شاه حسين هوتک



زموږ ګران هېواد، د علم او ادب زانګو ده. ډېر پوهان، عالمان، ليکوال او شاعران يې په خپلې غېږ کې روزلي دي. ددې هېواد مشرانو او واکمنانو هم له علم او ادب سره مينه ښودلې او په دې توګه يې خپل نومونه ژوندي ساتلي دي. شاه حسين هوتک له دغو واکمنانو څخه يو و. هغه د عالمانو او ليکوالو درناوی کاوه، په درنه سترګه يې ورته کتل او په خپل دربار کې يې ځای ورکړی و. محمد هوتک د شاه حسين د دربار منشي و چې پخپله يو عالم، ليکوال او شاعر سړی تېر شوی. محمد هوتک د شاه حسين په امر (پټه خزانه) وليکله چې د يو شمېر پخوانيو پوهانو ليکوالو او شاعرانو د ژوند احوال او د اثارو بېلګې يې پکې راټولې کړې دي.

ايا تاسو تر اوسه د پټې خزانې نوم اورېدلی دی؟

د ملي مشر میرویس نیکه په زامنو کې د ده یو زوی میر حسین او یوه لور زینبه هم د پښتو ژبې تکړه شاعران وو.

میر حسین چې وروسته بیا په شاه حسین مشهور شو، په (۱۱۱٤هـ.ق.) کال د زابل په (سیوري) سیمه کې زېږېدلی دی. شاه حسین تر دولس کلنۍ پورې د وخت دودیز علوم لکه: فقه، تفسیر، منطق، بلاغت او ادبي فنون د هغه وخت له مشهور عالم ملا یار محمد هوتک څخه زده کړل. تر هغه وروسته مستقیماً د خپل ښاغلي پلار تر روزنې لاندې راغی. ولسي مشرتابه چلند او د هېواد د اداري چارو سمبالول یې له خپل پلار څخه زده کړل. خوارلس کلن و چې دپلار د مهربانۍ له سیوري څخه بې برخې شو. کله چې د ده مشر ورور شاه محمود هوتک په (۱۱۳٥هـ.ق.) کال د اصفهان د نیولو لپاره ایران ته لاړ، نو په کندهار کې یې شاه حسین پاچا کړ.

شاه حسین هوتک یو شاعر طبعیته او علم پالونکی پاچا و. په دربار کې یې عالمانو، ادیبانو او شاعرانو ډېر عزت او لوړ مقام درلود. له خلکو سره یې په مهربانۍ او زړه سوي چلند کاوه. له علم سره د شاه حسین مینه او ادبپالنه تر دې کچې وه چې په هره اوونۍ کې به یو وار په سلطنتي کتابتون کې یو علمي او ادبي مجلس او کله مشاعره جوړېده. هغې ته به یې د کندهار عالمان، مشهور ادیبان او شاعران بلل او هغه ورځ به یې په علمي او ادبي بحثونو او د شعرونو په اورېدلو تېروله. د (پټې خزانې) ارزښتمن کتاب د ده په امر ولیکل شو. همدارنګه د ده په امر کاتبان پېښور ته ولېږل شول چې د رحمان بابا له دیوان څخه څو نسخې را نقلې کړي او کندهار ته یې راوړي. کوم کارونه چې د هېواد د فرهنګي ودې په اړه د ده د حکومت په پېر کې شوي دي د زیاتې منني او یادونې وړ دي. شاه حسین هوتک پښتو او فارسي شعرونه ویلي دي. یو مرتب او بشپړ دیوان یې درلود. له عالمانه او شاعرانه شخصیت سره سره له پوځي او عسکري ورتیا څخه هم بې برخې نه و. د ده د سلطنت په موده کې وروسته نادر شاه افشار پر کندهار حمله وکړه. څه د پاسه یو نیم کال یې د نادرشاه لوی لښکر پرې نښبود چې د کندهار ښار ته ننوزي. شاه حسین د مېړانې له امله نادري ځواکونو ونشول کړای په یو نیم کال کې د کندهار د ښار یوه کلا هم فتح کړي.

شاه حسین هوتک په کندهار کې تر پنځلس کلنې واکمنۍ وروسته د (۱۱٥۱) هجري

کال د برات میاشتې په لسمه په مازندران کې وفات شو. د شاه حسین هوتک یو غزل چې محمد هوتک په پټه خزانه کې را اخیستې ده، دلته د ده د کلام د نمونې په ډول راوړو:

بېلتانه دې د غمو په چپاو چور کړم   په تیارو کې د هجران یې له تا دور کړم
بېلتانه دې هسې اوښکې را خپرې کړې   ستا د فکر په گرداب کې تل عبور کړم
د فراق پرې مې کښېوت ومرى ته   په جهان کې یې رسوا لکه منصور کړم
په وصال دې هم ناښاد یمه دلبرې   د بېلتون فکر په زړه کې ناصبور کړم
د باڼوغشی مې وخوړ په ځیگر کې   غمازانو په غمزو غمزو مهجور کړم
خلق یاد زما د عشق په لېونو کا
زه (حسین) محبت هسې مشهور کړم

د متن لنډیز:

د میرویس نیکه په اولادونو کې شاه حسین هوتک او زینبه د پښتو ژبې شاعران وو. شاه حسین هوتک د زوکړې کال (۱۱۱٤هـ.ق.) ښودل شوی دی. په دولس کلنۍ کې یې د وخت دودیز علوم د هغه وخت له مشهور عالم ملا یار محمد خان هوتک څخه زده کړل. له هغې وروسته د خپل پلار تر روزنې لاندې راغی. څوارلس کلن و چې له پلارني سیورې څخه بې برخې شو. کله چې یې ورور شاه محمود هوتک د اصفهان د نیولو لپاره ایران ته ولاړ، نو شاه حسین هوتک په کندهار کې پاتې شو. دی عادل او مدبر پاچا و. دربار ته یې عالمانو، شاعرانو او فضلاوو لار درلوده. کوم کارونه چې د هېواد د فرهنگي ودې په اړه د ده د واکمنی په دوران کې شوي دي، د زیاتې منني او یادونې وړ دي. شاه حسین هوتک په پښتو او فارسي شعرونه ویلي دي. د شعر یو مرتب او بشپړ دیوان هم لري. د عالمانه او شاعرانه شخصیت تر څنگ له پوځي او عسکري مهارت څخه هم بې برخې نه و. پر کندهار د نادر افشار تر تاړاکونو پورې په کندهار کې پاچا و. له ښار څخه یې په مېړانې دفاع کوله. کله چې د نادر افشار ځواکونو کندهار ونیو، شاه حسین هوتک یې اثیر او مازندران ته ولېږه. په (۱۱۵۱هـ.ق.) کال کې مسموم او هلته مړ شو.

فعالیتونه

۱ــ د زده کوونکو له ډلې څخه دې څو تنه لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي:

- د میرویس نیکه په اولادونو کې څوک د پښتو ژبې شاعران وو؟
- د (پټې خزانې) ارزښتمن کتاب د چا په امر ولیکل شو؟
- شاه حسین هوتک د کوم مشهور عالم څخه زده کړې وکړې؟
- شاه حسین هوتک څو کلن و چې پلار یې مړ شو؟
- شاه حسین په کوم کال او چېرته زیږېدلی دی؟
- شاه حسین هوتک په کوم کال، چېرته مړ شو؟

۲ــ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د شاه حسین هوتک د شخصیت په اړه دې خبرې وکړي.

۳ــ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي په وړاندې لاندې لغات معنا او په جملو کې استعمال کړي:

واکمن، لرغونی، اړوند، کچې، کتابتون، وده، بشپړ، ځواکونه، چور، پړی.

٤ــ دوه تنه زده کوونکي دې پورته نظم په لوړ اواز او شعري لحن سره ووايي.

٥ــ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د منظوم متن اصلي مطلب دې نورو ټولګیوالو ته بیان کړي.

٦ــ دوه تنه زده کوونکي دې د متن په اړه خبرې اترې سرته ورسوي.

٧ــ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، یو یو بیت دې په تخته ولیکي او د تشبیه طرفین دې پکې وښیي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې د شاه حسین هوتک د ادبي شخصیت په اړه یوه مقاله ولیکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې ټولګیوالو ته واوروي.

ټولنه او نوی نسل

هره ټولنه له ماشومانو، پېغلو، ځوانانو او زړو څخه جوړه شوې ده. هر یو یې پر خپل ځای ډېر ارزښت لري. ماشومان د سبا ورځې مېندې او پلرونه دي، هغوی سمې او سالمې روزنې ته اړتیا لري. پېغلې او ځوانان د عقل او متو زور لري. هغوی د یوې ټولنې د ملا تیر جوړوي.

که سم و روزل شي، د ټولنې ښه معماران به وي، که پام ورته نه وي شوی، نو کېدای شي د ټولنې بنسټونه ونړوي او پر بله یې واړوي. مشرانو او زړو خلکو تر شا ډېرې تجربې او د ژوند خوږې او ترخې پرېښې دي. هغوی د درناوي وړ دي.

پېغلې او ځوانان څنګه د یوې ټولنې بنسټ ټینګولای شي؟

ځوانان او پېغلې د يوې ټولنې د ملا تير جوړوي. هغوی د ټولنې تر ټولو ستر او ارزښمن پوړکی دی. څومره چې هغوی په ښوونه او روزنه ښه سمبال وي، څومره چې يې روزنه او تربيه رغنده او سالمه وي، څومره چې د ټولنې د خوا خوږۍ احساس ورسره وي، په هماغه اندازه به يې د ټولنې لپاره ارزښت او اهميت زيات وي. د ټولنې لوړوالی او ځوړوالی د پېغلو او ځوانانو په سمې روزنې، نېکو اخلاقو او لوړ احساس پورې اړوند دی. په يوې ټولنې کې د ناخوالو په وړاندې بې توپيره پاتې کېدل د پېغلو او ځوانانو ارزښت را ټيټوي. پېغلې او ځوانان ستر رسالت پر غاړه لري. هغوی دنده لري چې ټولنه سمې لارې ته رهبري کړي. په ټولنې کې زړو ناسمو دودونو او رواجونو ته د پای ټکی کېږدي. د بېلګې په توګه وګورئ، افغاني ټولنه له يو لړ ناوړه دودونو سره لاس او ګرېوان ده، پېغلې په بدو کې ورکول کېږي. پېغلې او ځوانان له خپلې خوښې پرته يو بل ته ودېږي. په ودونو او مړو کې ملا ماتوونکي دودونه او رواجونه سرته رسېږي او همداسې نور نامنلي او ناګټلي دودونه او رواجونه. پېغلې او ځوانان بايد له خپلو مشرانو سره کښېني او له هغوی سره ددې دودونو د منفي او ناوړه اړخونو په اړه خبرې وکړي او هغوی ته روښانه کړي چې نننۍ ټولنه نوې غوښتنې او نوی ژوند غواړي. اوس نړۍ د يو کلي بڼه غوره کړې ده. د يوې ټولنې دود او فرهنګ ډېر ژر په يوې لارې نه په يوې لارې پر بلې ټولنې اغېز کوي.

د نشه يي توکو په کارونې کې يو شمېر ځوانان بې توپيره پاتې شوي دي. په داسې حال کې چې دوی کولای شي په کلکه د هغې مخه ونيسي او پرې نږدي چې پېغلې او ځوانان په هغې روږدي شي.

راځئ چې په ګډه د استاد ګل پاچا الفت د (نوي نسل) تر سرليک لاندې نثر ولولو او خوند ترې واخلو:

"له ځمکې نه بخار پورته شو. له بخارنه وريځ پيدا شوه. له وريځې نه باران ووربده. له بارانه د پسرلي ګلونه پيدا شول. له ګلونونه خوشبويي پيدا شوه.

وګورئ! مور او لور يا پلار او زوی څومره فرق لري؟

هغه تفاوت چې د باران اوګلونو یا د ځمکې، اوبو او بوټو تر منځ وینئ، د یوه او بل نسل هغه تفاوت همدومره دی. که اولادونه مېندو غوندې وای، نو له غرونو څخه به لعلونه، نه پیدا کېده.

له دریابونو څخه به مرغلرې نه راوتلې. له ابشارنه به برېښنا نه راتله. د ړندو اولادونه به رانده وو. له کڼو نه به کاڼه زېږېدل.

اوس پوه شوئ! چې نوی نسل او زوړ نسل یو رنګه نه وي.

که څوک خپل زوی ته زړه بوډۍ په نکاح اخلي یا خپله پېغله لور اتیا کلن بوډا ته ورکوي، ښه نه کوي. زړه تربیه او نوی نسل همدغسې وګڼئ"

د متن لنډیز:

پېغلې او ځوانان د یوې ټولنې په جوړښت کې ارزښتمن او مهم رول لري. په دې معنا، همدا پېغلې او ځوانان دي چې د ټولنې جوړښت ساتي او ټینګوي یې. دوی باید سم وروزل شي، ارزښت او اهمیت ورته په ګوته شي، خپل مسوولیتونه او دندې و پېژني او خپل راتلونکي ژوند کې دې جوړښت ته په ارادي ډول وګوري او خپل مسؤولیت دې سرته ورسوي.

پردې ټکي پوهېدل اړین دي چې د بامسؤولیته ځوان نسل د رامنځته کولو لپاره لا له هماغه کوچنیوالي او ماشومتوب څخه د هغوی سمې او رغندې روزنې ته بشپړ پام وشي او په مسؤولیت وروزل شي، که نه نو خدای مه کړه بیا به وخت تېروي او د لاس موښل به د ټولنې د جوړښت له شلېدو پرته بل څه لاس ته رانه وړي.

فعالیتونه

۱ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي، په یوې ټولنې کې د ځوان نسل په رول دې خبرې وکړي.

۲ـ یو زده کوونکی دې متن په لوړ اواز ولولي نور زده کوونکي دې مطلب ته ځیر شي.

۳ـ یو تن زده کوونکي دې په وارسره د لوستل شوي متن لنډ مفهوم بیان کړي.

٤ـ دوه تنه زده کوونکي دې په یوې ټولنه کې د مشرانو په رول باندې خبرې وکړي.

٥ـ زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي، هره ډله دې له ځوان نسل او مشرانو څخه خپلې غوښتنې او د هغو ځوابونه ولیکي او د ډلې استازی دې د نورو په وړاندې ولولي.

٦ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- کورنۍ تربیه او روزنه د ځوانانو په ژوند څه اغېز لري؟
- د ټولنې په اړوند د یو ځوان مکلفیت به څه وي؟
- ایا یوازې کورنۍ د ځوانانو پر روزنې اغېز لري، که نور لاملونه هم شته؟
- د با مسؤولیته ځوان نسل درامنځته کولو لپاره باید څه وکړو؟
- دوه تنه زده کوونکي دې د (نوي نسل) نثر لنډ مفهوم نورو ته ووایي.
-

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې ((د یوې ټولنې په ودانۍ او پرمختګ کې د ځوان نسل اغېز)) تر سرلیک لاندې یوه مقاله ولیکي چې تر لسو کرښو کمه نه وي او ټولګي ته دې راوړي.

هڅه دې وشي چې مقاله ادبي رنګ ولري.

زغم لویه زړور تیا ده.

علامه پوهاند عبدالشکور رشاد



د پښتو ادبیاتو په معاصر تاریخ کې ځینې داسې نومیالی څېرې شته چې په خپلو نه ستړې کېدونکو هلو ځلو سره یې د هېواد د فرهنګ، ادبي او تاریخي ویاړونو د خوندي ساتلو او پیاوړي کولو په لاره کې له ویاړه ډک ګامونه پورته کړي دي. د دې څېرو یاد تلپاتې دی او په ژبه او ادب کې ځانګړی مقام لري. په دې لوست کې به د یو درانه لیکوال، شاعر، تاریخپوه او څېړونکي، د ژوند او کار په اړه معلومات در کړو.

ـ تاسې د پوهاند عبدالشکور رشاد نوم اورېدلی دی؟ د هغه په اړه څه معلومات لرئ؟

پوهاند عبدالشکور رشاد یو نومیالی لیکوال، پېژندل شوی نامتو عالم، څېړونکی، ادیب، تاریخ پېژندونکی او خوږ ژبي شاعر دی.

عبدالشکور رشاد د عبدالغفور خان زوی او پر (۱۳۰۰) لمریز کال په کندهار کې زېږېدلی دی. دی لا وړوکی و چې قرآن عظیم الشان او د وخت د دودیزو علومو یو شمېر کتابونه یې لوستي و، خو رسمي زده کړې یې په (۱۳۰۶) لمریز کال د گنج په نامه د کندهار په یوه لومړني ښوونځي کې پیل کړې. د ښوونځي له فراغت وروسته په (۱۳۱۲) هجري کال د کندهار په مطبعه کې د پښتو مجلې د مصحح په توگه وټاکل شو او دا یې د لومړنی رسمي دندې پیل و. څرنگه چې استاد له تدریس سره زیاته مینه درلوده او هیله یې دا وه چې ښوونکی شي، نو د (۱۳۱٤) لمریز کال د لړم میاشتې په دولسمه نېټه د کندهار په دویم لمبر ښوونځي کې ښوونکی شو. دا وخت یې عمر ډېر کم و، نو ځکه د کوچني معلم په نوم مشهور شو. تر (۱۳۲۱) هجري کال پورې په احمدشاهي ښوونځي او د احمدشاه بابا په لېسه کې کله د ښوونکي او کله د سرښوونکي په توگه دنده ترسر کوله. په (۱۳۲۷) لمریز کال استاد د پوهې او لوړو زده کړو د تر لاسه کولو لپاره په خپل شخصي لگښت هند ته لاړ او تر ۱۳۳٤ لمریز کال پورې یې په هغه هېواد کې د ژبو، ادبي فنونو او تاریخي مسایلو په باب مطالعې او زده کړې وکړې. استاد په هند کې اووه کاله پاتې شو. په دې اووه کلنه موده کې یې پرله پسې څېړنو او مطالعې ته زور ورکړ او د هغه هېواد د تاریخ له مخې یې په هند کې د افغاني واکمنیو په حال ځان خبر کړ او په سلگونو پاڼو یې په دې موضوع لیکنې وکړې چې لودي پښتانه او سوري پښتانه تاریخي کتابونه یې د همدې سفر د څېړنو پایلې دي.

کله چې استاد له هندوستان څخه بېرته هېواد ته راستون شو، د هغې مینې له امله چې له علمي څېړنیزو چارو سره یې لرله پښتو ټولنې (پښتو اکاډمی) ته مراجعه وکړه او ددغې ټولنې مسلکي غړی او مرستیال شو. استاد په همدغه وخت کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کې تدریس هم کاوه. اروانښاد رشاد د علمي وړتیا پر بنسټ په ۱۳٤۱ هجري کال کې د لیننگراد په پوهنتون کې د پښتو څوکی د استاد په توگه کار کړی

دی. استاد په دې موده کې د تدریس تر څنګه علمي څېړنې هم کولې. هېواد ته له راستنېدو وروسته د ۱۳۴۳ لمریز کال د تلې په میاشت کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کې د استاد په توګه ومنل شو. فاضل استاد علامه رشاد پر پښتو سربېره په دري، عربي، انګلیسي، روسي، اردو، جاپاني ژبو باندې هم پوهېده. ارواښاد رشاد د خپل ژوند په اوږده بهیر کې په پښتو او دري ژبه یو شمېر اثار او مقالې لیکلي او خپرې کړې دي. هغه په بېلا بېلو علمي موضوعاتو، لکه: ژبپوهنه، ادبیاتو تاریخ، هنري نثر، ادبی فنون، غوره اشعار او نورو کې په لس ګونو کتابونه او په شلګونو توکه څېړنیز قلمي اثار لیکلي دي.

ځینې یې دادي:

لودي پښتانه، سوري پښتانه، د څمکنو میا عمر، د پاني پت قهرمان، د خیرالبیان لغتونه، د پټې خزانې فرهنګ، د احمد شاه بابا د دیوان غوره چاڼ، لس مقالې او نور... .

نا چاپ اثار: زیات شمېر نور اثار یې تر اوسه نه دي چاپ شوي چې مهم یې: لودي پښتانه دویم ټوک، سوري پښتانه دویم ټوک، ملي قهرمان، غازي اکبر خان، سردار محمد داود خان شهید، اعلیحضرت امان الله شاه غازي، د کارنامو مېرمنې دي.

ارواښاد رشاد د (۷۰) کلنو علمي، څېړنیز او فرهنګي خدمتونو له تر سره کولو وروسته، د ۱۳۸۳ لمریز کال د لیندۍ میاشتې په یوولسمه د (۸۳) کالو په عمر له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې.

جنازه یې په ډېر درنښت د کندهار پوهنتون په انګړ کې خاورو ته وسپارل شوه.

د استاد لاندې شعر ولولئ او پند ترې واخلئ:

حریت

د مجنون ژوندون به څه وي چې لیلا مري
څه په کار دی تش کالبد چې زړه د چا مري
زړه ډیوه ده دا د ختو په قالب کې
خدای و مه کړه چې به دا ډیوه د چا مري
چې مرغه لاړ شي قفس د ماتېدو دی
که به زړه مري تش ګوګل دې لا پخوا مري
هېڅ ممکن نه دی پایښت د هغه پرې (بدن)
زړه چې مري کالبوت مجبور دی خامخا مري
(حریت) د هر ملت د بدن زړه دی
که دا نه وي، هم ملت مري هم بقا مري

(پوهاند عبدالشکور رشاد)

د پوهاند عبدالشکور رشاد د هنري نثر دا لاندې بېلګه هم وګورئ او مفهوم ته یې ځیر شئ.

جبار غازي

زموږ کور د کندهار د احمد شاهي ښار د بابړو په کوڅه کې و، د کوڅې په خوله کې لومړی دوکان د علي مامدکاکو و. تازه مېوې به یې خرڅولې. ور پسې دوکان د غازي و.

غازي شکرې، لوزونه، کولچې او شابرې خرڅولې، کله کله به یې بادامي نکل او خمیرصندل هم راوړې و. زموږ د کور کوچنیانو ته به مشرانو هر سهار دوې دوې ایکی ورکولې، ایکی پارسیوانانو پیسه بلله او د کابلۍ روپۍ شپېتمه برخه ارزښت یې درلود.

موږ به ځاښت مهال د غازي دوکان ته تلو او په دغو ایکیو به مو شکرې او لوزونه را نیول.

ښه مې په یاد دي په دغو خوړو کې یو ډول شکرې وې چې ژبې به مو بللې او په ځتلو ځتلو به خوند ځنې اخیسته کېده.

یوه ورځ چې زه د شکریو د رانیولو لپاره د کوڅې خولې ته ولاړم، که ګورم د علي مامدکاکو د دوکان مخې ته ګڼه ګوڼه جوړه ده، خلک را ټول دي او د ګڼې ګوڼې مرکز ته د رسېدلو لپاره زورونه وهي. زما څخه د غازي دوکان ته د رسېدلو هڅه پاته شوه، د علی مامد کاکو د دوکان د ګڼې ګوڼې د معلومولو په تلاش کې شوم. زه دغه وخت څلورکلن هلک وم. د خلکو د پښو تر منځو مې په ډېر زحمت ځان د ګڼې ګوڼې مرکز ته ورساوه. که ګورم هلته یو سپین ږیری سړی د علي مامد کاکو د دوکان مخې ته د غوړیو پر یو تش ټیم ناست دی. خلک یې په ډېر ادب لاسونه مچوي، دعاوې ځنې غواړي. دی هم چاته دعا ورکوي، چاته چتې ورکوي، یعنې پر اوږو یې په سپکه څپېړه ټپوي.

عجبه داده چې دغه پر خلکو ګران سړي کمیس نه و اغوستی پر لڅ ځان یې صدرۍ اغوستې وه، بر بنډ موټان او په وېښتو پټ ځیګر یې ښکارېدل، ما تر دغه وخته پورې داسې څوک نه و لیدلی چې پر لوڅ ځان دې یې صدرۍ اغوستې وي.

زه هیښ پیښ تللی وم او په خورا حیرت مې بې کمیسه سپین ږیري ته کتل.

د بې کمیسه سپین ږیري د لاس مچولو مسابقه اوږده شوه. ما له ګڼې ګوڼې څخه د راوتلو هڅه پیل کړه، خو له ګڼه ګوڼې راوتل را ته ګران و. علي مامد کاکو زما په ترهورتیا پوه شو. په غېږ کې یې را واخیستلم او تر ګڼې ګوڼې را وایستلم. تر ګڼې ګوڼې چې را ووتلو، علي مامد کاکو زه له غېږې کښته کړم. ما علی مامد کاکو وپوښتېده: دا څوک دی؟ علی مامد کاکو را ته وویل:

دا جبار غازي دی. د میوند درنې غزا (د برات اووه لسمه کال ۱۲۹۷ هجري قمري) را هیسې دی کمیس نه اغوندي، دغه وخت د مېوند د درنې غزا شپږڅلویښت کاله تېر شوي و.

ما علی مامد کاکو ته په خورا مهربانۍ وویل: ولې نو کمیس نه اغوندي؟

علی مامد کاکو را ته وویل:

ده د مېوند په درنه غزا کې یو بدمرغه انګریز سپاهي را ځملولی و، غوښته یې چې د هغه په وینو د جنګ ډاګ سور کړي، بل انګریز سپاهي جبار غازي تر لمنه ونیوه او په داسې زور یې کش کړ چې د غازي له منګولو یې ځملولی ښکار خوشې شو او په منډه یې ځان د

غازي له توري بچ کړ. خشمېدلی غازي چې پر خلاصونکي انګریز سپاهي مخ راوګرځاوه، هغه ځان د غازي د توري له زده (وهلو) ژغورلی و. خشمېدلي غازي ګرېوان تر لمنې څېرې کړ، لستوڼي یې وشکول، کمیس چې یې وغورځاوه ویل یې: بیا دې په خدای که واغوندم، ته بدمرغه که نه وای انګریز کافر به مې ولې له لاسه ووت.

ما علي مامد کاکو ته وویل: خلك یې لاسونه ولې ورمچوي او دعاوې ځنګه ځنې غواړي؟

علي مامد کاکو را ته وویل: دا خو غازي دی، د خدای په لاره کې سر ورکولو ته حاضر شوی و. خدایﷻ خو د دغسې سرتېرو توریالیو نازونه اخلي. د ده خواست نه ردوي، ځکه نو خلك د تبرك لپاره د ده لاسونه مچوي او د ده په روی له خدایه مرادونه غواړي.

له دې صحنې درې شپېته کاله تېر شوي و چې افغانو غازیانو د خدایﷻ په فضل سره، سره پوځونه مات کړل او خونخواره مهاجمین یې په ژېړ مخ د افغانستان له خاورې وایستل.

د متن لنډیز:

پوهاند عبدالشکور رشاد د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې یو نومیالی ادیب، مشهور لیکوال او خوږ ژبی شاعر دی.

د ژبې، ادب، تاریخ په بېلا بېلو موضوعاتو کې یې په لسګونو کتابونه لیکلي دي چې ځینې یې چاپ او ځینې یې ناچاپ او په قلمي ډول موجود دي او د پښتو بڼ پرې ښکلی دی.

استاد د خپل عمر په اوږدو کې د پښتو ژبې او ادب او د خپل هېواد د خدمت لپاره په سوونو شاګردان روزلي دي او د ټولو پوهو افغانانو په تېره ځوانانو ته یې د یو ژوندي کتابتون مثال درلوده.

پوهاند رشاد د عمر تر پایه پورې خپل هېواد، خپلې ژبې او خپلو خلکو ته رښتینی خدمتګار پاتې شوی. په اوو ژبو پوهېده، لوستل او لیکل یې پرې کولای شول.

ده د خپل ژوند په اوږده بهیر کې په لس ګونو ټوکه ډېر ارزښتمن څېړنیز اثار او په

پنځه ګونو ټوکه غوره اشعار او شل ګونه ټوکه خپرنیز قلمي اثار په پښتو او دري ژبه افغان ولس ته په میراث پرې ښېني دي.
په ۱۳۸۳ لمریز کال د (۸۳) کالو په عمر یې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.
جنازه یې له کابل څخه کندهار ته ولېږدول شوه او د کندهار پوهنتون په انګړ کې په ډېر درنښت خاورو ته وسپارل شوه.

فعالیتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او بیا دې په وار سره یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راشي، د پوهاند رشاد د ژوند او اثارو په اړه دې نورو ټولګیوالو ته معلومات ورکړي.
۲ــ دوه دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي، د موضوع په اړه دې یو له بله سره خبرې وکړي، بېلګه:

اجمل: اتله! ته د استاد رشاد شاګرد یې؟
اتل: هو! زه د پوهنځی په لومړي ټولګي کې د رشاد صاحب شاګرد وم.
اجمل: تاسو ته یې د کوم مضمون تدریس کاوه؟
اتل: رشاد صاحب موږ ته د ژبپوهنې مضمون درس راکاوه.
اجمل: تا د استاد عبدالشکور رشاد لیکنې لوستي دي؟
اتل: هو! ما د هغه دوه مقالې په کابل مجله کې لوستې دي.
اجمل: د استاد چاپ شوي کتابونه درمعلوم دي؟
اتل: هو! هغه څو چاپ شوی اثار لري، ما یې د پټې خزانې فرهنګ په نامه اثر لوستی دی.
اجمل: اورېدلي مې دي چې د استاد ډېرې ژبې زده وې.
اتل: استاد رشاد سربېره په پښتو ژبه، پر عربي، فارسي، اردو، روسی، سانسکریټ او

جاپاني هم پوهېده.

اجمل: د استاد چاپ شوي اثار په کومو ژبو دي؟

اتل: استاد رشاد په پښتو او دري ژبو چاپ شوي اثار لري.

۳ـ دوه تنه زده کوونکی دې په وار سره د (حريت) تر سرليک لاندې شعر لنډ مفهوم بيان کړي.

٤ـ زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي، هرې ډلې ته دې دنده ورکړل شي چې په متن کې ځانګړي نومونه، جنس نومونه، عام نومونه او جمعيت نومونه سره بېل کړي او د ډلې مشران دې د ټولګي په وړاندې د خپل ګروپ نظر وړاندې کړي.

٥ـ زده کوونکي دې د لاندې کلمو معنا پيدا او د تختې پر مخ دې په جملو کې وکاروي:

ستونزه، ډيوه، پرېي، حريت، بنسټ، بهير، لوريينه، چمتو، څېړنيز، نړۍ، صدرۍ، ايکۍ، ګڼه ګوڼه، هيښ پيښ.

٦ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره نظم په لوړ اواز ووايي.

٧ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- پوهاند رشاد د پښتو ادبياتو د کومې دورې په ليکوالو کې راځي؟
- استاد ولې په کوچني معلم سره يادېده؟
- د استاد د دري چاپ او دري نا چاپ اثارو نومونه واخلئ؟
- د استاد رشاد جنازه چېرته خاورو ته وسپارل شوه؟

٨ـ دوه تنه زده کوونکي دې د استاد رشاد په چاپ شوو اثارو خبرې وکړي.

٩ـ دوه تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي په وړاندې د جبار غازي نثر لنډ مفهوم بيان کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د استاد رشاد د (حريت) تر سر ليک لاندې شعر ولولي، لنډ مفهوم دې يې وليکي او په بله ورځ دې ټولګيوالو ته ووايي.

کیسه

کیسه د انسان له پیدایښت نه تر نن پورې د انساني ژوند یو اړین توک ګرځېدلی دی. ډېرې داسې رښتینې او جوړې شوې کیسې شته چې روزنیز، اخلاقي او معلوماتي مفاهیم پکې نغښتې وي. اورېدل او لوستل یې اورېدونکو او لوستونکو ته روزنیزې ښېګڼې لري. د ژوندانه، اخلاقو، کړو وړو او عاداتو په سمون کې ډېره مرسته کوي. ځینې کیسې داسې وي چې په یوه ولس او یا یوې ټولنې پورې اړوندې وي، خو ځینې نورې بیا په ټو ولسونو او بېلا بېلو ټولنو کې شریکې وي. کیسه که په یوه ولس پورې اړه ولري یا ډېرو پورې، خو له اخلاقي ښېګنو ځخه یې ټول ولسونه په خپل ژوندانه کې ګټه اخستلای شي.

په دې لوست کې به یوه روزنیزه کیسه ولولئ:

تاسو د خپلو مشرانو له خولې څخه کومه کیسه اورېدلې؟

يوه عالم د يوه پاچا په وړاندې خبرې کولې، ناګهانه يې د خبرو په منځ کې وويل: (په هندوستان کې يوه ونه ده، که مېوه يې څوک وخوري، نو سړی نه زړېږي او نه مري.) پاچا چې دا خبره واورېدله، نو پر هغه ونې مين شو. سودا واخيست چې دا به څه رنګه پيدا شي، خو له هغه عالم نه يې پوښتنه نه کوله چې دا ونه به چېرته او څنګه وي. پاچا خپل باوري سړی هندوستان ته ولېږه او ډېر مال يې ورته ورکړ. ورته ويې ويل: دا پېسې له ځانه سره واخله، دا دولت لګوه او نورې به هم درولېږم. تر هغه مه راځه چې ددغې ونې مېوه دې نه وي راوړې. سړی روان شو. هندوستان ته ورسېده. له هر چا به يې پوښتنه کوله، هغه ونه په کوم ځای کې ده چې سړی يې مېوه وخوري، نو بيا همېشه ژوندی وي او نه زړېږي؟ خلکو به د دې خبرو په اورېدو خندل، چا به ورپورې ټوکې کولې، چا به ويل دا لېونی شوی دی. چا به ويل موږ ته معلومه نه ده. ځينو فکر کاوه کېدای شي دا ونه چېرته وي، ځکه چې دا سړی ور پسې ګرځي. يو شمېر به ويل که وي، نو په پلاني ځنګل کې به وي. بل ځای مو ګومان نه کېږي. چا به ويل پلاني ځنګل کې يوه لويه ونه ده چې څوکه يې چا ته نه ښکارېږي او بېخ يې هم نه معلومېږي او مېوه يې هم چا له په لاس نه ورځي. که چېرې هغه وي نو شک نشته. هر چا به ورپورې مسخرې کولې. دی غريب به په ځنګلونو، غرونو، مېرو او دښتو کې ګرځېده. په پای کې تر ډېرو پوښتنو، ګروېږونو نهيلی راستون شو. ډېر خپه او پاچا ته د عذر د وړاندې کولو فکر يې کاوه.

په يو ځای کې يې شپه شوه. هلته يې د يو سړي له خولې و اورېدل چې زموږ په دې کلي کې لوی عالم او ډېر ښه سړی دی. نوموړي په زړه کې وويل، ور به شم که څه دعا راته وکړي. سمدلاسه پاڅېد، هغه عالم ته ورغی، ورته ويې ويل: "صاحبه، دعا را ته وکړه چې ايمان مې خدایﷻ سلامت کړي او په خير سره وطن ته ورسېږم." هغه دعا ورته وکړه او بيا يې ترې پوښتنه وکړه: "چېرته تللی وې؟" قاصد ورته ټوله کيسه وکړه. عالم له اورېدو وروسته ورته وويل: ((تاسو د هغه خپل پاچا په خبره نه ياست پوه شوي. هغه ونه د علم ونه ده. يعنې څوک چې د علم مېوه وخوري، نو تل ژوندی وي. د تلپاتې ژوند معنا دا ده چې خدایﷻ

وپېژني. نېکي بدي ورته معلومه شي، نېک عمل وکړي او له بدی نه ځان وساتي. کتابونه ولیکي، زده کوونکي وروزي. که دا سړی مړ هم شي هېڅ غم يې نشته، ځکه هلته يې روح ژوندی او دلته يې نوم ژوندی وي او ثواب يې داسې کېږي، لکه يو ژوندی سړی چې نېکي کوي او ثواب يې کېږي.)) سړي ورته وويل: ((صاحبه موږ هم دومره پوهېږو. نادانان نه يو. که چېرې هغه د علم نوم یاد کړی وای، موږ به پوه شوي وو چې هدف يې علم دی. هغه د ټولو خلکو په وړاندې ونه یاده کړه. په دې خو هر څوک پوهېږي چې علم د يو شيز نوم دی او ونه د بل شيز.)) هغه عالم وویل: ته بیا پوه نه شوې. مثال به درته ووايم. يو سړی وي، د چا پلار وي او د چا زوی، د چا لسمی وي او د چا نیکه، د چا خورې وي او د چا ماما، د چا تره وي او د چا وراره، د چا تروزی وي او د چا تربور، د چا ورور وي او د چا اشنا، د چا دښمن وي او د چا دوست. ته ګوره همدغه يو سړی دی او له دې نومونو څخه هر نوم چې په خپل ځای کې ورته څوک وايي، ویلی شي. سړي وویل: ښېشکه. هغه عالم وویل داسې علم ته هم دواړه نومونه ویلای شي، که دې خوښه وي نو ورته علم وایه او که نه د ژوندانه ونه ورته وایه. دواړه نومونه يو شی دي، هېڅ توپیر پکې نشته.

سړي چې دا خبرې واورېدې د زړه تسلي يې وشوه. له عالم نه يې رخصت واخیست او د خپل کور په لور روان شو. ښار ته له رسېدو وروسته د پاچا دربار ته ورغی. پاچا ترې پوښتنه وکړه، ووایه مېوه دې وموندله او که نه؟

سړي ورته له سره کیسه شروع کړه. خپل ربړېدل او په ملکونو او په غرونو او په بیابانونو ګرځېدل او د خلکو مسخرې يې ورته ټولې بیان کړې. پاچا ډېر خفه شو. ويې ویل ستا خواري بې ګټې شوه او زما مطلب پوره نشو. سړي ورته د هغه عالم خبره پوره واوروله. پاچا د هغې په اورېدو ډېر خوشحال شو. سړي ته يې د هغه د ستونزمن سفر په وړاندې دوه برابره دولت ورکړ. پاچا خپل پاتې عمر د علم او د عالمانو په ساتنه او پالنه کې تېر کړ.

ويې ویل: ((واړه او لویان ټول دې زده کړه وکړي او علم دې حاصل کړي.))

د متن لنډیز

پورته کیسه د علم او د پوهې د ارزښت په اړه ده. په کیسه کې له یادې ونې څخه موخه علم او پوهه ده.

علم نه زړېږي او تل تر تله وي. که یو عالم له ژونده سترګې پټې کړي، بیا هم د خپل علم له امله یادېږي، نوم او یاد یې د خلکو په ذهنونو او ژبو کې ګرځي. دغسې عالمان او پوهان د خپل علم له برکته تر پېړیو، پېړیو پورې ژوندي وي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې د کیسې متن په پټه خوله ولولي او مفهوم ته دې ځیر شي.

۲ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د کیسې لنډ مفهوم نورو ټولګیوالو ته ووایي.

۳ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې د بلې ډلې په وړاندې د کیسې ویلو سیالي وکړي.

٤ـ څو تنه زده کوونکي دې د کیسې لنډیز په خپلو خبرو کې د ټولګي په وړاندې بیان کړي.

۵ـ څلور جوړې زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، خپل ځان دې د پوښتنو په ترڅ کې یو بل ته وروپېژني.

بېلګه:

- زه د یوولسم ټولګي زده کوونکی یم.
- د دې ټولګي ټول مضمونونه مې لوستي دي
- الجبر او مثلثاتو مضمونونه مې د ټولګي نه بهر په شخصي کورسونو کې هم تعقیب کړي دي.

- غوارم چې د دولسم ټولګي له فراغت نه وروسته د کانکور ازموینه ورکړم او طب پوهنځي ته بریالی شم.
- تاسو په کوم ټولګي کې زده کړه کوئ؟
- په شخصي کورسونو کې مو داخله کړې؟
- له ښوونځي څخه له فراغت وروسته څه تصمیم لرې؟

٦ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- پاچا سړی په څه شي پسې لېږلی و؟
- چېرته یې لېږلی و؟
- سړی ولې په ځنګلونو او بېدیاوو ګرځېده؟
- پاچا د سړي له خبرونه وروسته څه پرېکړه وکړه؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د مور، پلار یا کوم بل مشر له خولې یوه کیسه په خپلو کتابچو کې ولیکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې په ټولګي کې ووایي.

چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا ویل چې په دریاب کې ګوهر نشته

زده کوونکي دې لاندې شعر ولولي او پند دې ترې واخلي:

د وچکالۍ ګلان

دا سـوی سـتي وطـن، پرېـږدئ چـې لـږ وخانـدي
دغـه غيرتـي وطـن، پرېـږدئ چـې لـږ وخانـدي
دا د مـرګ او وينـو سـين، دا د زړه چـاودون محـل
دا زخمـي زخمـي وطن، پرېـږدئ چې لـږ وخاندي
مـه وژنـئ د شـپو پـه تبـغ، روڼ د مسـتقبل خـراغ
سـترې فريـادي وطـن، پرېـږدئ چـې لـږ وخاندي
اوښـکې د پېغلوټـو مـې، چيغـې د مظلـوم يتيـم
زوی د مورنـي وطـن، پرېـږدئ چـې لـږ وخانـدي
غاړه کې پرته شـمله، پرې چې هسـکه هسـکه شـي
دا زمـوږ ننګـي وطـن، پرېـږدئ چـې لـږ وخاندي
دا د وچکالـۍ ګلان، نـور نـو اوبيـدل غـواړي
تـږی د سـپرلي وطـن پرېـږدئ چـې لـږ وخانـدي
(اسحق ننګيال)

کتاب او کتابتون

د ذهني ودې، پوهې او معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره کتاب تر ټولو غوره او اغېزناکه وسیله ده. د کتابونو تر لاسه کولو او مطالعې لپاره بیا تر ټولو ښه ځای کتابتون دی. زموږ په هېواد کې چې عصري تکنالوژي (کمپیوټر او انټرنېټ) دود نه و، نو هر چا به د خپلو معلوماتو د زیاتولو لپاره کتابتونونو ته مخه کوله او د اړوندې موضوع په اړه به یې خپل معلومات بشپړول. په دې لوست کې د کتاب، کتابتون او مطالعې په اړه معلومات درکوو.

کتاب څنګه منځته راغی او څېرته ساتل کېږي؟

په لرغونو زمانو کې کتاب نه و. پلرونو به خپلو ماشومانو او اولادونو ته هغه کیسې کولې چې په یاد به یې وې. کله به چې دا ماشومان لوی او پلرونه شول هغوی به بیا خپلو ماشومانو ته دا کیسې کولې، په پایله کې به دا کیسې له یوه نسل څخه بل ته پاتې کېدې.

څرنګه چې دا کیسې ډېرې زیاتې وې، نو په یاد پاتې کېدل یې د انسانانو لپاره ناممکن و او ځینې به هېرېدلې هم.

انسانانو یو څه ته اړتیا درلوده چې د دې کیسو په ساتلو کې ورسره مرسته وکړي. ځینو خلکو به کیسې په یوه لرګي باندې د یوې علامې په توګه نښاني کولې او ځینو به په تارونو باندې رنګه رنګه غوټې جوړولې چې د یوې ځانګړې کیسې نمایندګي به یې کوله.

کله چې لیکل او لوستل را منځته شول، نو د کیسو ساتنه خلکو ته اسانه شوه. په هغه وخت کې کومه اله چې د هغې په واسطه به یې یو شی لیکه، یو ډول لرګی و چې تېره څوکه یې درلوده او د هغه په وسیله به یې په یوه نرمه خټه باندې نښه او یا رسم کاوه او بیا به یې دا خټه په داش کې پخوله چې تر ډېره پاتې شي، دا د کتاب په شکل نه، بلکې د یوې خښتې شکل یې درلود او دا کار په حقیقت کې د کتاب د منځته راتلو پیل وه.

ځینو خلکو به خپلې کیسې د ونو پر پوستکو او یا پاڼو باندې لیکلې، خو دا دوامداره نه وې. کله چې به وچې شوې ماتېدې به، خو د پاپیروس د ونې پوستکي نسبتاً زیات دوام درلود.

تقریباً پنځه زره کاله پخوا د مصر خلکو د پاپیروس له ونې څخه یو ډول کاغذ جوړاوه او تر هغې وروسته بیا د حېواناتو پر پوستکو باندې لیکل پیل شول. ځینې نورو تصویرونه همورباندې زیات کړل. په همدې ډول زړه وړونکي کتابونه یې ترې جوړکړل. ځینو خلکو چې کیسې به یې لوستلای نه شوې د کتاب د تصویر له لیدلو څخه به ډېر خوشحالېدل. په هغه وخت کې کتابونه ډېر لږ وو او یوازې شتمنو خلکو کتابونه اخیستلای شول او بس. کله چې د چاپ ماشین په جرمني او کاغذ په چین کې جوړ شو، د کتاب جوړولو کار ډېر اسانه شو. نن د کتابونو د چاپېدو د زیات پر مختګ له کبله په میلونونو انسانان له کتاب څخه ګټه اخلي. کتاب د انسان لپاره ډېر ښه دوست او ملګری دی. له کتاب سره ملتیا او ملګرتیا موږ د عادي وګړو له چاپېریال څخه د ډېرو لوړو افکارو

او تصوراتو نړۍ ته بیا یي. له لوړو او سترو انسانانو سره مو ملګري کوي او د هغوی له فکر او نظر څخه مو خبروي.

کتاب د یوې هنداري په څېر دی. ښه او بد پکې بې له تېروتنې پخپل رنګ برېښي. زموږ کړه وړه، ټولنیزې اړیکې، تدبیر او برخه لیک راته بیانوي. د هغوی سربښندنې، علمي او ادبی غورځنګونه، بېلا بېلې موندنې، موجودې ستونزې او هلې ځلې زموږ د سترګو په وړاندې انځوروي چې موږ یې د خپل ژوند سر مشق وګرځوو او د عبرت درس ترینه واخلو. هغه ځای چې کتابونه پکې د مطالعې لپاره په ترتیب سره ایښودل شوي وي، کتابتون نومېږي. په کتابتون کې د هر مسلك اړوند کتابونه په جلا جلا الماریو کې ځای پر ځای شوي وي.

کله چې موږ کتابتون ته ننوځو، هلته په ښکاره یو څو الماری وینو چې کتابونه او پاڼې پکې ځای پر ځای شوي دي. نوره چوپه چوپتیا خپره وي او هېڅ غږ پکې نه اورېدل کېږي. کله چې کتاب راواخلئ او پاڼې یې واړوئ، هماغه غلی کتاب په خبرو پیل کوي. په حېرانونکې چټکتیا سره مو ترې لرې لرې واټن پورې بیایي.

((پترارك)) یو نومیالی ایټالوي پوه د خپلو کتابونو او کتابتون په ستاینه کې وایي:

((زه یوه ډله ملګري او دوستان لرم چې شپې او ورځې له هغوی سره تېروم. زما ټول دوستان د نړۍ نومیالي دي چې پېړۍ او زمان پکې خوندي دی. دغو دوستانو ډېر لرې واټنونه وهلي او زما تر کوره رارسېدلي دي. دوی زما په زړه او سترګو کې ځای نیولی دی. هر وخت چې وغواړم، د هغو لیدو ته ورځم او چې هر چېرې ځم له ځانه سره یې بیایم. دومره خوږ ژبي دي چې څوك یې په خبرونه مړېږي. د ژوند پټ رازونه راته څرګندوي، د تېرې زمانې د پند او خوندکیسې راته کوي او د انسانانو برخلیکونه راښیي. په دې مې پوهوي چې څرنګه ژوند وکړم. چې خواشینی شم په خوږو او مالګینو خبرو مې د غم اور وژني او خوښوي مې. د نېکمرغی لارې راښیي او هغو ته د رسېدو لپاره خپلې غوره لارښوونې له ما څخه نه سپموي. دا چې زما دا ملګري او دوستان ماته څومره ګټې رارسوي، زما ژبه یې د ستایلو او شمېرلو وس او توان نه لري.))

د کتاب، مطالعې او کتابتون له دې دومره ښېګڼو او ګټو سره سره باید دې ته مو پام وي چې د

کتابونو په مطالعه او ستاینه کې له ډېر غور او احتیاط څخه کار واخلو، کله چې غواړو د مطالعې په وسیله خپله معلوماتي پانګه زیاته او ذهني خوراک پیاوړی کړو، لومړی باید د لوستلو لپاره غوره، ګټور او باوري کتابونه وټاکو. په دویم ګام کې باید د مطالعې او لوستلو پرمهال خپل جسمي خوراک ته هم پوره پاملرنه وکړو، هسې نه چې په دې برخه کې په افراطي کړنې سره خپل جسم او ذهن له اندازې زیات ستړی او زیانمن کړو.

د متن لنډيز:

په تېرو زمانو کې چې کتاب نه و، لویانو به خپلو ماشومانو ته هغه کیسې کولې چې په یاد به یې وې.

د کیسو زیاتوالی او په یاد کې د هغو ساتل انسانان دې ته اړیاسي، داسې وسیلې لاسته راوړي چې یاد شوي شیان، پېښې او کیسې د هغې په واسطه ثبت او له هېرېدلو څخه وژغوري. په پایله کې د کاغذ اختراع، د چاپ ماشین او کتاب منځ ته راغی. اوس مهال کتابونه او کتابتونونه ډېر دي، خلک په اسانی سره کولای شي چې لاس ته یې راوړي او ترې استفاده وکړي. کتاب د هر چا لپاره تر هر څه غوره ملګری دی، هر وخت د استفادې او خدمت لپاره چمتو دی. کتاب او مطالعه ډېرې ګټې لري. باید د مطالعې لپاره غوره او ګټور کتابونه انتخاب کړو.

فعالیتونه

۱ـ دوه تنه زده کوونکي دې په وار سره متن په لوړ اواز ولولي نور دې غوږ ونیسي د لوست مفهوم او دکلمو سم تلفظ ته دې ځیر شي.

۲ـ دوه دوه تنه زده کوونکي دې د لوستل شوي متن اساسي مفهوم په لنډ ډول بیان کړي.

۳ـ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د کتاب او کتابتون د ارزښت په اړه دې خبرې وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په درې ډلو وویشل شي، هره ډله دې د کتاب او کتابتون د ارزښت په اړه خپل نظریات ولیکي، بیا دې د ډلې استازی د خپلې ډلې نظریات د ټولګي په وړاندې ووایي.

٥ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- د چاپ ماشین لومړی په کوم هېواد کې جوړ شو؟
- کاغذ څنګه او چېرته جوړ شو؟
- کله چې کتاب نه و، خلکو به کیسې نورو ته څنګه انتقالولې؟
- څنګه کولای شو خپله پوهه او معلومات زیات کړو
- کتابتون ته څه اړتیا لرو؟
- د کتابونو د خوندي ساتلو لپاره کومې لارې چارې غوره ګڼئ؟

٦ـ خلورتنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي په وړاندې د لوست لنډ مفهوم ووایي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې د کتاب د ارزښت په اړه یوه لنډه مقاله ولیکي او خپلې نظریې او تجربې دې پکې بیان کړي.

نېکمرغه هغه څوک دی چې له دوو شیانو څخه یو ولري:
یا ښه او غوره کتابونه یا داسې دوستان او ملګري چې کتابونه لري.
(ویکتور هوګو)

لاندې کیسه ولولئ اوځانونه پرې پوه کړئ:

یو سړی له قاضي سره نوکر و. په ډېر اخلاص او ایمانداری یې د قاضي خدمت کاوه. قاضي هم ترې خوښ و او هر ډول مرسته به یې ورسره کوله.

یوه ورځ نوکر د قاضي د ځمکې په اړولو بوخت و. په ځمکه کې یې له سرو زرو یوه ډکه کټوه وموندله او قاضي ته یې راوړه. ورته ویې وویل: قاضي صاحبه! دا د سرو زرو کټوه مې ستا په پټي کې وموندله. قاضي ډېر زیات خوشحاله شو او مزدوري یې ورزیاته کړه. هر وخت یې مرستې ورسره کولې.

څه موده ورسته هغه سړي د قاضي مزدوري پرېښوده او بېکاره شو. له یوه او بل سره به گرځېده. د خدایﷻ کړه وو، له غلو او بد کارو سره ملگری شو. یوه ورځ یې د یوې ښځې غوږوالی پټې کړې. خلکو هغه ونیو او د غلا په تور یې محمکې ته راوست. په محکمه کې همغه قاضي ناست و چې دی ورسره څه موده د مخه نوکر و. غل یې قاضي ته وړاندې کړ.

قاضي چې مزدور ولید، نو ډېر خپه شو. له ځان سره یې وویل دا خو ډېر نیک سړی و. د یو بل چا په تور به یې دلته راوستی وي. که هغه غلا کولای، نو هغه زما په ځمکه کې موندلي سره زر به یې پټ کړي وو.

قاضي ترې پوښتنه وکړه چې درواغ او رښتیا څرگند شي. هغه هم ورته رښتیا وویل او خپل جرم یې ومانه. قاضي ورته وویل: ((زما په ځمکه کې دې ددې غوږوالیو سل هومره سره زر وموندل، خو بې خیانته دې راکړل. اوس دې دا ناڅیزه غوږوالی پټې کړي دي. ولې؟))

مزدور ورته وویل: ((لومړی مې له ښو خلکو سره ناسته او ولاړه وه. په غلا نه پوهېدم او نه مې بد کارونه کول. اوس له وزگارو او بدکارانو سره مل یم، ځکه په غلا او بدو کارونو روږدی شوم.))

له پورته کیسې څخه مو دا نتیجه واخیسته چې هیڅ وخت باید له بدکارانو او وزگارو خلکو سره ناسته پاسته ونه کړو. که کله له هغوی سره ناستې ته اړ شو، باید د هغوی له بدو کارونو څخه پند او عبرت واخلو.

له بدانو سره مه کښېنه هوښیاره
بدان تا باسي له ژونده له روزگاره
څو دې توان وي له بدانو لېرې گرځه
چې بد گرځې، بد په پرځې بد کرداره

بشري حقونه



انسانان په ټولنه کې یو لړ حقونه لري. البته ځینې دا حقونه د بشر له خلقت راهیسې تل موجود وو او طبیعي حقونه بلل کېږي، خو د ژوند په بهیر کې بشر نور حقونه هم تر لاسه کړل چې دا د دوی ځانګړي حقونه دي. دغه راز انسانان په ټولنه کې د نورو حقونو په وړاندې مکلفیتونه هم لري چې هغوته باید درناوي وکړي. نن سبا ټولې پر مختللې ټولنې او هېوادونه زیار باسي چې بشري حقونه خوندي او په هېڅ ډول ورڅخه څوک بې برخې نشي. په دې لوست کې په ټولنه کې د بشري حقونو په هکله خبرې کوو او لولو چې انسانان په ټولنه کې کوم حقونه لري.

ـ بشري حقونه څه شی دي او د نورو حق ته باید څرنګه درناوی ولرئ؟

بشري حقونه يو بنسټ لري او هغه انسانيت دی، له دې امله په ټوله نړۍ کې يو شان دي.

د بشري حقونو زړی او هسته د اسلام د سپېڅلي دين له راتګ سره سم وکرل شوه. هغه انساني حقونه چې په اسلام کې بشرته ورکړل شوي، په بل کوم سازمان او ټولنه کې ځای نه لري، په دې توګه اسلام د بشري حقونو تر ټولو لومړنی سرچينه ده. الله ﷻ چې په دې نړۍ کې انسان پيدا کړی، له هماغه پيله يې پرې د زيات شمېر بشري حقونو لورينه هم کړې ده. د بشري حقونو شمېره ډېره زياته ده، لکه: د ژوند کولو حق، د ملکيت لرلو حق، د زده کړې حق، د روغتيا حق، د تابعيت حق، د فکر اوبيان د ښرګندولو حق، د انساني کرامت او شخصيت د خونديتوب حق ... .

د ټولنيز ژوند په بهير کې ځينې وخت د زور واکوله خوا د کمزورو حقونه په زور زياتي تر پښتو لاندې او له هغو څخه بې برخې کېږي. که وګورو دوی د خپلو حقونو د تر لاسه کولو لپاره هلې ځلې کړي چې ډېر اوږد تاريخ او لرغوني مخينه لري، بېلګې يې په بشري تاريخ کې خوندي دي.

د اسلام د سپېڅلي دين په راتګ سره د بشر حقونو ته پوره درناوی وشو او په بېلا بېلو بڼو موجود ټول توپيرونه يې له منځه يوړل. په الهي احکامو او نبوي ارشاداتو کې د دغو بشري حقونو د تثبيت په هکله ډېرې زياتې لارښوونې شته. د بېلګې په توګه کله چې حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه حضرت بلال رضي الله عنه ته وويل: ای حبشي غلامه! حضرت محمد ﷺ ورته وفرمايل: تور حبشي او سيد قريشي دواړه برابر او د خدای ﷻ بندګان دي. ويلای شو چې ټول انسانان برابر حقونه لري او په ځانګړې او ټولنيز ژوند کې بايد له هغو څخه برخمن شي. د بشري تاريخ په اوږدو کې، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې وګړو د خپلو بشري حقونو د ترلاسه کولو لپاره ځانګړې او ډله ييزې هلې ځلې کړې او غږونه يې پورته کړي دي، خو په نړيواله کچه داسې کومه اداره نه وه چې له هغوی څخه سلب شوو حقونو ملاتړ وکړي.

دويمې نړيوالې جګړې په نړيواله کچه د بشري حقونو د دفاع لپاره د يوی لايحې او قانون د جوړولو اړتيا رامنځته کړه. په دې لړ کې په (۱۹۴۷) ميلادي کال د ملګرو ملتونو

د عمومي ټولنې له خوا د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه تصویب شوه. دا اعلامیه یوه سریزه او (۳۰) مادې لري. د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې له مخې انسان تر هر څه لومړی د ژوندکولو ازادي او د شخصي امنیت لرلو حق لري. همدارنگه هېڅوک باید شکنجه یا ونه ځورول شي. هر څوک حق لري چې حقوقي شخصیت یې په رسمیت وپېژندل شي. ټول د قانون په وړاندې برابر دي. هېڅوک دې په خپل سربندي یا له خپل ټاټوبي تبعید نه کړای شي. د چا په شرافت او ابرو دې تېری نه کېږي. هر څوك حق لري چې ازاد فکر وکړي، خپل فکر او نظر په ازادانه ډول څرگند کړي. د بیان ازادي چې د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په نولسمه ماده کې راغلې، د بشر د ډېرو مهمو او بنسټیزو حقونو څخه گڼل شوې ده. په دې برخه کې یادونه شوې ده چې هر څوك د بیان ازادي لري، خو د بیان آزادي هم خپلې پولې او حدونه لري. تر هغه چې پکې بشري کرامت ته سپکاوی نه وي او د هغه په وسیله د چا بشري حقوق تر پښو لاندې نشي، د چاله دیني او مذهبي عقیدو، قومي، نژادي او توکمیز حیثیت او له خپلو ملي هېوادنیوگټو سره په ټکر کې نه وي، د بیان ازادي جایزه ده. هر څوك حق لري چې زده کړه وکړي. زده کړې به اجباري وي، فني او حرفوي زده کړې به د ټولو په واك کې وي. د زده کړې موخه به د انساني شخصیت وده، د بشرحقونو ته درناوی او بنسټیزه ازادي وي. مور او پلار به د خپل ماشوم په اړه د زده کړې د ډول په ټاکنه کې لومړیتوب ولري. دولت مکلف دی چې د وگړو لپاره بې له کوم توپیره د زده کړې لارې چارې برابرې کړي، تر څو د خلکو د ذهني روزنې شرایط برابر شي. د بشر د حقونو په نړیواله اعلامیه کې د داسې نورو ډېرو حقونو یادونه هم شوې ده چې هغه ټول د انسان طبیعي او ټولنیز حقونه گڼل کېږي.په نړیواله کچه ټول هغه هېوادونه چې د بشر د حقوقو اعلامیه یې لاسلیک کړې ده او په ملي کچه دغه دولتونه مکلف گڼل کېږي چې د هغو رعایت وکړي. د ملگروملتونو د بشري حقونو اداره او د بشر د حقونو بېلا بېلې نړیوالې ټولنې په نړۍ کې د بشري حقونو حالت ته پاملرنه کوي او هغه څاري.

د متن لنډیز:

هر انسان ښځه وي او که نارینه، په ټولنه کې د ژوند کولو، د فکر او بیان د ازادۍ حق، د انساني کرامت او شخصیت د خوندیتوب حق لري. په اسلام کې هم د بشر د حقونو پوره درناوی شوی دی، هغه بشري حقونه چې په اسلام کې بشرته ورکړل شوي په بل کوم سازمان او ټولنه کې ځای نه لري. په نړیواله کچه هم د بشر د حقونو د ورکولو او درناوي په هکله ځانګړي قوانین رامنځته شوي او هېوادونه یې په رعایت کولو اړ او مکلف کړي دي. کله ناکله په یو ډول انسان له یوه یا زیاتو حقونو څخه بې برخې شي، نو د هغه بشري یا انساني دریځ ته زیان رسېږي. نن سبا ټولې پرمختللې ټولنې او هېوادونه زیار باسي چې انسان خپل حقونه ولري او په هېڅ ډول ورڅخه بې برخې نشي. کېدای شي په ځینو حالتونو، لکه: د جګړې یا کورنۍ تاوتریخوالی او یا د یو جرم د سرته رسولو په حالت کې یو یا له یوه څخه زیات حقونه وځنډول شي، خو په هېڅ توګه ترې انسان د تل لپاره بې برخې کېدای نه شي اوس داسې سازمانونه او ادارې شته چې په ټوله نړۍ کې د بشر د حقونو حالت څاري.

فعالیتونه

١ــ درې تنه زده کوونکي دې په وارسره د ټولګي مخې ته راشي، د بشري حقونو په اړه دې خپل نظر ووایي.

٢ــ دوه تنه زده کوونکي دې د اسلام له نظره په بشري حقونو خبرې وکړي.

٣ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ووایي او د متن اساسي مفهوم ته دې ځیر شي.

٤ــ زده کوونکي دې په درې ډلو ووېشل شي، هره ډله دې په ترتیب سره د بشري حقونو، د ښځو د حقونو او ماشومانو د حقونو په اړه خپل معلومات ولیکي او په پای کې دې د هرې ډلې مشر لیکل شوی معلومات نوروته ووایي.

۵ـ زده کوونکي دې فکر وکړي چې کوم بشري حقونه په يو ټاکلي حالت کې ځنډېږي، دوه تنه دې د نورو په وړاندې يې رڼا واچوي.

٦ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- تاسو له دې لوست څخه څه مفهوم ترلاسه کړ؟
- د اسلام دين انسان ته کوم حقونه ورکړي دي؟
- د بشر د حقونو په نړيوال اعلاميه کې د کومو بشري حقونو يادونه شوې ده؟
- دولتونه د بشري حقونو په هکله څه مسؤوليت لري؟
- د بيان ازادي بايد تر کومه حده پورې وي؟

۷ـ څو تنه زده کوونکي دې په لاندې موضوعاتو يوه يوه دقيقه خبرې وکړي:
په خپل هېواد کې بشري حقونو ته په کومه سترګه ګورئ؟ ايا په دې هکله په خپل هېواد کې کومو حدودو ته ځای ورکوئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د بشري حقونو د اړتيا او ارزښت په اړه يوه مقاله وليکي او د بلې ورځې پښتو مضمون ساعت کې دې نورو ته ووايي.

کله چې هوس پر عقل برياڼی شي، انسان کندې ته لوېږي.
((حضرت علي کرم الله وجههُ))

لاندې شعر ولولئ او خوند ترې واخلئ:

ستا د عشق له وينو ډک شول ځيګرونه
ستا په لاره کې بايلي زلمي سرونه
تاته راشمه زړګی زما فارغ شي
بيله تامې انديښنې د زړه مارونه
که هر څو مې د دنيا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نشي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تخت هېرومه چې راياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقيب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چې په تورو پښتانه کاګو زارونه
د فريد او د حميد دور به بيا شي
چې زه و کاندم په هر لوري تاختونه
که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
احمدشاه به دغه ستا قدر هېرنه کا
که ونيسي د تمام جهان ملکونه
(لوی احمدشاه بابا)

د مور دريځ

مور د کورنۍ بنسټ ايښودونکې او د ټولنې جوړوونکې ده. په ټولنه کې يې دريځ تر هر چا او هر څه لوړ دی. مور ده چې په خپله غېږ کې مېړني اولادونه، غيرتي ځوانان، عالمان پوهان او اديبان روزي، همدوی دي چې ټولنه د ترقۍ او پرمختګ پر لور بيايي او کارنامې يې د ټول ملت لپاره تلپاتې وياړ وي. مور تر ټولو مهربانه ده، مور تر ټولو زياته مينه ناکه ده. مور روزونکې او احساس وروکوونکې ده. د اسلام د ستر لارښود حضرت محمد ﷺ په وينا چې: ((جنت د مور تر پښو لاندې دی.)) په دې وينا سره يې اولادونه د مور او پلار درناوي ته رابللي دي.

په دې لوست کې به د مور د عاطفې، زړه سوي او مهربانۍ په اړه يوه کيسه ولولئ.

مور ولې د زيات درناوي وړ ده؟

زړه د مينې او عاطفې ځای دی، د مور په زړه کې د خپل اولاد په اړه دا مينه عاطفه او

صله رحمي تر هر چا ډېره زياته ده او تل يې په اولاد باندې د ښېګڼو لور يينه وي. مور ته بايد په درنه سترګه وکتل شي او درناوی يې وشي.

د مور د ستايلو او درناوي اصل ته په پښتو ادبياتو کې هم زياته پاملرنه شوې ده. زيات شمېر شاعرانو او ليکوالو په خپلو منظومو او منثورو اثارو کې د مور مقام ستايلی دی. په بېلا بېلو ادبي نثرونو، شعرونو، داستانونو، ناولونو او نورو ادبي ټوټو کې د مور مقام ته پاملرنه شوې او د مور مقام پکې ستايل شوی دی. ويلای شو چې د مور مقام په پښتو ادبياتو کې ځانګړی ځای لري او زموږ د ادبياتو يو مهم ځيرکی جوړوي. په بېلا بېلو ليکنو کې د مور مقام، د مور مهرباني، شفقت او عاطفه د اولاد په روزنه کې د هغې کړاو او زيار انعکاس موندلی دی. د دغو ټولو ليکنو مقصد يو دی او هغه دا چې د مور د مقام او حقوقو پېژندل او د هغې درناوی کول. په ولسي ادب او په تېره بيا په شفاهي ادب کې هم د مور د مينې عاطفې او مهربانۍ په اړه ډېرې کيسې شته چې يوه نمونه يې دلته راوړو: وايي چې د يوې مور ماشوم بلې ښځې پټ کړ. د ماشوم مور که هر څومره له غلې ښځې څخه خپل ماشوم وغوښت، خو هغې ور نه کړ او ويې ويل چې دا زما زوی دی. د ماشوم مور په چيغو چيغو قاضي ته ولاړه او عرض يې وکړ چې يوې ښځې مې ماشوم پټ کړی او نه يې راکوي. قاضي غله ښځه راوغوښته، هر څومره پلټنې چې يې ترې وکړې ښځه قانع نه شوه، ويل يې چې دا زما خپل زوی دی، پر ما يې نا حقه دعوه کړې ده. قاضي تر لږ فکر وروسته وويل: ما يوازې پرېږدئ چې د پرېکړې په اړه فکر وکړم. دواړه ښځې د قاضي له کوټې نه ووتلې. يوه شېبه وروسته قاضي دواړه ښځې راوغوښتلې. هغوی ته يې خپله پرېکړه داسې اعلان کړه: وروسته له ډېر سوچ څخه زه دې نتيجې ته ورسېدم چې ماشوم بايد دوه ټوټې شي، يوه ټوټه د يوې مور او بله ټوټه د بلې مور. په دې پرېکړې به عدل او انصاف پر ځای شي. قاضي جلات راوغوښت، ويل راشه دا ماشوم دوه ټوټې کړه. کله چې جلاد توره په لاس راغی د ماشوم اصلي مور غږ کړ:

"قاضي صاحب ماشوم مه دوه ټوټې کوئ، دا ماشوم زما نه دی، هغې ته يې ورکړئ."

قاضي پوه شو چې د ماشوم اصلي مور همدا ده، ځکه چې د خپل زوی مرګ يې نشو

زغملای او هغه بله چې د ماشوم اصلي مور نه وه، د قاضي پرېکړه یې ومنله. په دې توګه قاضي ماشوم خپلې اصلي مور ته وسپاره او هغې بلې غلې ښځې ته یې سزا وټاکله.

د متن لنډیز

د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمدﷺ فرمایلي دي چې: ((جنت د مور تر پښو لاندې دی.)) د مور مقام په ټولنه کې تر هر چا لوړ دی او درناوی یې په ټولو لازم دی. د مور د مقام او درناوي په اړه په پښتو لیکلي اوګرني ادب کې زیاتې منظومې او منثورې ټوټې شته. په دې کیسه کې د مور د مهربانی یوه داسې نمونه تاسو ولوسته چې مینه او مهرباني یې له بل چا سره نه شي پرتله کېدای.

مور د مینې، محبت او مهربانی یوه داسې چینه ده چې د هر ډول حالاتو د زغملو لپاره یې تانده ساتي.

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او مطلب ته دې ځیر شي.

۲ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره لاندې لغات معنا او د تختې پر مخ دې په جملو کې وکاروي: پرېکړه، پټ کړ، و ټاکله، غله، ټوټې، لورينه، کړاو.

۳ـ زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو سره په پنسل ډک کړي:

د مور مقام په ټولنه کې..................... لوړ دی.

زړه د .... او .... ځای دی.

وايي چې د یوې مور .... بلې ښځې .... کړ.

مور د .... بنسټ ایښودونکې او د .... جوړونکې ده.

مور په خپله غېږ کې .... او .... روزي.

٤ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او په لاندې ډول دې پخپل منځ کې خبرې وکړي:

اجمل: الفته وروره سترې مه شې.

الفت: خیر یوسې، ژوندی اوسې اجمله وروره.

اجمل: تاسو چېرته تللي وئ؟

الفت: زه خو محکمې ته تللی وم.

اجمل: خیر خو و، د څه لپاره؟

الفت: زموږ د کلي د یوې مور ماشوم بلې ښځې غلا کړی و.

اجمل: ښه نو! بیا مو څه وکړل؟

الفت: د ماشوم مور قاضي صاحب ته عرض وکړ.

اجمل: قاضي صاحب د ماشوم د مور عرض واورېده؟

الفت: هو! غله ښځه یې را وغوښته او پوښتنې یې ترې وکړې.

اجمل: اخر څه پرېکړه وشوه؟

الفت: غلا شوی ماشوم یې خپلې اصلي مور ته تسلیم کړ.

۵ـ خو تنه زده کوونکي دې په وار سره د کیسې مفهوم په لنډو خبرو کې نورو ټولګیوالو ته ووایي.

۶ـ له دغې کیسې څخه تاسې څه زده کړل؟ خپل نظر خپلو ټولګیوالو ته څرګند کړئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د مور د مهربانۍ په اړه کومه اورېدلې کیسه په خو کرښو کې ولیکي او بله ورځ دې په ټولګي کې ولولي.

((هغه لاس چې زانګو زنګوي، هغه جهان زنګوي))

جومات او ښوونځی
(خبري اترې)

د ماشوم لومړنی چاپېريال د مور غېږ ده. د مور غېږ د ماشوم د روزنې او پالنې او له مهربانۍ څخه ډک لومړنی ښوونځی دی. کله چې ماشوم د ګرځېدو شي او په خبرو کولو پيل وکړي، نو بيا جومات او ښوونځي ته لاره پيدا کړي. جومات او ښوونځی په يو کلي يا اولس کې دوې بنسټيزې ستنې دي چې د هر کلي شتمني، برې او يو والی د همدغو دوو ستنو په ټينګښت پورې تړلی دی. په جومات کې ديني فضا موجوده ده او ښوونځي کې د پوهې هوا چلېږي. يو يې دښمني او کينه پاکوي او بل يې ناپوهي له منځه وړي او مدنيت را منځته کوي.

ـ تاسې خپله لومړنۍ زده کړه له کوم ځايه پيل کړې ده؟

ـ ستاسو په اند رسمي زده کړه څه راز زده کړه ده؟

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د زده کړې بهير په دوديز ډول له ډېر پخوا څخه پيل شوى او په بېلا بېلو لارو يې وده او پراختيا موندلې ده. پخوا به هلکانو او نجونو په جوماتونو کې ديني زده کړې کولې، د وخت دوديز کتابونه به يې لوستل چې ليکل او لوستل زده کړي. دې زده کړو ته غير رسمي زده کړې ويل کېدې. د وخت په تېرېدو سره ددې زده کړو تر څنګ رسمي زده کړې پيل شوې. د زده کړې منظمې دورې لکه: لومړنى ښوونځى، منځنى ښوونځى او نور را منځته شول. په دې ښوونځيو کې د ټولنې د اړتياوو له مخې د ټاکلو هدفونو او موخو د تر لاسه کولو لپاره ټاکلي درسي کتابونه لوستل کېدل. کله چې به له دې ښوونځيو څخه ځوک فارغ شول، نو په ښه ډول به په ليک او لوست پوهېدل او خپلې اړتياوې به يې پوره کولې. د زده کړې دا لړۍ نوره هم پراخه شوه، ليسې، د ښوونکو د روزنې عالي مؤسسې، د لوړو زده کړو مؤسسى او ځانګړي پوهنځي را منځته شول. په ځينو برخو کې همدا اوس د ماسترۍ تر بريده د زده کړو بهير پخپله د هېواد په دننه کې تر سره کېږي. که ښه ځير شو او د زده کړې ځايونو ته پاملرنه وکړو نو په کلي يا اولس کې د جومات او ښوونځي دواړو فضاوې سره لازمي او ملزومې دي چې په نتيجه کې ټول کليوال له رښتينې پوهې، مدنيت او ورورولۍ څخه برخمن کېږي. ځوک چې دغه نېک خدمت تر سره کوي هغه هم د کلي ښوونکى او د کلي امام دى.

په دې اړه به مرکه او خبرې اترې ولولو:

د دوو نجونو (زرکې ـ ځانګې) تر منځ مرکه (خبرې اترې)

ځانګه: السلام عليکم زرکې خورې ستړې مه شې!

زرکه: وعليکم السلام ځانګې خورې ته ستړې مه شې.

ځانګه: اجازه را کوې چې ستا څخه، ستا د زده کړو په اړه پوښتنه وکړم؟

زرکه: مهرباني وکړه، ولې نه. زه ستا په خدمت کې يم.

ځانګه: تاسو خپله لومړنۍ زده کړه چېرته پيل کړه؟

زرکه: خورې زما د زده کړې پيل له جومات څخه شوى دى.

ځانګه: ولې، ستاسې په کلي کې ښوونځى نه و؟

زرکه: ښوونځی و، خو یوازې هلکان به ښوونځي ته تلل.
ځانګه: تاسو په جومات کې له چا نه زده کړه کوله؟
زرکه: د جومات ملا صاحب به موږ ته په ورځ کې د سهار او ماسپښین له خوا سبق را کاوه.
ځانګه: تاسو په جومات کې کوم کتابونه لوستل؟
زرکه: موږ په جومات کې یوازې دیني کتابونه لوستل.
ځانګه: کله مو ښوونځي کې زده کړه پیل کړه؟
زرکه: زه اته کلنه وم چې د خپلې کورنۍ سره کابل ته راغلم او پلار مې د نجونو په لومړني ښوونځي کې شامله کړم.
ځانګه: تاسو اوس مهال په څوم ټولګي کې یاست؟
زرکه: زه سږ کال له دولسم ټولګي څخه فارغه شوم.
ځانګه: د نورو لوړو زده کړو تصمیم لرې؟
زرکه: کانکور ازموینه مې ورکړې، هیله لرم چې ژورنالیزم پوهنځي ته بریالۍ شم.
ځانګه: خدای دې وکړي، تاسو ته بریالیتوب غواړم.

د دوو هلکانو (ایمل ـ اجمل) تر منځ خبرې اترې

ایمل: اجمل وروره تاسو چېرته اوسېږئ؟
اجمل: ایمل وروه، زه د خپلې کورنۍ سره یو ځای په خوست کې اوسېږم.
ایمل: په خوست کې د زده کړې بهیر څنګه دی؟
اجمل: په خوست کې له څوارلسو څخه زیاتې ولسوالۍ موجودې دي. په هره ولسوالۍ کې لومړني او منځني ښوونځي شته.
ایمل: اورېدلي مې دي چې په کلو او بانډو کې خلک خپلې لوڼې په ښوونځیو کې نه شاملوي؟
اجمل: ایمل جانه! دا د ډېر پخوا وخت خبره ده، اوس داسې نه ده.
ایمل: ستاسو په سیمه کې دودیزې زده کړې اوس هم تر سره کېږي؟
اجمل: زموږ د زده کړو لومړنی ښوونځی خو جومات دی.

ایمل: دا په کوم لحاظ؟

اجمل: دا ځکه چې په جومات کې زموږ ماشومانو ته ديني زده کړه ورکول کېږي. دا زده کړه ډېره اړينه ده.

ایمل: عصري زده کړې خو هم اړينې دي؟

اجمل: ولې نه؟ د همدې اړتيا په اساس خو ښوونځي او د لوړو زده کړو مؤسسې را منځته شوي دي.

ایمل: ستاسو په ولسوالۍ کې نجونې او هلکان په يوه ښوونځي کې درس وايي او که سره بېل؟

اجمل: يوازې زموږ په ولسوالۍ کې نه، بلکې د افغانستان په ټولو سيمو کې د نجونو لپاره جلا او د هلکانو لپاره جلا ښوونځي دي، آن تر دې چې ودانۍ يې هم سره جلا دي.

ایمل: تاسو اوس په څويم ټولگي کې ياست؟

اجمل: دوه کاله مخکې له غازي لېسې څخه فارغ شوی يم او اوس د خوست پوهنتون د طب پوهنځي د دويم کال محصل يم.

دريمه مرکه

شريف: ظريف جانه! السلام عليکم، څنگه يې؟

ظريف: وعليکم السلام شريفه وروره، د الله جل جلاله مهرباني ده، ښه يم.

شريف: په دې کڅوړه کې دې څه را اخيستي دي؟

ظريف: په دې يوه کڅوړه کې د ښوونځي کتابونه دي او په دا بله کې د جومات.

شريف: اوس ښوونځي ته ځې او که د کلي جومات ته؟

ظريف: په جومات کې مې د ملا صاحب نه سبق وويلو، اوس غواړم چې ښوونځي ته ولاړ شم.

شريف: د ښوونځي او جومات کتابونه هم مهال زده کولای شې؟

ظريف: هڅه کوم چې د سهار له خوا په جومات کې ديني سبق ووايم او له غرمې نه وروسته ښوونځي ته لاړ شم.

شریف: د جومات له ملا نه دې کوم کتابونه شروع کړي دي؟

ظریف: قرآنکریم مې له ترجمې سره پیل کړی دی.

شریف: د ښوونځي په څووم ټولګي کې یې او کوم کتابونه وایې؟

ظریف: په نهم ټولګي کې یم، تاریخ، جغرافیه، ریاضي، ساینس، او نور مختلف مضامین را ته تدریس کېږي.

شریف: کوم کتابونه چې دې په جومات کې لوستي دي، د ښوونځي له کتابونو سره مرستندوی کېدای شي؟

ظریف: که رښتیا ووایم زما د برې لامل په جومات کې لوستي کتابونه دي.

شریف: دا څنګه کېدای شي؟

ظریف: دا ځکه چې د ترجمې په ترڅ کې مې ډېر لغات ذېرمه کړي.

شریف: تا دې خدای ﷻ په خپلو زده کړو کې بریالی لري.

د متن لنډیز

زموږ په هېواد افغانستان کې د زده کړې بهیر له ډېر پخوا څخه پیل شوی دی.

پخوا به ورو نجونو او هلکانو د خپل کلي په جوماتونو کې د جومات د امام یا ملا څخه زده کړه کوله، الفبې سیپاره، الف لام، قرآنکریم، خلاصه، پنج کتاب او نور دودیز کتابونه یې لوستل، دغې زده کړو ته یې غیر رسمي زده کړې ویلې.

کله چې ښوونځي تاسیس شول، د غیر رسمي زده کړو تر څنګ رسمي زده کړې هم پیل شوې، د زده کړې منظمې دورې، لکه: لومړني ښوونځي، منځني ښوونځي، ثانوي ښوونځي او نور را منځته شول. په دې ښوونځیو کې د ټولنې د اړتیاوو له مخې د ټاکلو موخو د تر لاسه کولو لپاره د تعلیمي نصاب سره سم درسي کتابونه لوستل کېدل. دا لړۍ اوس د لوړو زده کړو تر بریده غځېدلې ده. د ښوونکو د روزنې مؤسسې، پوهنځي د ماسترۍ تر بریده زده کړې خپله د هېواد په داخل کې تر سره کېږي. ښایي تر دې لا هم د لوړو زده کړو زمینه پخپله د هېواد په دننه کې برابره شي.

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. د يوې ډلې يو تن غړی دې له بلې ډلې څخه لاندې پوښتنې وکړي او د هغې ډلې يو تن غړی دې په وار سره ځواب ووايي:

- د ماشوم لپاره د زده کړې لومړنی چاپېريال کوم دی؟
- دوديزې زده کړې کومو زده کړو ته وايي؟
- رسمي زده کړې کومې دي؟
- ستاسې په سيمه کې د نجونو لپاره جلا ښوونځي شته؟
- لوړې زده کړې له کوم ټولګي څخه پيلېږي؟
- لوړو زده کړو ته د شمول آزموينه په کوم نوم سره يادېږي؟

۲ـ يو يو زده کوونکی دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د خپلو زده کړو د پيل په اړه دې دوه دقيقې خبرې وکړي.

۳ـ څو زده کوونکي دې په وار سره لاندې لغات په جملو کې وکاروي:

چاپېريال، پيل، بنسټيزې، ټينګښت، وده، دوديز، موخو، اړتياوې، بريده، لړی.

٤ـ څلور تنه زده کوونکي دې په وار سره د لاندې جملې اصلي مفهوم ووايي:

((په جوماتو او ښوونځي کې د دين او پوهې هوا چلېږي.))

کورنی دنده

هر زده کوونکی دې د خپلې خصوصي او رسمي زده کړو په اړه لس کرښې مطلب وليکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په درسي ساعت کې دې نورو ټولګيوالو ته واوروي .

> د علم او پوهې هر ښوونځی چې پرانستل کېږي، د زندان دروازه تړل کېږي.
> (ويکتور هوګو)

پښتو قاموسونه

قامــوس د یوې ژبــې د لغاتو زېرمه ده. د هغه ژبې د لغاتو ټوله شــتمني پکې را ټوله شوې وي.

د قاموس لیکنه او د لغاتو راټولول او سپړل یو ارزښمن او د قدر وړ کار دی، دا کار پر پښتو سربېره د نړۍ په ټولو ژوندیو ژبو کې ترسره شوی د ی.

خپلــې ژبې ته خدمت کول پــه حقیقت کې خپل علمي، کلتوري او ټولې فرهنګي شتمنۍ ته خدمت کول دي.

په دې لوست کې به پښتو قاموسونه دروپېژنو.

قاموس لیکل او له قاموس سره بلدتیا څه ګټه لري؟

په ژبه کي د وخت په تېرېدو سره يو شمېر لغات له کاروني څخه لوېږي، ځای يې نوري کلمې نيسي يا يوازې په يوې لهجې محدودېږي او يا د ځينو کلمو معنا او مفهوم بدلېږي.
د يـوې ژبـې د لغوي پانګې د خونـدي کېدو او له نورو ژبو څخه راغلو کلمو د تنظيم په موخه قاموس ليکل کېږي.
ســربېره پــر دې که د يوې ژبې ويونکي غــوارې دويمه ژبه زده کړي، نو په دې لړ کې تر ټولو لومړی قاموســونو ته اړتيا لري. ځکه د بلې ژبې په ســتونزمنو لغاتو پوهېدل له قاموس پرته امکان نه لري.
کــه لــه يوې خوا د قاموس په مرســته د لغاتو بېلا بېلې معنــاوې څرګندېږي او د دويمې ژبې د مشکلو لغاتو په حل کې کار ورکوي، نو له بلې خوا لغوي زېرمه هم له ورکېدو څخه ژغوري او راتلونکي نسل ته يې انتقالوي.
کــه په پښــتو ژبه کــې د قاموس ليکنې تاريخي بهيــر ته پاملرنه وکړو، نــو وينو چې دغه قامــوس ليکنــه له هېواده بهر پيل شــوې ده؛ پــه دې معنا چې د لومړي ځل لپــاره په بهرنيو هېوادونو کې پښــتو قاموســونه يا د پښــتو قاموسونو مقدمات برابرشــول چې دا کار په خپل وخت او خپل ځای کې ګټورو.
له دې وروسته زموږ په هېواد او کوزه پښتونخوا کې هم ځينې قاموسونه وليکل شول چې ((پښتوسيند)) د دې اثارو يو ارزښتناک او ګټور پيل ګڼل کېږي.
اوس به د ځينو هغو قاموســونو لنډه پېژندنه وکړو چې زموږ په هېواد کې ليکل شــوي اوچاپ شوي دي:

۱_ رياض المحبت:

د موندل شوو آثارو په لړ کې په پښتو ژبه کي لومړنی قاموس ګڼل کېږي. مؤلف يې نواب محبت خان د حافظ رحمت الله خان زوی دی، چې د احمدشاه بابا په وخت کي يې ژوند کاوه. دا کتاب په (۱۲۲۰) لمريز کال ليکل شوی دی.

۲_ پښتوسيند:

پښتو دري قاموس دی؛ په (۱۳۱٦) لمريز کال د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. مؤلف يې ارواښاد محمدګل مومند دی. دغه قاموس اووه زره لغتونه لري.

۳_ پښتو مرکې:

د پښتو مرکې له خوا دوه قاموسونه ليکل شوي چې يو يې: (پښتو دري قاموس او بل يې دري پښتو قاموس) دی. په پښتو دري قاموس کې يوولس زره لغتونه ځای شوی دي. د کتاب مؤلف يې عبدالرحمن لودين دی چې په ۱۳۰۲ لمريز کال کې د پښتو مرکې دويم مشر و.

۴_ سپېځلي پښتو:

د فارسي پښتو کوچنی قاموس دی په ۱۹٤۰ ميلادي کال کې چاپ شوی دی. دغه اثر لس زره لغتونه لري. د هر فارسي لغت لپاره څو پښتو لغتونه راوړل شوي دي. د کتاب ليکونکی ښاغلی حبيب او لعل محمد کارګر دي، دا قاموس په کندهار کې چاپ شوی دی.

۵_ لس زره لغات:

پښتو _ فارسي قاموس دی؛ چې لس زره لغتونه پکې ځای شوي دي. د کتاب ليکونکی يې اعظم ايازی دی او چاپ يې په (۱۳۲۰) لمريز کال ترسره شوی دی.

۶_ پښتو اردو قاموس:

د دغه قاموس مؤلف سيد راحت زاخيلی دی. په قاموس کې لس زره لغتونه را ټول شوي دي. د لغاتو اوډون يې د الفبا په ترتيب په اردو ژبې سره شوی دی. دا کتاب په پېښور کې چاپ شوی دی.

۷_ افغان قاموس:

پښـتو _ فارسي قاموس دی، په (۱۳۳۱هـ.ش.) کال په دوو ټوکو کې خپور شوی. دغه قاموس د محمدګل نوري دی او د پښــتو ټولنې د لغاتو د څانګې د غړوله خوا راټول شــوی او څلوېښت زره لغتونه لري.

۸_ د افغان قاموس ترسـر لیک لاندې یو بل (دري _ پښـتو) قاموس دی چې په دریو ټوکونو کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور شوی دی.

لومـړی ټوک یې په (۱۳۳۵هـ.ش.) کال له چاپه راوتلی. دا ټوک د (الف) په توري پیل او د (ج) په توري پای ته رســېږي، په دې قاموس کې لومړی فارســي کلمه او د هغې فارسي معنا او بیا یې د پښتو معنا او تشریح لیکل شوې ده. لیکوال یې عبدالله افغاني نویس دی. د پښتو ټولنې یو شمېر پوهانو یې هم په کتنه او کره کولو کې برخه اخستې ده.

دویـم ټـوک یې د لومړي ټوک په تعقیب لیکل شــوی دی، د (ح) په توري پیل او په (غ) توري پای ته رسېږي. (۹٤۰) مخه دی، نور خصوصیات یې د لومړي ټوک په څېر دي.

د افغان قاموس دریم ټوک د نورو ټوکونو په شان دی.

د دې قاموس د درې واړو ټوکونو د لغاتو شمېر د (۱۹۰۰۰) په شاوخواکې اټکل کېدای شي.

۹_ پښتو قاموس:

دا قاموس په دوو ټوکونو کې د پښـتو ټولنې له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ شــوی دی.

لومړی ټوک یې د (الف) په توري پیل او په (س) پای ته رســېږي. په قاموس کې هر لغت په دري ژبه معنا شوی او بیا په پښتو جملو کې استعمال او جمله هم په دري ترجمه شوې ده.

دویم ټوک یې د لومړي ټوک په تعقیب لیکل شوی. چاپ یې په (۱۳۳۲) هجري کال کې

ســرته رســېدلی دی. دا ټوک د (ش) په توري پیل او په (ی) پای ته رســېږی. د دواړو ټوکونو د لغاتو شــمېر (٤٠٠٠٠) په شــاوخوا کې اټکل کېدای شــي. د قاموس مؤلف یو تن نه دی، بلکې د پښتو ټولنې د لغاتو د څانګې له خوا په ګډه لیکل شوی دی.

١٠_ پښتو _ دري لنډ قاموس او فرهنگ مختصر دري _ پښتو:

دا دواړه قاموسونه د (١٣٨٤) لمریز کال په ژمي کې هم مهاله له چاپه راوتلي. د چاپ چارې یې د آزادی په مطبعه کې تر سـره شــوي دي. پښــتو دري لنډ قامــوس په لیکلو کې د افغانســتان د علومو د اکاډمی د پښــتو ژبې او ادبیاتو دانستیټیوټ پوهانو اوڅېړونکو برخه اخیستې ده. د هر لغت تلفظ په فونیمیکه الفبې لیکل شوی. د خج ځایونه هم په ګوته شوي چې ویونکي ته د سم تلفظ په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابروي. دغه قاموس د ښوونځیو زده کوونکــو او هم د پښــتو ژبې له بهرنیو مینه والو ســره د پښــتو ژبې پــه زده کړه کې پوره مرســته کولای شي. په دغه قاموس کې (٤٥٦٦) پښتو لغتونه په دري ژبه معنا شوي او هم یې ګرامري خصوصیات ښــوول شــوي دي.فرهنگ مختصر دري _ پښتو، په لیکلو کې د دري ژبې اوادب انستیټیوټ غړو برخه اخستې ده. په دې قاموس کې هم هماغه لار تعقیب شوې. دري لغات یې لومړی په فونیمیکه بڼه لیکلي او بیا په پښتو معنا شوي دي.

١١_ پښتو _ پښتو تشریحي قاموس:

د دې قامــوس د لیکلــو لومړنۍ چارې اصلاً د وخت د پښــتو ټولنې د لغاتو د څانګې له خوا پیل شوې وې. په اوسنی بڼه د افغانستان د علومو اکاډمي له تاسیس نه وروسته، د ژبو او ادبیاتو د مرکز د ژېپوهنې څانګې دغه سلسله پسې تعقیب او تر (١٣٦٥) لمریز کال پورې د دې قاموس څلور ټوکونه یو په بل پسې له چاپه راووېستل.

په پښتو _ پښتو تشریحي قاموس کې لومړی هر لغت په پښتو الفبې او بیا وروسته د تلفظ

دکره توب لپاره په فونيميکه الفبې ليکل شــوی دی. همدغســې دکلمو د فشار ځايونه هم ښــودل شــوی. د ځينو لغاتو لپــاره مختلف لهجوي تلفظونه او مترادفــات راغلي دي او بيا ځينې لغتونو په لنډو لنډو جملو کې شرحه شوي دي. دا قاموس په پنځو ټوکونو کې ترتيب شوی دی. د ټولو ټوکونو د لغتونو شمېر يې تقريباً پنځه پنځوس زروته رسېږي. د دې قاموس څلور ټوکونه چاپ او پنځم ټوک يې دځينو ســتونزو له امله له چاپه پاتې شــوی دی. پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس په ليکلو کې له بېلا بېلو قاموسونو څخه استفاده شوې ده.

د متن لنډيز:

د قاموس ليکل په پښــتو ســربېره د نړۍ په ټولو ژونديو ژبو کې تر سـره شــوي دي.
قاموس د يوې ژبې د لغاتو زېرمه ده، تقريباً د هغه ژبې ټوله شــتمني پکې را ټوله شــوي وي. نو ليکل او ترتيبول يې يو ارزښمن او د قدر وړ کار دی.

قاموس ليکنه د يوې ژبې د لغوي پانگې د خوندي کېدو او له نورو ژبو څخه راغلو کلمو د تنظيم په موخه تر ســره کېږي. په پښــتو ژبه کې قاموس ليکنه لومړی له هېواده بهر پيل شــوې ده، وروسته په افغانستان اوکوزه پښــتونخوا کې ځينې قاموسونه وليکل شول.

(رياض المحبت، پښتوســيند، پښتومرکې قاموس، سپېڅلي پښتو، لس زره لغات، پښــتو اردو قاموس، افغان قاموس، پښــتو قاموس، پښــتو دري لنــډ قاموس، فرهنگ مختصر دري ـ پښــتو ـ پښتو تشريحي قاموس) په پښتو کې ليکل شوي قاموسونه دي چې د پښتو ژبې او لهجو لغوي پانگه پکې خوندي ده.

فعالیتونه

۱ـ درې تنه زده کوونکي دې په وارسره د پښتو قاموسونو نومونه د ټولګي په وړاندې ووايي.

۲ـ دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي، د پښتو قاموسونو ارزښت دې بيان کړي.

درې تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د لاندې محاورې په څېر دې خبرې اترې وکړي:

درېم زده کوونکی	دويم زده کوونکی	لومړی زده کوونکی
نه ، مه راځه:	هو، راشه:	اجازه ده کتابتون ته راشم؟

اجازه ده چې کتاب له ځانه سره يوسم؟/ هو، کتاب له ځانه سره يوسه/نه، د کتاب وړلو اجازه نشته.

نه، مه يې کوه	هو، په ټيلفون کې خبرې وکړه.	اجازه ده چې ټيلفون وکړم؟
نه، مه يې ګوره:	هو، ويې ګوره:	اجازه ده چې کتاب وګورم؟

۳ـ دوه تنه زده کوونکي دې وټاکل شي، يو تن دې لاندې کلمې په بېلګه يې جملو کې د مفرد په بڼه وکاروي او بل تن دې د جمع په ډول:

(قلم، کتابچه، کتاب، بکس، قاموس، ليکونکی)

دويم	لومړی
ستا قلمونه چېرې دي؟	ستا قلم چېرې دی؟
ستا کتابچې کو مې دي؟	ستا کتابچه کومه ده ؟

ستا كتا ب كوم دى؟ | ستا كتا بونه كوم دي؟
ستا بكس چېرې دى؟ | ستا بكسونه چېرې دي؟
تا پښتو قاموس كتلى دى؟ | تا پښتو قاموسونه كتلي دي؟
د افغان قاموس ليكونكى څوك دى؟ | د افغان قاموس ليكونكي څوك دي؟

٤ـ دوه تنــه زده كوونكــي دې د ټولګي په وړاندې لومړى خپل څـان نورو ټولګيوالوته ورو‌پېژني او بيا دې د پښتو قاموسونو په اړه خبرې وكړي.

٥ـ څو تنه زده كوونكي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

- پښتو ـ دري لنډ قاموس په كومه مطبعه كې، كله چاپ شوى؟
- افغان قاموس په څو ټوكونو كې تدوين شوى؟
- د پښتو اردو قاموس مؤلف څه نومېږي؟
- په سپېڅلي پښتو كې څو زره لغات راټول شوي دي؟
- پښتو لومړنى قاموس په كوم نامه يادېږي؟
- د دويمې ژبې په زده كړه كې قاموس څه رول لري؟

كورنى دنده

زده كوونكي دې د قاموس د ارزښت په اړه څو كرښې وليكي او په بله ورځ دې د نورو په وړاندې ووايي.

د ژبې د زده کړې اهميت (خبرې اترې)



په ټولنه کې د وګړو تر منځ د پوهونې او را پوهونې او د بشري پوهنو د زده کړې بنسټيزه وسيله ژبه ده. انسانان د ژوند له هماغه لومړي پيل څخه د يو بل د پوهولو لپاره ژبې ته اړ وو. هغوی اړ وو چې خپل فکر يو بل ته انتقال کړي او د بل په فکر باندې ځانونه وپوهوي، ژبه انسان ته د دې وړتيا ورکوي چې پوهه، مهارت، تجربې خوندي او په ليکنۍ يا ګړنۍ (شفاهي) توګه يې نوروته ولېږدوي. له دې امله ژبه د خپل ارزښت له مخې د انسان په ژوند کې خورا مهم رول لري. ژبه ده چې انسان له نورو حيواناتو بېلوي، غږېدا او خبرې په ژبه کېږي او ژبه هغه وخت ښه زده کېږي چې خبرې پرې وشي، ځکه چې خبرې اترې د ژبې د زده کولو اسانه او ښه لاره ده که د يو چا هر څومره ژبې زده وي په هماغه اندازه ځواکمن دی.

که ژبه نه وای څه به پېښ شوي وای؟

ژبپوهان ژبه د يو لړ وييزو او اوريزو آوازونو مجموعه بولي چې د يوې ټولنې وګړي يې يوله بله د پوهولو لپاره پر ژبه راوړي او يو بل ته يې اوروي. په دې توګه ژبه د انسانانو تر منځ د پوهولو راپوهولو يوه وسيله ګرځي. د هغو کلمو او خبرو ټولګې ته ژبه ويل کېږي چې يو څوک يې بل چا ته د خپل فکر د بيان لپاره کاروي. وينا او خبرې کول د افکارو د ښکاره کولو ډېره ښه وسيله ده. ژبه يوه ټولنيزه پديده ده چې د هغې په وسيله د ټولنې تر منځ يو ډول اجتماعي مناسبات منځ ته راځي. ژبه د آوازونو د يو سيستما تيک نظام په توګه د ښودلو او زده کولو وړ ده، ځانته ټاکلي قواعد لري له ټولنې څخه زده کېږي، د ټولنې محصول ده او موجوديت يې له ټولنې څخه دباندې نشي تصور کېداى. ژبه د انساني ټولنې په چاپېريال کې د حقايقو د ښکاره کولو اود افکارو د تبادلې وسيله ده. يو مشهور متل دى چې وايي: ((خپله ژبه هم کلا (قلعه) ده هم بلا) يعنې که دې ښه وکاروله اوښې نرمې نېکې خبرې دې وکړې نو ستا لپاره امن ګرځي او که دې ترې ناوړه استفاده وکړه نو بيا ورته همدغه خپله ژبه بلا او اپت ګرځي.

د ژبې د سمې کارونې په اړه لاندې کيسه ولولئ او ترې پند واخلئ:

يووخت يو پاچا خپل اشپز ته وويل چې بېګاه ته ښه خوندور خواړه پاخه کړه. اشپز ښارته لاړ او د پسه ژبه يې رانيوله او پاچا ته يې پخه کړه. بېګا ته پاچا وخوړه او ډېره مزه يې ورکړه. بلې شپې ته پاچا خپل اشپز ته وويل چې بېګا ته خراب خواړه پاخه کړه. اشپز بيا د پسه ژبه پخه کړه. کله چې پاچا ډوډۍ وخوړه، له اشپز څخه يې وپوښتل: پرون مې درته وويل چې ښه خواړه پاخه کړه، نو تا راته ژبه پخه کړه او چې نن مې درته وويل: خراب خواړه پاخه کړه. بيا دې هم ژبه پخه کړه، د دې راز په څه کې وو؟ اشپز وويل: ((همدا ژبه ده چې ښې خبرې پرې وکړې او په خوږو خبرو او ښه ډول يې استعمال کړې، نو ژبه خوږه ده او که په بدو خبرو يې استعمال کړې نو بده ده))

د متن لنډیز:

ژبه دانساني ټولنې په چاپېریال کې د حقایقو د څرګندولو، د افکارو د تبادلې او د بشري پوهنو د زده کړې بنسټیزه وسیله ده. ژبه ده چې انسان پرې خپل فکر او نظر بیانوي، خپل مطلب او غوښتنې یو بل ته وایې او همداشان د نورو په غوښتنو پوهېږي. پوهونه او پوهېدنه په بېلا بېلو کړنلارو سره سرته رسېږي. د دې لپاره چې په سمه او ښه توګه د دوو یا ډېرو کسانو ترمنځ مفاهمه صورت ونیسي نو د ژبې څخه باید په ښه ډول کار واخیستل شي او په داسې ډول ژبه وکاروي چې ټول ترې خوښ او خوشحاله وي. د ژبې بنسټیز ارزښت همدا دی، څه چې په زړه او ذهن کې وي په درست ډول بیان کړای شي.

لومړی محاوره:

سپوږمۍ: پرښتې خورې ستړې مه شې.

پرښته: السلام علیکم، سپوږمۍ جانې! ته ستړې مه شې.

سپوږمۍ: چېرته روانه یې؟

پرښته: د ژبې د زده کړې مرکز ته ځم.

سپوږمۍ: خیر خو به وي!د ژبې د زده کړې په مرکز کې څه کوې؟

پرښته: هلته مې د پښتو ژبې د زده کړې کورس نیولی دی.

سپوږمۍ: ولې ته په پښتو ژبه نه پوهېږې؟

پرښته: په ژبه خو پوهېږم، مګر خبرې پرې نشم کولای.

سپوږمۍ: په ښوونځي کې تاسوته په کومه ژبه تدریس کېږي؟

پرښته: موږ ته تدریس په مورنۍ ژبه کېږي، پښتو مضمون هم وایو.

سپوږمۍ: بیا نو د پښتو ژبې د زده کړې اړتیا څه ده؟

پرښته: پښتو لکه د دري په څېر زموږ ژبه ده، باید په پښتو ژبه لیکل، خبرې کول اولوستل وکړای شم.

سپوږمۍ: پرښتې خورې، زموږ په ټولګي کې تدریس هم زموږ په مورنۍ ژبه (پښتو)

دی، خو دري مضمون هم وایو.

پرښته: سپوږمۍ خورې: ستا خو مورنۍ ژبه پښتو ده، په دري ژبه خبرې کولای شې؟

سپوږمۍ: په دري ژبه لیکل او لوستل مې زده دي او تر خپلې اندازې مشکل هم پرې حلولی شم.

پرښته: ته نېکمرغه یې، د چا چې هر څومره زیاتې ژبې زده وي هماغومره څواکمن وي.

سپوږمۍ:په رښتیا چې ژبه د اړتیا په اساس را منځته شوې او د اړتیا په صورت کې زده کېږي، خو ارزښت یې په دې کې دی چې سړی پرې لیکل، لوستل او غږېدل وکړای شي.

دویمه محاوره:

سېلاب: السلام علیکم، هارونه وروره ستړی مه شې، څنګه یې؟

هارون: وعلیکم السلام، سېلاب جانه، د خدای ﷻ فضل دی ښه یم.

سېلاب: ته اوس په څوم ټولګي کې یې او په کوم ښوونځي کې زده کړه کوې؟

هارون: زه په یوولسم ټولګي کې یم او د عبدالهادي داوي د ښوونځي زده کوونکی یم، ستا د زده کړې حال څنګه دی؟

سېلاب: ګرانه ملګریه، د کورنیوستونزو له امله یو کال له ښوونځي څخه پاتې شوم، اوس په لسم ټولګي کې یم او د محمود طرزي د لېسې زده کوونکی یم.

هارون: سېلاب جانه، د ژبو په زده کړه کې څنګه یې؟

سېلاب: پښتو او دري خومې خپلې ژبې دي، لیکل، لوستل او خبرې کول پرې کولای شم، غواړم چې انګلیسي ژبه هم زده کړم. په دې اړوند ستا حال څنګه دی؟

هارون: دري خو مې مورنۍ ژبه ده، په پښتو ژبه هم تر اندازې پوهېږم، د انګلیسي ژبې کورسونه مې هم لوستي دي.

سېلاب: پوهان وايي: د چا چې هر څومره ژبې زده وي، په هماغه اندازه څواکمن دی؛ یعنې د چا چې یوه ژبه زده وي یو سړی دی، که دوه یې زده وي دوه، په همدې ډول زیات.

هارون:وروره! د ژبې په ارزښت به هاله پوه شې چې کوم بهرني هېواد ته سفر وکړې.

سپلاب: هارون جانه! تاسو کله باندني هېواد ته سفر کړی دی؟
هارون: هو کې! زه تېر کال هندوستان ته تللی وم.
سپلاب: د هغه هېواد خلکو په کومه ژبه خبرې کولې؟
هارون: د هغه هېواد ژبې ګڼې وې، خلکو یې ګڼې ژبې زده وې، د چا سره به چې مخامخ شوې په انګلیسي ژبه به درسره ګړېده.
سپلاب: زه په انګلیسي څه نا څه پوهېدم، له همدې امله د ژبې د زده کړې په ارزښت پوه شوم.

دریمه محاوره:

- ستا نوم څه دی؟
- زما نوم نجیب الله دی، تاسو که خپل ځان را وپېژنئ؟
- زما نوم خېبر دی او د ننګرهار ولایت اوسېدونکی یم.
خېبر: نجیب الله جانه، تاسو د کوم ځای یاست؟
نجیب: زه د بدخشان ولایت اوسېدونکی یم.
خېبر: دلته دې څنګه را پېښه وکړه؟
نجیب: کانکور آزموینه کې د ننګرهار پوهنتون کرنې پوهنځي ته بریالی شوی یم.
خېبر: نجیب جانه، دا خو ډېره ښه ده، تاسوته د بریالیتوب مبارکي وایم. زه هم د کرنې په پوهنځي کې محصل یم.
نجیب: زه ډېر خوشحاله یم چې د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالی شوم.
خېبر: وروره، دلته خو استادان په پښتو ژبه تدریس کوي او ټول لکچر نوټونه هم پښتو دي.
نجیب: همدا خو زما یوازینی هیله وه چې پښتو ژبه زده کړم.
خېبر: تاسو به له ستونزو سره مخامخ نشئ؟
نجیب: هېڅکله هم نه، ژبه د اړتیا په اساس زده کېږي، دا به ډېره ښه شي چې هم پښتو ژبه زده کړم او هم خپل لوړ تحصیل تر سره کړم.
خېبر: تاسو خو په ښوونځي کې هم پښتو ژبه ویلې ده؟

نجیب: پښتو مضمون تر دولسم ټولګي پورې راته تدریس شوی، مګر هغه مهال زه د ژبې په ارزښت نه پوهېدم.
خیبر: اوس څنګه دې تشې ته متوجه شوې؟
نجیب: دا د یو افغان لپاره په ځانګړې ډول چې لوړ تحصیلات ولري، ډېر لوی کمی دی چې د خپل هېواد په ملي او رسمي ژبو پوه نه شي.

فعالیتونه

۱ــ درې تنه زده کوونکي دې د ژبې د ارزښت په اړه خپل نظر ووایي.
۲ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او مفهوم ته دې پاملرنه وکړي.
۳ــ څلورتنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د ژبې په اړه د لوستل شوې کیسې په هکله دې خبرې وکړي.
٤ــ زده کوونکي دې په درېو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د ژبې د ارزښت په اړه خپل نظریات په یوه پاڼه کې ولیکي او بیا دې د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظریات نورو ټولګیوالوته ووایي.
۵ــ څو زده کوونکي دې په وار د ټولګي په وړاندې خپل ځانونه په بشپړ ډول نورو ته وروپېژني، بېلګه: زما نوم اجمل دی. د احمدشاه زوی او د ایمل لمسی یم. په غور کې زېږېدلی او اوس په کابل کې اوسېږم. لومړنۍ او ثانوي زده کړې مې د غور په یوې لېسې کې سرته رسولي او اوس د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصل یم. . . .
٦ــ دوه تنه زده کوونکي دې د لوست لنډ مفهوم ووایي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې د ژبې د ارزښت په اړه لس کرښې مقاله ولیکي او د بلې ورځې پښتو مضمون ساعت کې دې ووایي.

سکندر خان خټک



د پښتو ژبې په ادبي تاریخ کې نومیالي لیکوال او شاعران تېر شوي دي چې په خپلو تلپاتې ادبي آثارو یې پښتو ژبې او ادب ته بډاینه وربښلې ده.

خوشحال خان خټک او د هغه کورنۍ پښتو ژبې او ادب ته د ستاینې وړ خدمتونه کړي دي. دوی د منظومو او منثورو آثارو په لیکلو او ژباړې سره د پښتو ژبې ادبي او فرهنګي پانګه ډېره بډایه او شتمنه کړه. په کورنۍ کې یې ډېر شاعران او لیکوال وروزل شول چې د شعرونو منظم دیوانونه یې په پښتو ادب کې د یاد وړ ځای لري.

د خوشحال د کورنۍ یو یاد او د شعري دیوان لرونکی شاعر سکندر خان خټک دی چې په دې لوست کې یې درپېژنو:

ـ یو لیکوال او شاعر ژبې ته څه خدمت کولای شي؟

سکندرخان خټک د پښتو ژبې د ستر لیکوال خوشحال خان خټک زوی دی. ده هم د خپل پلار د ادبي ښوونځي قدرداني او پیروي کړې ده . د زوکړې کال یې څرګند نه دی، خو په آثاروکې یې دځینو یادونو څخه دا جوتېږي چې دی به په (۱۰۶۸هـ.ق.) کال کې زېږېدلی وي او تر (۱۱۱۶هـ.ق.) کال پورې یې ژوند یقیني دی، ځکه په همدې کال کې د ده دوه زامن (منګل ــ انور) مړه شوي دي. سکندرخان د خپلو زامنو په مړینه غم او ویر کې ویرجن او غمجن شعرونه ویلي دي چې بېلګې یې په شعري دیوان کې موجودې دي. د سکندرخان خټک د لاس ته راغلو اثارو له مطالعې را جوتېږي چې سکندرخان عالم او پوه سړی و. په پښتو سربېره په پارسي، عربي او نورو ژبو ښه پوهېده. سکندر خان د خپلې کورنۍ له علمي، ادبي او فرهنګي چاپېریال څخه ښه استفاده کړې ده او د خپلې کورنۍ د سردارۍ په سیاستونو کې شامل و. ده ښه شعري استعداد درلوده چې د هغه په مرسته یې ډېر اوچت او د هنر په ګاڼه سمبال شعرونه ویلي دي. موږ ته یې دا لاندې اثار معلوم دي:

د اشعارو دیوان، د لیلٰی او مجنون مثنوي، شمایلنامه، پندنامه، یوسف او زلیخا. هانري جارج راورټي لیکلي دي چې سکندرخان خټک د مهر و مشتري کیسه هم نظم کړې ده، خو د سکندرخان دغه منظومه کیسه تر اوسه نه ده لیدل شوې. د سکندرخان خټک سبک ډېر ساده، روان او کلام یې خوږ او زړه راښکونکی دی. د پت او عزت ژوند ته ترهر څه زیات قدر او ارزښت ورکوي او عزت یولوی دولت بولي:

چې چېرته مې عزت دی	هم هغه زما دولت دی
بې عزته روټی نه خورم	دا مې خوی دا مې عادت دی
یو کاشوک او ګوره بهتره	له غه آش چې په منت دی

سکندرخان خټک په یوه بولله کې د خپلې کورنۍ او خپل پلار ستاینه په حقیقي رنګ کې کړې ده، څو بیتونه یې د کلام د نمونې په توګه راوړو:

ورکړه، توره مو ځايي ده　　قديمي لرو دا کار
دا يو خو هنره راوړل　　و اولاد ته د مونږ پلار
اول خط دوم سواد دی　　دريم ښکار دی بل اشعار
سيال مو نشته په افغان کې　　له خټک ترکندهار
د خپل پلار صفت به څه کړم　　بويه نور يې کار شعار
که جوسه يې د سړي ده　　زور يې زيات و ترحصار
چې به دی په ميدان پېښ شو　　اول ده کاوه ګوزار
بې ګناهه په ناحقه　　يو مېړی نه و ازار
درسته ورځ به يې په ښکار وه　　په شپه بازعوندي بېدار

د متن لنډيز:

په پښتو ادب کې يوولسمه او دولسمه هجري پېړۍ ځانګړی ځای لري. د همدې پېړيو په بهير کې خوشحال خان خټک او د هغه کورنۍ پښتو ژبې او ادب ته د ستاينې وړ خدمتونه کړي او د ارزښتناکو ادبي او فرهنګي اثارو په پنځونه يې پښتو ژبه او ادب بډای کړی دی.

دخوشحال خان په زامنو کې سکندر خان خټک يو غښتلی او منلی شاعر ګڼل کېږي. په ليکنه او اشعارو کې يې د خپل پلار پيروي کړې ده. د اثارو له مطالعې څخه يې دا جوتېږي چې دی يو عالم او پوه سړی و. په پارسي، عربي او نورو ژبو هم پوهېده. د سردارۍ په سياستونو کې شامل او د خپل پلار سخت ملګری و. د زوکړې دقيقه نېټه يې معلومه نه ده، خو ژوند يې تر (۱۱۶۸) هجري قمري کال پورې يقيني دی.

د اشعارو ديوان، د ليلي او مجنون مثنوي، شمايلنامه، پندنامه، يوسف او زليخا يې معلوم اثار دي.

۱_ بولله:

بولله د قصيدې پښتو نومونه ده، د قصيدې لغوی معنا قصد او اراده ده. په ادبي اصطلاح قصيده هغه شعري ډول دی چې تر يوې مطلع لاندې ويل کېږي. اوږده او ډول ډول مضامين پکې راوړل کېږي. د بيتونو شمېر يې له شلو څخه نيولی بيا تر دووسوو پورې رسېږي.

۲_ مثنوي:

د مشترکو نظمونو يو ډول دی چې د هر بيت دواړه مسرې يې يو ډول قافيه ولري. يعنې هر بيت يې په جدا قافيه سره ويل شوی وي. اوږده، اوږده مطالب، تاريخي، رزمي، اخلاقي، عرفاني او داسې نور موضوعات پکې ډېر ښه بيانيدای شي.

۳_ هانري جارج راورټي:

د پيټر راورټي زوی په (۱۸۲۵) ميلادي کال د انګلستان د فل مت په ښارګوټي کې زېږېدلی. راورټي عالي تحصيلات نه و کړي، خو د ډېر اوچت ذاتي علمي استعداد او ذکاوت خاوند و. هندي، فارسي، پښتو، ګجراتي او مرهټي ژبې زده وې. د پښتو ژبې د مطالعې په برخه کې د راورټي ډېر لوی کار د پښتو ژبې د يوه لوی ګرامر ليکل و چې لومړی چاپ يې په ۱۸۵۵م. کې خپور شو. دوه نور مهم اثار يې چې پښتو انګريزي قاموس او بل يې د ګلشن روه په نامه د پښتو نثر او نظم يوه مجموعه وه چې په ۱۸۶۰م. کال کې چاپ شول.

فعالیتونه

۱ــ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره متن په لوړ آواز ولولي.

۲ــ دوه، دوه تنه زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي، لومړی دې خپل ځان ټولګیوالو ته وروپېژني او بیا دې هر جوړه زده کوونکي د پوښتنو او ځوابونو په ډول د اړوندې موضوع په باب خبرې اترې وکړي.

۳ــ زده کوونکي دې په وار سره د متن نوي لغات معنا او د تختې پر مخ دې په مناسبو جملوکې وکاروي.

٤ــ دوه تنه زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي، د خوشحال خان خټک او د هغه کورنۍ د ادبي خدمتونو په اړه دې د سوال او ځواب په بڼه خبرې اترې وکړي، بېلګه:

د خوشحال خان خټک ادبي نهضت په کومې پېړۍ پورې اړه لري؟

دا دوره ولې زیات ارزښت لري؟

د خوشحال خان خټک په زامنو کې د سکندرخان خټک دریځ څه و؟

تاسو د خوشحال د کورنۍ نور شاعران پېژنئ؟

۵ــ زده کوونکي دې لاندې پوښتنوته ځوابونه ووایي:

- سکندرخان په کومو ژبو پوهېده؟
- د سکندرخان د دري اثارو نومونه واخلئ؟
- راورټي پخپله لیکنه او شاعري کې د چا سبک پاللی دی؟
- راورټي د سکندر خان د اثارو په اړه څه ویلي دي؟

٦ــ دوه تنه زده کوونکي دې د لوست لنډیز نورو ټولګیوالو ته ووایي.

زده کوونکي دې په کور کې د سکندرخان خټک شعر چې د خپلې کورنۍ په ستاینه کې ویلی دی، ولولي او لنډ مفهوم دې په خپلو کتابچو کې ولیکي او په بله ورځ دې ټولګیوالو ته ووايي.

لاندې متن ولولئ، خوند ترې واخلئ:

ناکامي

د ژوندانه د ناکامیو څخه مه مایوس کېږه!

هغه ژوند کامیاب ژوند نه دی چې تل کامراني لري. هغه خوشحالي سرې نه خوشحالوي چې د درد او خوږ په بیه نه وي اخیستل شوې! د ورځې رڼایي د شپې له تیارې څخه ده!

د لیدو خوند د بېلتانه په غم کې او د ژوندانه فتحه د ژوند په ماتې کې ده.

هغه چې له خدایه ابدي راحت غواړي، هغه د یو داسې جنت ارزو لري چې هلته د لیدو لپاره سترګو پرانیستو او د خوړلو لپاره خولې ببرته کولو او د اورېدو لپاره غوږ ایښودو ته اړه نه وي!

ترخو چې ژوند دی، نو په دې کې برکت له حرکت څخه دی! ځکه: کامل سکون کټ مټ مرګ دی!

هغه چې وايي په دې دنیا کې بدي ولې شته، کمی ولې، او بندیزونه ولې؟ نو دی په حقیقت کې د نیکۍ د پرېمانۍ او ازادۍ قدر نه پېژندني او ددې مرغلرو پوره قیمت اداکول نه غواړي!

هرڅومره چې یوه خوشحالي شانداره وي هغومره هغه لیارې هم سختې وي چې د هغې د حصول لپاره لنډېږي.

د ژوند ناکامي په حقیقت کې هغه کسان غواړي چې د کامیابۍ وړ وي.

(ارواښاد خادم)

ســوله

ژوند، کار، سوله درې سره تړلي مفهومونه دي. د ژوند لپاره کار اړین دی، که کار نه وي. د ژوند بهیر ټکنی کېږي، د دوارو لپاره سوله او امن اړین توکي دي. که سوله نه وي د کار کولو زمینه نه برابرېږي، نو ژوند تریخ تېرېږي. دا به ومنو چې سوله د ژوند نوم او ژوند د سولې نوم دی. انسان هغه مهال د هو سایي او سولې په ارزښت پوهېږي چې په کړاو اخته او د جګړې ناخوالي وګوري.

سوله د ژوند لپاره څه ارزښت لري؟

سوله د انساني ژوند بنسټ جوړوي. د ټولنیزې پرمختیا، سوکالۍ، خوښۍ او نېکمرغۍ لپاره سوله او امن اړین توکي دي. چېرته چې سوله وي، هلته نېکمرغي، سوکالي او خوشحالي وي. ماشومان او تنکي ځوانان له وېرې او ډار پرته ښوونځیو ته ځي اوزده کړه کوي. لویان ښځینه او نارینه هر څوك په خپلو دندو او کارونو لګیا وي، خپل بدني او فکري ځواك د خپل هېواد د نېکمرغۍ، ابادۍ او ودانۍ په لاره کې کاروي. چېرته چې سوله او امن نه وي، هلته بشري ژوند له سترګواښ سره مخامخ وي. وګړي یې بدمرغه، پرېشانه او نا ارامه ژوند لري. کلي، ښارونه یې وران او د ښوونځیو دروازې یې تړلې وي.

د سولې په نشتوالي کې په ټوله سیمه کې ناپوهي او بې سوادي خپلې وزرې غوړوي. د وګړو تر منځ د خوښۍ او خندا پر ځای کرکه او نفرت ځای نیسي.

که په یوه سیمه یا یو هېواد کې د جګړې اور بل او نا امني رامنځته شي، نوله تاو یې ګاونډۍ سیمې هم خوندي نه پاتې کېږي. سوله له دوو تنو څخه نېولې، بیا د کورنۍ د غړو، قومونو او ولسونو او په پای کې د یو هېواد دننه د استوګنو خلکو تر منځ د هغوی په ورځني ژوند اغېز کوي. که دوه تنه په خپل منځ کې پر یوه شي خوابدي شي، نو اړیکې یې شلېږي، که په یوې کورنۍ کې د کورنۍ د غړو ترمنځ تاوتریخوالی راشي ژوند یې تریخېږي. که یو ولس په خپل منځ کې یو تر بله په جګړو بوخت وي یا پر یوه خپلواك هېواد باندې پردي برید او یرغل وکړي، نو عادي او ورځنۍ اړیکې یې شلېږي او ژوند یې له ستونزو سره مخامخ کېږي. وګورئ په جګړه کې ښکېلېدل اوله سولې لاس په سر کېدل انسان له څومره ستر کړاو سره مخامخ کوي. داسې کوم کار او مشکل دی چې په خبرو حل نشي؟ دا هاله کېدونکې دي چې د خبرو د اورېدو لپاره غوږونه کاڼه نشي او ناپوهي بر لاسې نه وي، ځاني ګټې پر ملي ګټو درنې ونه ګڼو. که د ځان ترڅنګ نور هم ومنل شي، زغم او ځان تېرېدنې ته د یو بنیادي اصل په سترګه وکتل شي، نو بیا داسې کومه ربړه نه پاتې کېږي چې حل او هواره نشي.

په پای کې ویلی شو چې د جګړې ښېره د انسانانو په وینو لړلې او له بد مرغیو او ورانیو سره مل وي. خلك ترې تښتي او کرکه ورڅخه کوي، خو د سولې ښېره چې ټولنه د خوښۍ او نېکمرغۍ په لور بیايي، خلك ورته غېږه پرانیزي.

په لاندې شعر کې د سولې ارزښت په ښه ډول انځور شوی، هغه ولولئ او خوند ترې واخلئ:

هغه ورځ به بختوره وي هر ګوره
چې د سپینو زړونه تور نه وي له توره
کرکه نه وي یوله بله محبت وي
ورور ولي سوله صفا وي ښه نیت وي
مرور خلك یو بل سره پخلا شي
نه چې غوښه او چاړه هغه اوداشي
بشري دوستي قایمه په جهان وي
خوښ په سوله هم کافر هم مسلمان وي
نژادي توپیر هېڅ نه وي په دنیا کې
نه په شرق او نه په غرب نه امریکا کې
استقلال منلی حق د هر ملت وي
خو قایم په ملتو کې اخوت وي
دا خو رنګه ساز اواز د هېوادونو
شي یوه ار کسترا د ولسونو
د ګډ ژوند اصل و اساس اصلي منظور وي
جهاني عدل و انصاف صحیح دستور وي
هر ملت په هر نظر کې وي ښاغلی
که په هر رنګ واین کې وي راغلی

سړيتوب وي محترم په هر لباس کې
په زري جامو کې وي که په کرباس کې
داسې وساتي هر څوک خپل مسلکونه
چې ونه کړي يوله بل سره جنګونه
ټول جهان د دوستۍ کور وي سر ترسره
د جنګ وېره شي له زړو نو نه بهره
زور ترلی وي د سولې په قانون
مهار شوي مست او ښان وي د جنون
تويول د وينو شرم او پېغور وي
شرمنده ذليل سر ټيټی ظلم زور وي
جګ شي هر چېرته د سولې بېرغونه
شي په سمه لار روان سياستونه
د انسان زړګی له جنګ او جګړې تور شي
توره ماته شي او جوړ ورنه څه نور شي
خوله نه وي علامه د خجالت
په خدمت خولې کېدل وي شرافت
يوله بله محبت مهرباني وي
د (الفت) هيله او فکر جهاني وي
زه له تاځنې څارېږم ته له ما نه
که جدا هم وي زما آيين له تا نه

(ګل پاچا الفت)

د متن لنډیز:

سوله او امن د بشري ژوند د سوکالۍ او ټولنیزې پر مختیا لپاره اړین دي. سوله انساني اړتیا ده، سوله ژوند ته وایي په یوه ټولنه هېواد او نړۍ کې که سوله نه وي، بشري ژوند به له سترګواښ سره مخامخ وي او اغېزې به یې په ټولو ملکونو پرېوتې وي. د وګړو ژوند به تریخ وي. جګړه د شخړو او لانجو د حل لاره نه ده، بلکې شخړې او لانجې د خبرو له لارې هوارېږي، تا و تریخوالی د خبرو او تفاهم له لارې لرې کېږي.

هوښیاران هغه دي چې خپلو اولادونو او ماشومانو ته خوږ او نېک میراث پرېږدي، خپلو ځانونو او خپلو هېوادوالو ته د یو هوسا او سوکاله ژوند په لټه کې وي، خپل هېواد د سیمې او نړۍ د هېوادونو په لیکه کې ودروي. دا ټول هغه مهال شوني دي چې خپلمنځي دښمنۍ او تربګنۍ شاته پرېښودل شي، ټولنیزې ګټې پر شخصي ګټو غوره وګڼل شي او پخپل منځ کې یو د بل د منلو زغم موجود وي. د پښتو ژبې نومیالي شاعر ګل پاچا الفت پخپل پورتني شعر کې د سولې د نړۍ په زړه پورې انځور وړاندې کړی دی. شاعر د داسې چاپېریال هیله من دی چې په ټوله نړۍ کې سوله وروولي وي، خلک، ولسونه پخپل هېواد او نړۍ کې سره پخلاوي، د جنګ جګړې وېره له زړونو وتلې وي، له وینې تویولو څخه کرکه او سوله ییز ژوند ته لېوالتیا وي.

د شاعر پېژند ګلوي:

ګل پاچا الفت د میر سید پاچا زوی، په ۱۲۸۸هجري کال کې د لغمان ولایت په عزیز خان کڅ کې زېږېدلی دی.

الفت د پښتو ادب ځلانده ستوری، پیاوړی لیکوال، شاعر او کره کتونکی و. د الفت چاپ اثار له شلوڅخه زیات او په سلګونو مقالې یې په مطبوعاتو کې خپرې شوي دي. د اثارو له جملې څخه یې:

څه لیکل یا لیک پوهه، ادبي بحثونه، غوره اشعار، غوره نثرونه، د زړه وینا، لوړ خیالونه او ژور فکرونه، ډېر زیات لوستونکي لري. اروابناد الفت په ۱۳۵٦ لمریزکال دلیندۍ په (٢٦) مه نېټه له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې.

فعالیتونه

۱ـ دوه تنه زده کوونکي دې په وار سره شعري متن د ټولګي په وړاندې په لوړ او از ولولې.

٢ـ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او مفهوم ته دې ځیر شي.

۳ـ څو تنه زده کونکي دې په وار سره د تختې پر مخ له متن څخه یو یو بیت ولیکي، بل زده کوونکی دې پخپله خوښه د هما غه لیکل شوي بیت معنا او مفهوم ووایي.

٤ـ څلور تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او دوه دوه دقیقې دې د سولې په اړه خبرې وکړي.

٥ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې په منظوم متن کې د تشبیه ارکان په نښه کړي او بله ډله دې پکې د تشبیه ډولونه، بیا دې د هرې ډلې مشر هغه د ټولګی په وړاندې بیان کړي.

٦ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- سوله څنګه ټینګېږي؟
- سوله څه ګټې لري؟
- د جګړې زیانونه څه شی دي؟
- په لوستل شوي شعر کې د شاعر هیله څه وه؟

۷ــ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې په داسې ډول چې يو د سولې په نوم او بل د جګړې په نوم پخپل منځ کې خبرې وکړې او ځوابونه دې واوروي. بېلګه

سوله: زما نوم سوله دی، د خوښۍ او نېکمرغۍ له سيمې راغلې يم.

جګړه: زه جګړه يم، له هغې سيمې راغلې يم چې ستا پل هلته رسيدلی نه دی.

سوله: دا کوم ځای او کومه سيمه ده؟

جګړه: دا د بد مرغيو، پرېشانيو، ورانيو، ناروغتيا او بېوزلۍ سيمه ده.

سوله: ته زما ضد يې، خلکو ته بد مرغي او پرېشاني ورکوې.

ښارونه ورانوې،

ښوونځي سوځوې،

له خلکو نه ژوند اخلې،

بېوزلي راولې، ناروغي راولې.

خو زه به ستا دا ټولې هيلې په اوبو لاهو کړم، پرې به نږدم چې دلته نورې ستا منګولې ښخې شي. زه به خلکو ته ارامه ژوند ورکړم، ښوونځي به ورته جوړ کړم، زده کوونکي به په ارامه فضا کې زده کړه وکړي، خلك به ستا (جګړې) کرغېړنه څېره وپېژني، ستا ټغر به د تل لپاره له دې سيمې څخه ټول کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د سولې تر سرليك لاندې لس کرښې مقاله وليکي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په درسي ساعت کې دې ولولي.

جګړه د هر ولس تدريجي ځان وژنه ده.

لاندې کیسه ولولئ او پرمفهوم یې ځانونه پوه کړئ:

وایي، یوه ورځ د کوترو یوه ډله (سېل) راغله او په یوې کروندې کې کښېناسته. هلته د غنمو دانې پرتې وې. یوې کوترې ولېدلې، ورروالوته، دانو ته کښېناسته او په ټولولو یې پیل وکړ. نورې کوترې هم ورپسې ورغلې او په دانو ټولولو لګیا شوې. کله چې په دانو مړې شوې، د الوتلو تکل یې وکړ. خو کوترې په دام کې نښتې وې، وانه الوتلای شوې. هرې یوې ټېوونه وهل چې ځان خلاص کړي، خو څه یې لاس ته رانغلل.

په دوی کې یوه هوښیاره کوتره وه، ویې ویل: ((هغه وخت چې موږ دا خوندورې دانې لېدلې وې، باید فکر مو کړی وای چې دا دانې چا او د څه لپاره اچولې دي. که مو فکر کړی وای په دې کړاو به اخته شوي نه وو. اوس هم باید یو فکر وکړو، کېدای شي ځانونه خلاص کړو. لږه دمه وکړئ، کله چې ما وویل نو ټولې په یو دم له ځایه پورته شئ.))

ښکاري چې لږ څه وړاندې ناست و، ویې لیدل چې کوترې په دام کې نښتې دي، ورمنډه یې کړه. په دې وخت کې هغې هوښیارې کوترې د پورته کېدو امر وکړ. ټولې یو دم له ځمکې پورته شوې. دام یې له ځان سره په هوا کړ او لاړې.
ښکاري چې دا حال ولید د کوترو په لور یې ورمنډه کړه. لږه شېبه وروسته یې کوترې له سترګو پنا شوې. د ښکاري تمه پرې شوه او ستړی ستومانه راستون شو.



وروستی لوست

تاسو ددې کال په بهیر کې څو لوستونه ولوستل، نن مو وروستی لوست دی. څو ورځې وروسته به مو تعلیمي کال پای ته ورسېږي. د تعلیمي کال په بهیر کې مو ډېر نوي څه زده کړل. اوس کولای شئ په پښتو ژبه خبرې وکړئ، کتابونه ولولئ، لیکل پرې وکړئ که همداسې دوام ورکړئ، په پای کې به د خپلې مورنۍ ژبې ترڅنګ د یوې بلې ژبې، پښتو ښه ویونکي او لوستونکي هم واوسئ.

ـ له مورنۍ ژبې پرته د بلې ژبې زده کړه څه ګټه لري؟

نن تاسو د یوولسم ټولګي د پښتو ژبې وروستی لوست لولئ. فکر وکړئ کله چې تاسو دا ټولګی نوی پیل کړ، په پښتو ژبه مو ماتې ګوډې خبرې کولې. اوس وګورئ په پښتو ژبه ښې، روانې او سمې خبرې کولای شئ. د نورو په خبرو پوهېږئ. نورو ته خپل ځان په سمه توګه ورپېژندلای شئ. د یو شمېر ټاکلو موضوعاتو په اړه خبرې کولای شئ، آن کولای شئ چې په یوه غونډه کې په پښتو ژبه خپله بیانیه او وینا وړاندې کړئ.

ګرانو زده کوونکو!

تاسو د یوولسم ټولګي د پښتو ژبې په مضمون کې یوازې په پښتو ژبه ګړېدل زده نه کړل، بلکې د پښتو ژبې او ادب (پښتو لرغوني ادب، کلاسیک ادب، معاصرادب، نثر ـ نظم) اړوند مو ډېر معلومات ترلاسه کړل. دا ټول ستاسو د یوکال د زیار او زحمت پایله ده.

تاسو په هر مضمون کې همداسې نوي شیان زده کړي دي. فکر وکړئ که یوکال نور په دولسم ټولګي کې او همداسې په پوهنتون کې هر کال نوي شیان او معلومات ترلاسه کړئ، نو په پای کې به مو څومره نوي شیان زده کړي وي. څومره به ښه وي چې له خپلو زده کړو څخه د خپلې اسلامي ټولنې په رغنده جوړښت، سوکالۍ، ارامۍ اوپرمختګ کې کار واخلئ.

وروستي لوست سره یو ځای د استاد ګل پاچا الفت د (دعا) تر سرلیک لاندې نثر هم ولولئ:

دعا

د ټول جهان واکداره! ته هر څه لرې او هر څه کولی شې د هر چا امید تا ته کېږي او هر څوک هر څه له تا غواړي. ستا خزانې او کارخانې ډکې دي، ستا په باغونو کې د شودو، شرابو او عسلو ویالې بهېږي.

ستا بخششونه او انعامونه بې پایانه دي، ستا د رحمت نور په ځمکو او اسمانو کې نه ځايېږي. فقیران او مسکینان درنه اشتها او د هضمولو قوت غواړي.

څوک درنه په زاریو او دعاګانو او لاډونه غواړي، ځینې وایي چې مال او دولت راکړه!

یو وایي جنت مې په کار دی، بل وایي له دوزخه امان او پناه غواړم.

څوک د حورو شو قمن دی او د چا غلمانو ته نیم زړه نشته.

مرتبې او لوړې درجې له تا سره دي، کامیابي او موفقیت ستا په توفیق حاصلېږي.

دین او دنیا ستا په لاس کې ده، راحت او زحمت، عزت او ذلت ستا له خوا انسان ته رسي.

بهار او خزان ته راولې، مرګ و ژوند ستا په اختیار کې دي.

هر څه ته کوې او هر څه له تاغوښتل کېږي.

د دې جهان او د هغه جهان اجرونه، خېرونه، خوندونه او خوشحالي خلکو ته، ته ورکوې.

زه پوهېږم چې تا سره هر څه شته.

زما دعا او د زاهدانو دعا

زما ارزو او د پادشاهانو ارزو یو راز نه ده.

زما سوال د بډایانو او مسکینانو له سوال ډېر فرق لري.

زه نه وایم چې ځمکې او پیسې راکړه.

نه غواړم چې عزت مې ډېر لوړ، رتبه مې لوړه شي.

موټران او اسونه مې نه دي په کار.

قصرونه او عمارتونه نوروته ورکړه!

پټي او باغونه هغه چاته وبښه چې په خاورو نه مړېږي.

په بانکونو کې د سوداګرو پیسې زیاتې کړه.
د بزرګۍ اعتبار مه راکوه! ځکه چې ستا په اطاعت او عبادت له خلکو نه اجر او عزت غوښتل راته ښه نه ښکاره کېږي.
زه له دې ټولونه تېر یم او نور څه غواړم.
هو! زه ستا له رضانه خلاف څه نه غواړم.
زه وایم په جهان کې د ظلم بېرغ نسکور کړه.
حق او عدالت ته قوت ورکړه!
په زړونو کې رحم او د خېر مینه واچوه!
په د ماغونو کې د حق نور او د حقیقت رڼا پیدا کړه!
ته کولی شې چې د ظلم قوت په ورو ورو کانو مېده مېده او ذرې ذرې کړې یا د هوا په ماشو ظالمان تباه کړې.
مګر موږ د اتوم په بمونو هم دا کار نشو کولی.

د متن لنډیز:
د کتاب وروستی لوست د تعلیمي کال د پای معنا لري. که د تعلیمي کال پای د هغه له پیل سره پرتله شي، نو سړی پوهېږي چې څومره نوي شیان یې زده کړي دي. همدا زده کړې د پوهې د لاس ته راوړلو لپاره لاره هواروي. په ښوونځیو او د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د زده کړې کچه له یو کاله تر بل کاله پورې فرق کوي. د هر تعلیمي کال په تېرېدو سره زده کوونکي نوې زده کړې کوي او نوي معلومات لاس ته راوړي. موږ له خپلو زده کړونه باید سمه ګټه واخلو او خپلې زده کړې د خپلې ټولنې په رغنده جوړښت کې وکاروو.

فعالیتونه

۱ـ څو زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او د دې تېر کال د زده کړو په اړه دې خبرې وکړي.

۲ـ دوه تنه زده کوونکي دې په وارسره د ټولګي مخې ته راشي په پښتو مضمون کې د لوستل شوو لوستونو سرليکونه دې ووايي.

۳ـ زده کوونکي دې په دوو کسيزو ډلو کې د ټولګي په وړاندې مرکې وکړي. هڅه دې وشي چې ټول زده کوونکي پکې برخه واخلي.

٤ـ زده کوونکي دې نثر په پټه خوله ولولي او مفهوم ته دې ځیر شي.

٥ـ څو تنه زده کوونکي دې نثر په پټه خوله ولولي او مفهوم دې نورو ته ووايي.

٦ـ زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د خپلو زده کړو راپور ترتیب او د ډلې مشر دې ووايي. خدای مو مل شه. د نوي تعلیمي کال د پیل په هیله.

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د تعليمي کال د پای ته رسېدو او د ازموينې د پيل کېدو په اړوند يو ليک خپلې کورنۍ ته وليکي او د بريالي پای په اړه دې ډاډ ورکړي.

خدای مو مل شه

د نوي تعليمي کال د پيل په هيله

ګرانو زده کوونکو،

تاسو د سږني تعليمي کال د پيل ورځې په ياد کړئ. وګورئ، هغه مهال څومره پوهېدئ او اوس څومره؟ ستاسو په سلوك او چلن کې څه او څومره بدلون راغلی. فکر او ذهن مو څومره بدل شوی دی؟ پوهه مو څومره زياته شوې؟ په ليکلو کې مو څومره ورتيا تر لاسه کړې؟ د موضوعګانو د تحليل او ارزونې ځواك مو څومره غښتلی شوی؟

که ددې ټولو په توپير وپوهېدئ، نو څرګنده ده چې زده کړه مو کړې ده او يو څه مو تر لاسه کړي دي. دلته ليکل شوي لوستونه په ناڅاپي او اتفاقي توګه نه دي راغلي. د هر يو لوست د ټاکلو په اړه ډېر سوچ شوی. د هرمتن د ليکلو په اړه ډېر فکر شوی، کوم مطالب په کومه ژبه له کوم پيغام سره وليکل شي او تاسو هغه ښنګه زده کړئ.
د کتاب ليکوالو هڅه کړې، تاسوته داسې ژبه وکاروي چې هم پرې خبرې کول زده کړئ او هم ترې يو څه پوهه او معلومات تر لاسه کړئ.

هيله ده دا هرڅه ستاسې پوهه، ستاسو ذهنيت او ستاسو ورتيا او ليد لوری لا پسې پراخه کړي او د خپل مسؤوليت پر درك او پېژندلو، د اسلامي ټولنې د يو سالم او رغنده غړي په توګه ځان، کورنی او هېواد ته د خدمت جوګه شئ.

فعاليت:

زده کوونکي دې د تعليمي کال د پای په ورځو کې يوه ورځ د خپل ټولګي دننه يوه منظمه غونډه جوړه کړي. بيا دې هر زده کوونکی د تېر تعليمي کال په اوږدو کې د خپلې پوهې په اړه مفصلې خبرې وکړي. د نيمګړتياوو په اړه دې سپارښتنې يا وړانديزونه له ډاره پرته په څرګنده ووايي. له ښوونځي، ښوونکي، درسي کتابونو او ددې کتابونو له ليکوالو څخه دې خپلې غوښتنې مطرح کړي. ټول زده کوونکي دې په دې فعاليت کې په متوازنه توګه برخه واخلي.

و من الله التوفيق

وییپانګه

((الف))

ابتذال: بې ارزښتي، ډېر تکراري، سولیدلې
اپریشن: عملیات
اتل: قهرمان، زړور، تکړه، غیرتمن
اتلولي: قهرماني
اثار: نښې، لیکنې، تالیفات
احسان: نېکي کول، چاته یو شی بخښل، د یوچا د بدی په وړاندې نېکي کول.
اخته: مبتلا، بوخت
اخوت: ورورې
ادب: د اخلاقي منل شوو اصولو په چوکاټ کې منل شوی چلند، د ژوند د سمو لارو چارو دود او فرهنګ پېژندنه
ارادت: له درناوی سره یو ځای مینه او علاقه غوښتنه، قصد
ارزښت: ارزش
ارکسترا: ډله ییزه موسیقي
ارواښاد: شاد روان
آزموینه: امتحان
استازی: نماینده
استعاره: د تشبه له مخې یو مجازي بیان، پټه او ناڅرګنده خبره، عاریتي معنا اخستنه
اشیا: شیان، څیزونه
اعتیاد: عادت کېدل
آغاز: پیل، شروع، د یوکار پیل
اغېز: تاثیر
اغېزناک: تاثیر لرونکی
افاده: بیان، مطلب، ښودل، ویل، څرګندول
افراط: ډېروالی، له اندازې زیات
امن: له ضرر نه خلاص، مصؤون
امید: هیله، ارزو
انجام: پای، آخر، د یو کار پای
انګر: حویلۍ
انځور: رسم، تصویر، عکس، څېره په رسامۍ ډول
اوډون: ترتیب، اوډل، ترتیبول
اوبدل: بافت، ګنډل، جوړول
اوونۍ: هفته (یوه اوونۍ اووه ورځې)
روږدی : معتاد، اموخته
اټکل: تخمین، ګومان
اړ: محتاج
اړباسل: احتیاجول، محتاج کول
اړتیا: احتیاج، ضرورتمند
اړخ: پهلو
اړین: ضروري، د اړتیا وړ، حتمي
ایکی: پیسه، د کابلۍ روپۍ شپېتمه برخه ارزښت یې درلود
ایلچي: قاصد، خبر رسان
ایله کېدل: خلاصېدل، خوشې کېدل
آیین: لار، مسلک، عقیده، دین، قانون

((ب))

باب: فصل، څپرکی (فصل وباب)
باور: اعتماد
بچ: خلاص، ساتل شوی (له بلابچ کېدل)
بخڅه: کڅوړه، خورجین
بدلون: تغییر، تحول
بدیع: نوی، تازه، ښکلی ادبي پوهه چې پکې د شعر او نثر د ښکلا په اړه بحث کېږي.

برید: حمله، حد، اندازه
برېښېده: معلومېده، څرګندېده
برېښېده: معلوم میشد
بشپړ: مکمل
بقا: پایښت
بل (اور):افروخته (آتش)
بلاغت: له وینا سره سم دوړ کلمو او جملو کارونه چې پوهې ته ډېر نژدې وي. لغوي معنا یې انتها اورسېدل دي.
بلیغ: ویناوال، د وینا کولو وړتیا لرونکی
بنسټ: بېخ، تهداب
بهیر: روند، جریان
بوخت: مشغول، مصروف
بوختیاوي: مصروفیتونه، مشغولیتونه
بوولله: قصیده
بوډا: پیر
بډای: پولدار، شتمن
بډای: شتمن
بډایي: شتمني
بڼه: څېره، نوع، صورت، شکل
بیاځلي: تکراري، دویم ځلي
بېلګه: مثال، نشانه، نمونه

((پ))

پالنه (پالل): روزل، پروراندن، عبادتکول
پام : توجه، هوش
پاروګر: دم ګر، مار، دمونکی او نیوونکی
پایله: نتیجه
پایمال: تر پښو لاندې کول، لګدمال
پایښت: پایېدونکی، بقا
پت: ناموس
پته: ادرس
پرانستل: افتتاح کول، کشودن، خلاصول
پرتله: مقایسه
پرته: بېله، بدون
پرېکړه: فېصله
پل: قدم، نقش پا، ګام
پلاټ: د کیسې یا ډرامې لومړی طرحه چې د لیکوال په ذهن کې رامنځته کېږي،
پلن: هموار، عرض دار
پلن: پیاده
پندونه: نصیحتونه
پنځ: طبیعت
پنځېدل : زېږېدل
پنډ: بار
په ګوته کول: نشان دادن
په څېر: په شان، په مثل (د تشبیه ادات دي)
پور: قرض، دین
پوړکی: قشر
پوړی: درجه، پته پایه زینه
پېر: پلا، وار، دوران
پړاو: مرحله
پړه: ملامتی
پړی: رسی، ریسمان
پېړي: جسد
پیاوړتیا: غښتلتیا، قوت، ځواک
پېژندپاڼه: کارت هویت، تذکره
پیل: شروع، اغاز
پیلامه: شروع، پیل، لومړی برخه
پییل: جیل کول، امیل کول

((ت))

تاړاک: چوروچپاول، برید
تبرک: برکت، درناوی، احترام

تحقیق: تتبع، څېړنه، ریسرچ
تحقیقي: څېړنیز
تخلیق: خلق کول، ایجادول، ایجاد، منځته راوړل
تخیل: خیال او تصور، په ذهن کې د یو څیز انځور
ترار: پرېشان
ترهور: د (ت) په زور وارخطا، سراسیمه
ترور: خاله، عمه
تریو: ترش
تشبیه: یو شی د بل په شان کول، ورته
تقوا: ډار، له گناه ځان ساتل، پرهېزگاري
تگلاره: طرزالعمل، پالیسي
تلپاتې: تل ژوندی، همېشنی، مدام
تم: ځنډ، درېدل
تمه (طمع): هیله، امېد، ارزو
تندی: پیشانی
تنوع: رقم، قسم، نوع، مختلف
التهاب: پړسوب
توانمند: قوي، ځواکمند، توانا
توپیر: فرق
توحید: یووالی، وحدانیت
توکی: ماده، شی، جزء، برخه، عنصر
تړاو: اړیکې (تړښت)، رابطه

((ټ))

ټینگار: تاکید، ټینگېدل، اصرار
ټولنیز: اجتماعي
ټولگیوال: هم صنفیان
ټولگه: مجموعه
ټولگې: مجموعې
ټاکلی: غوره شوی، تعین شوی، معلوم شوی

ټاټوبی: هېواد، د اوسېدو ځای
ټوکېدل: زرغونېدل
ټپ: زخم
ټپي: زخم
ټیټ: لاندې، پایین
ټکنی: ترسیده

((ج))

جوت: څرگند، ښکاره، معلوم
جوتېږي: معلومېږي
جوړښت: ساختمان، ترکیب
جلا: بېل، جدا
جوسه: شکل، قواره
جور: ظلم، زیاتي
جمال: ښایست، ښکلا
جوهر: د یو چا او یا یو شي ذاتي خصوصیت او ځانگړتیا چې هغه تر نورو بېلوي، د شي اصلي ماده
جلاوطن: له هېواد، شخه لرې کېدل
جاویدان: همیشنی، تلپاتې
جوگه: سیال، وړ، اماده، لایق، موزون
جگړه: جنگ
جهت: لوری، طرف، خوا
جلاد: مامور کشتن، سنگدل
جونگی: چوچهٔ شتر

((چ))

چټلي: کثافات، مرداري
چټل: کثیف، ناپاک
چلند: چلن، خوی، سلوک، کړه وړه، تگ راتگ
چپاو: یرغل، حمله
چور: تالا، غل

چاپېریال: محیط
چار: کار
چارواکی: د واک او صلاحیت خاوند د چارو واکمن، مامور، د منصب څښتن
چمتو: اماده، برابر
چمتوالی: امادګي

((څ))

څوروالی: ښکته والی، ټیټوالی
څیل: نوع، قسم
څیلونه: انواع، قسمونه
څیرکتل: په غور کتل، دقت کول، عمیق نظر
څواک: قوت، زور
څواکمن: قوي، د زور او قوت خاوند
ځانګړنه/ځانګړتیا: خصوصیت، خاص والی، یو شی چي له بل شي څخه بېل وي
ځلاند: روښان

((ح))

حاجت: ضرورت، اړتیا
حال: باطن
حد: اندازه
حریت: ازادي
حساس: ارزښت لرونکی، د پام وړ، د چټک او ډېر ژر موندلو ځواك هغه څوك چي ډېر ژر خپه کېږي.
حسرت: افسوس، ارمان
حصار: قلعه، دېوال
حمد: د خدای ﷻ ستاینه
حیثیت: ټولنیز ارزښت او اعتبار چي د یو چا د سر لوړی او نېکنامی لامل کېږي، درنښت

((خ))

خاپوړي: چارغاوك
خام: اوم، اومه، هغه څیز چي پوخ نه وي، نارسیده
خامخا: هرو مرو
خاوند: صاحب
خبریال: د تازه خبرونو ټولوونکی او لیکونکی
خبرې اترې: محاوره، ګفتګو
خشمېدل: قهرېدل، غوسه کېدل
خصوصیت: ځانګړنه، خاص والی
خط: لیک
خطاء: ګناه، وبال
خمبر صندل: د قندهار په لهجه یو قسم شېریني ده
خواجه: خاوند، بادار
خواخوږي: همدردي، دلسوزي، غمشریکي
خوار: عاجز، کم بخت
خوسا: یو شی چي ډېر پاتې شوی او ځنډنی شوی وي (بوی یې کړی وي) (وروست)، ګنده، بدبو
خوله خوځول: اعتراف کردن
خوله واچوله: دهن انداخت
خوندي: محفوظ، ساتل شوی
خوځښت: حرکت، نهضت، غورځنګ
خوږ: شېرین
خوږ: درد
خیر: ښېګڼه
خړوب، خړوبول: موړ، سېراب، پېول، اوبونه، اوبه کول
خیال: چرت
خیریه: خیر رسوونکی

((ښ))

څاڅکی: قطره
څاڅکي څاڅکي: قطره، قطره
څنګ: اړخ، پهلو، لوری
څېرمه: څنګ ته، خواته، اړخ ته، نږدې
څانښت: ټکنی غرمه، کچه غرمه
څارنه: تر سترګو لاندې ساتل، مراقبت
څومره والی: کمیت، اندازه
څرنګوالی: کیفیت
څېړنې: تحقیقات
څېړنیز: تحقیقي
څښتن: خاوند، صاحب
څېر: ورته، غوندې، ډول

((د))

دام: د الوتونکو د نیولو وسیله، چل وفریب
دامګاه: لومه ځای
دایرة المعارف: د علم، ادب، هنر، ورزش او هغوی ته ورته د نورو شیانو په اړه د بشپړو معلوماتو کتاب چې معمولاً د الفبې په سیستم پیلېږي (انسایکلو پیډیا)
درسته: ټوله
درمل: دارو
درملتون: د دوا د خرڅولو ځای
درناوی: درنښت، قدر، عزت
درنوي، درنول: قدر و عزت
دریځ: مقام، منبر، موقف
دریځ: مقام، ته د درېدو ځای، منبر، موقف
دقت: ځیرنه، پاملرنه، توجه
دنده: وظیفه
دود: رواج
دود و دستور: رسم و رواج
دودیز: رواجي
دور: زمانه، دوران

((ذ))

ذات: اصل، ماهیت، وجود
ذاتي: اصلي، خپل، شخصي
ذلیل: خوارو زار، ډېر ضعیفه
ذهنیت: د تفکر، لید یا قضاوت یو ډول
ذوق: خوښه، شوق، طبع

((ر))

راز: پټه خبره، سر
راشه درشه: تګ راتګ
راضي: خوښ
ربړه: ستونزه
رجوع: ورګرځېدل
رحمت: زړه سوی او مهرباني
رختونه: لباس، جامې
رزمي: جنګي، حربي
رغاونه: جوړونه، ابادونه
رعیت: د یوې خاورې ټول وګړي چې د یو حکومت تابع وي
رغنده: سم، روغ
رکن: جز
روزل: تربیه کول، پالل
روغ: جوړ، صحت
روغبړ: احوال پرسي
روغتون: شفاخانه
روغتیا: تندرستي
رومان: خیال، نثري داستان چې پېښو یې د انسان له ژوند څخه سرچینه اخستې وي
روتې: ډوډۍ، مړۍ
روښان: روښن
روښانول: روښن کردن

روښانیان: د روښان مریدان او پیروان
رټلی: شړلی، تهدید شوی
رښتنولي: راستکاري، صداقت
رښتینولی: صداقت
رښتیني: واقعي
رېبي، رېبل: لوکول، غوڅول، پرې کول، دروکردن

((ز))

ز ړور: د لاور
زارېدل: قربانېدل
زانګو: ګهواره
ځپل: اذیت کول
زده کړه: تعلیم، اموزش
زغمل: تحمل کول
زلال: صاف او شفاف، رڼې، پاکې او خوږې اوبه
زوال: له برمه لوېدل یا غورځېدل
زوکړه: پیدایش، تولد، زېږېدنه
زوږ: شور، غالمغال
زړه بدی: خپګان
زړه سوی: دلسوزي، ترحم
زړې جامې: لباس کهنه
زړښت: پیري
زیاتره: اکثره، زیاده
زیار: کوښښ، هڅه، زحمت
زیارکښ: زحمت کش
زیانمن: تاواني
زېرمه: سیما، پاسره، ساتل شوی
زېرمې: ذخیرې
زیور: ګاڼه

((ژ))

ژانر: ژانر فرانسوي کلمه ده د ادبي او هنري اثرونو ځانګړې بڼه
ژباړل: ترجمه کول
ژباړه: ترجمه
ژغورل: نجات دادن
ژغورل: ساتل
ژمنه: وعده
ژمنه: وعده
ژوبله: جنګ جګړه، زخم، ټپ
ژوندود : کلتور، دود او دستور
ژوي: ساکښ، ذیروح

((س))

ساوتیګا: خسته
ساری: همتا، مانند، مثال
سالو وږمه: نسیم ریګستان (د پښتو نثر لومړنی اثر دی چې په لاس کې نشته)
سپارښتنه: سفارش، تاکید او ټینګار
سپړل: په دقت سره جدا کول، مجزا ساختن
سپېڅلی: پاک
ستاینه: صفت، ستایش
ستایل: صفت کول
ستاینه: صفت
ستره: لویه، غټه
ستونزه: ربړه، مشکل
سجع: په نثر کې هم آهنګی
سر لیک: عنوان
سر ښوونکی: سرمعلم
سکون: ارام درېدنه، چوپتیا
سلسله: لړۍ
سمبال: بسیج، په هرشي پوره
سمه، سما: سم، اصلاح، درست

سنتي: له پخوا څخه دود شوی، پخوانی ریښه لري.
سوکالي: ارامي
ستېه: بېخ، تهداب
سیال، ساری: مانند، مثل، ورته سړی، رقیب
سیالي: لوبه، مسابقه
سېلاني: ګرځندوی، سیاح، سیل کوونکی

((ښ))

ښکلاوې: زیبایي، ښایستونه
ښوونکی: معلم، استاد، اموزګار
ښکلا: حسن
ښکلی: حسین، خوبصورت
ښوونځی: مکتب
ښوونه او روزنه: تعلیم، و تربیه
ښه راغلی: پذیرایي
ښېګڼه: احسان، نیکي، خوبي
ښکېل: نښتی
ښکېلېدل: نښتل
ښندي: قربانوي
ښادي: خوشحالي
ښادي: خوشحالي

((ش))

شان: طور، مانند
شاوخوا: ګرداګرد
شتمن: بډای، د مال او شتو خاوند
شتمني: ثروت، دارایي، مال و دولت
شخړه: جنجال، کشاله
شریعت: طریقه، لار
شفاهي: په خوله ویل، د خولې په یادو، د خولې خبرې
شفقت: مهرباني، زړه سوی
شکرې: خواږه شیان، بوره
شهامت: زړورتیا
شهکار: ډېر ښه، لوړ او عالي
شونتیا: امکان
شونډه، شونډې: لب، لبان
شونی: کېدونی، کېدونکی
شېبه: لحظه، دم

((ص))

صادق: لوړ، رښتونی
صداقت: رښتونولي
صدری: واسکټ (په قندهار کې واسکټ ته صدری وایي)
صراحت: څرګندتیا
صرف: یوازې، تش
صرفه: سیما و ګټه
صنعت: جوړېدل، سازېدل، جوړشوي شیان
صنم: بت، د معشوق په معنا هم کارول شوی.
صورت: پیکر و نقش
صوفي: پاک نفس، د تصوف د طریقت پیرو

((ط))

طریقت: لاره، د نفس د تزکیې له لارې د حقیقت د ترلاسه کولو سلوک، مسلک
طنز: په شعر یا نثر د ادبي بیان لارچې پکې فردي او ټولنیز عیبونه او نیمګړتیاوې په خندوونکي ډول برسېره کېږي موخه یې دبشري چلن سمول دي.

((ظ))

ظلمت: تیاره

((ع))

عابد : پرهېزګار، متقي، تقوا دار

عارض: عرض کوونکی، شکایت کوونکی

عارضي: غیر اساسي، فرعي

عارف: د خدایﷻ پېژندونکی، پوه، هوښیار

عاصي: گنهگار

عاطفه: زړه سوی

عاقبت: پای، اخر

عالي: لوړ، شریف، محترم

عدل و داد: عدل و سخاوت

عرف: رسم و رواج، عنعنه

عرفان: پوهه

عواطف: احساسات، جذبې، ولولې

((غ))

غبرگ: ور تاوول

غبرگون: ځواب، عکس العمل، غبرگ ورتاوول

غچ: انتقام

غرور: لويي

غلیمان: دښمنان

غندنه: بد ويل، غندل

غور: تاکید، دقت

غورځنگ: نهضت، حرکت

غوسه: قهر

غړمبېده: عر عر میکرد، غر زدن

غیرواجب: غیر لازم

((ف))

فراق: جدايي

فصاحت: د وینا رواني او څرگندتیا

فضل: په پوهې، اخلاقو او هنرکې غوره والی، لطف، پام

فطرت: ذاتي ځانگړتیاوې، پیدایښت

فقیر: بېوزلی، سالک

فلك: اسمان

فورم: شکل

فرهنگ: د دود او دستور فکر او د ژوند د لارې پېچلې ټولگه (مجموعه) چې د ولسونو په تاریخي بهیر کې تجربه شوې او نورو نسلونو ته د لېږدېدنې وړوی.

((ق))

قابل: منونکی

قاتل: وژونکی

قاچاق: د یو شي ناقانونه وړل

قاصر: قصوره، لټي، نیمگړتیا، عیب

قالب: چوکاټ

قاموس: سیند (د یوې ژبې د لغاتو کتاب)

قانون: لاره

قد: ونه

قدر: قدر، پت

قدرت: وس، واک

قدیم: پخوانی

قصاص: هم مثله سزا ورکول

قوم: ټبر

قوي: زورور

قیامت: محشر، وروستی، له مړینې وروسته د راپورته کېدو ورځ.

قیمت: بیه

((ك))

کابینه: کابینه (د وزیرانو شورا)

کار: چار

کارنامې: لوړ کارونه، مهم کارونه

کارول: استعمالول

کاشکې: ارمان، افسوس

کاکا: تره (د پلار ورور)

کامل: بشپړ

کانون: ټولنه

کبرجن: متکبر، مغرور

کتابتون: کتابخانه

کچه: اندازه

کرکتر: هغه شخص یا لوبغاړی چې د کیسې لیکوال یې د پېښو د بهیر پرمخ بیولو لپاره ټاکي

کرکه: نفرت، لرې والی

کرم: ورکړه، بخښنه

کره: پوره، خالص، صاف

کره کتنه: نقد، انتقاد

کرهنه: زراعت

کروړ: محکم

کشف: لوڅونه

کلام: خبره

کله: څه وخت

کلیوالي: دهاتی

کلی: قریه، ده

کلیات: مجموعه، د یوشاعر یا لیکوال د لیکنو مجموعه

کلیوال: دهاتي

کمېډي: د ډرامې یوه برخه ده (خندني)

کنایه: پېچومی، زونګه، پټه خبره چې د ټاکلې او خاصې معنا لپاره کارول کېږي

کنډه: تله، ترازو، ترازو خورد

کنډواله/کنډوالي: ویرانه، خرابه

کوثر: د جنت یوه چینه

کوچنی: (طفل) خورد

کورنی: خاندان اهل بیت، فامیل

کوشېر: پتری، پېوند

کومیکه: خندني

کټ مټ: عیناً

کڅوړه: خریطه

کړنلاره: پروګرام، دستورالعمل، خط مشې

کړنه: عمل، کردار

کږلېچونه: کج ګردېشي، ګولایي، پېچومي

کښل: کشیدن، خارج کردن، نوشتن، نقاشي کردن

ګالل: برداشت کردن، تحمل کردن، زغمل، کښل.

((ګ))

ګام: قدم، مسافه بین دو قدم

ګانده: آینده

ګاونډ: د کور او کلي شاوخوا

ګاونډی: همسایه، همجوار

ګاڼه: پسول، زیور

ګدا: فقیر

ګران: مشکل، قیمتدار

ګرانښت: عزیز بودن، قیمتي، اشکال

ګرداب: ګرداو

ګروپ: ډله

ګرځندوی: سیاح، سیار

ګهیځ: صبح، سحر

ګواښ: اخطار، تهدید/ جداکردن از جنګ

ګور: مړستون، قبر

ګوګل: صندوق سینه

ګومارل: تعیین کردن

ګوند: حزب، جنبه، ډله

ګوندي: شاید، به احتمال

ګوهر: مرغلره

ګټور: ارزښمن، مفيد، فايده مند
ګډ: شريک
ګډون: اشتراک
ګډوډ: بې ترتيب و بې نظم
ګڼ: ډېر، زيات، انبوه، غلو
ګڼل: شمردن، قياس کردن يا پنداشتن
ګڼه: شماره
ګڼه ګوڼه: انبوه، خلق، ازدحام
ګېډه: شکم

((ل))

لارښود: رهنما
لارې چارې: د کارونو د سرته رسولو طريقه او وسيله
لاس اچول: دست انداختن
لاس کښلې نسخه: خطي نسخه
لاسوندی: سند، ثبوت
لامل: علت، سبب
لرغونی: پخوانی
لګول: لګښت، مصرفول، مصرف
لمسون: تحريک، پارونه، تحريکول
لنډيز: اختصار، لنډون
لوری: طرف، خوا
لوست: درس
لوستی: د زده کړې خاوند
لونل: پاشل
لوړ: جګ
لخ: برهنه
لړ: سلسله
لړ: جريان
لړليک: فهرست
ليکدود: د ليکلو طرز يا طريقه
ليکنې: نوشتې، آثار
ليکه: کرښه، قطار، لين
لېوالتيا: ډېره مينه او علاقه
لېږد: انتقالول

((م))

مبالغه: له اندازې او حد زيات
مترادف: يوشان، هم معنا لغات چې شکل مختلف او معنا يې يوه وي
مجاز: د (م) په پېښ، روا، جايز
مجاز: د (م) په زور له خپلې معنا پرته يوه کلمه په بله معنا کارول
مخکښ: پيشرو
مخکې: پيش، سابق، قبل
مخه کړه: روی آورد
مخه ښه: وداع، خدا حافظي
مخينه: سابقه
مرسته: تعاون، امداد، کومک
مرستيال: معاون
مرکه: مجلس، مذاکره
موسکا: خندا، تبسم
مشران: کلان سالان، بزرګان، مو سفيدان
مشرتابه: مشرتوب
مشغول: بوخت، مصروف
معاصر: اوسنی، هم عصر، اوسمهال
معتاد: روږدی، عملي، په نشه اخته
معمار: جوړوونکی
مل: ملګری، همراه
مُناجات: د ميم په پېښ، دعاء التجا، هغه بيان چې خدای ته پکې زاری شوې وي
منت: احسان
منګ: مقدار و اندازه در عمر و جنس

منګول: پنجهٔ دست
منه: شکریه، تشکر
منځنی: متوسط، د منځ
مهاجم: حمله کوونکی، تېری کوونکی
مهال: وخت
مهجور مهاجرت: پردېس، پردېستوب
موخه: هدف، نشانه
مورني: مادري
موټان: بازو، قوت
مور: سیر، دولتمند
مراوي: پژمرده
مېل: مرورل، مبتل
مېړانه: غېرت، شجاعت، بهادري
مېړانه: مردانه ګی

((ن))

ناتار: تاراج، ستم
ناخوالې: ناسزا، نامناسب
ناروغ: بیمار، مریض، ناجوړ
نارینه: مرد، مذکر، شجاع، دلاور، سخي
ناسوب: غیرحاضر
ناشونی: نه کېدونکی، امکان نه لرل، ناممکن
ناورین: خپګان، غم، مصیبت
ناوړه: نا مناسب
ناڅاپه: ناګهان
ناڅاپه: ناګاه، دفعتاً
نتلی: خوار، ځپلی، زار و زبون
ندرت: کله ناکله، نادر، کم یافت
نرمي: ملایم
نغښتل: را ټول، سره یو ځای کول، پیچاندن
نغښتی: پیچلی
نمانځل: پرستش وستایش، اعزاز و تقدیر

نمو: وده، لوېدنه
ننګ: غیرت، حمایت
ننګه: حمایت، غیرت
ننګیالی: باغیرت، بلند همت
نهضت: خوځښت، غورځنګ، تحریک
نهیلی: ناامید
نهیلي: نا امید، مایوس، ناهیلي
نور: دیګر، اضافه (اوداسې نور)
نوم: نام، اسم
نومورکی: ګمنام
نوموړی: نامبرده، مذکور
نومیالی: مشهور، نامور، نامدار
نومېدل: مسما شدن، نامیده شدن
نړېدل: ویران شدن، تخریب شدن
نړیوال: جهاني، بین المللي
نړۍ: دنیا، جهان
نږدې: قریب، نزدیک
نیاز: اړتیا، حاجت، ضرورت، عذر، زاری
نیالګی: نهال
نیکمرغه: نېک بخت، خوشبخت
نیمګړتیا: نقص وناتمامي
نیمګړی: ناقص، ناکاره
نیوکه: انتقاد، نیوالی
نیول: ګرفتن
نېټه: تاریخ، وخت

((و))

وار: نوبت، دفعه
واک: اختیار، قدرت، طاقت
واړه: کوچنیان
واکمن: اختیار دار، بادشاه، صاحب
واکمني: پاچاهي، حاکمي، امارت

واړه : ټول، تماماً، همه، کل
وچکالي: خشکسالی
ودان: اباد، معمور
ودانول: اباد کردن، جوړول
وده: نشو نما، ډېرښت، زیاتوالی
وراره: د ورور زوی، برادر زاده
وراره: ورور مړي
ورانول، ورانی: خراب کردن، خرابي، ویران کردن
ورته: مشابه، برایش
ورته کول: مشابه کول، تشبیه کول
ورغوی په غاښ پرېکول: تاثر او تاسف کول (کنایه ده)
ورکړه: بخشش دادن، سخا
ورمونه: نصیحتونه، پندونه
وروزي، روزل: تربیه کند
وروستنی: اخرین، عقب
ورځپاڼه: روزنامه
وصال: یو ځای والی
وصف: صفت، خصوصیت
وګړي: خلق
ولوله: جذبه، احساس
وموسکېد ، موسکا: خنده بر لب، تبسم
ونډه: برخه، حصه
وینه: خون
وړ: لایق
وړ: لایق، مناسب
وړتیا: مهارت
وړیا: مفت و رایګان
ویاند: نطاق
ویاړنه: افتخار

ويني: ګوري، دیدن، می بیند
وینې: خون

((هـ))

هرو مرو: حتماً
همدارنګه: همین قسم
همځولی: همسال، همسن
هنداره: آیینه
هوساینه: ارامي، سلامتي
هوډ: عزم، اراده
هیښ: حیران
هټیوال: دکاندار
هټی: دوکان
هڅه: کوښښ، طلب، تلاش، جستجو
هیله: امید، ارزو، تمنا
هېواد: وطن، مملکت
هیښ: حېران، متعجب

((ي))

یتیم: پلار مړی، یتیم
یرغل: حمله، هجوم ناګهاني
یوازي : تنها، مجرد، یکه
یون: خوځښت، حرکت، رفتار، خوی، عادت
یووالی: اتفاق، یګانه ګي، یکي بودن

اخځليکونه

۱_ الفت گل پاچا، ليکوالي (املاء انشا) کابل: پښتو ټولنه، (۱۳۳۹) لمريز
۲_ الفت گل پاچا، د الفت نثري کليات، د محمد اسهيل يون په زيار، الفت اکادمي، دانش خپرنځی، (۱۳۷۸) لمريز
۳_ الفت گل پاچا، د الفت مرغلرې، د شهرت ننگيال په زيار، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۷۵) لمريز
٤_ بېنوا عبدالرؤوف، ادبي فنون، کابل: پښتو ټولنه، (۱۳۲٦) لمريز
۵_ بابا عبدالرحمٰن، د رحمان بابا کليات، حنيف خليل، دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۸٤) لمريز
٦_ پښتو _ پښتو تشريحي قاموس (په څلورو ټوکونوکې) افغانستان، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز، مېډيوتيک، (۱۳۸۳) لمريز
۷_ پښتو- دري لنډ قاموس، مهتممه: ظاهره هنگامه خروټې، د افغانستان د علوم‌واکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، ازادی مطبعه، (۱۳۸٤) لمريز
۸_ فرهنگ مختصر دري _ پښتو، مهتمم: محمد متين مونس، اکاډمي علوم افغانستان، (۱۳۲٤هـ.ش.)
۹_ حبيبي عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک، کابل: پښتو ټولنه، (۱۳٤۲هـ.ش.)
۱۰_ خادم قيام الدين، بايزيد روښان،
۱۱_ خټک عبدالقادرخان، گلدسته، د سيد محی الدين هاشمی په زيار، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړيوال مرکز، (۱۳۸۳) لمريز
۱۲_ روښان ياد، د بايزيد روښان د نړيوال سيمينار د مقالو مجموعه، د حبيب الله رفيع په زيار او اهتمام، پښتو ټولنه، (۱۳۵۵) لمريز
۱۳_ رښتين صديق الله، ژبښودنه، کابل: پښتو ټولنه، (۱۳٤۳هـ.ش.)
۱٤_ رفيع حبيب الله، ليکونه سرليکونه، لاهور: امان کتاب خپرولو مؤسسه، (۱۳۷۷هـ.ش.)
۱۵_ روهي محمد صديق، د ښېرنې لاربښود، کابل: پښتو ټولنه، (۱۳٤۳هـ.ش.)
۱٦_ رضا محمد افضل او عبدالکافي اديب، د پښتو ژبې او ادب تاريخ، پېښور: تاج کتب خانه، محله جنگي
۱۷_ رضا محمد افضل، د پښتو د نثر تاريخ، يونيورسټي بک ايجنسي، پېښور، خيبر بازار، (۱۹٦۸) ميلادي.
۱۸_ زاهد مشوانی عبدالقيوم، پښتو سيند، دانش خپرندويه ټولنه.
۱۹_ زيور زيورالدين، د پښتو ادبياتو تاريخ، د ساپي پښتو خپرونو مرکز، (۱۳۸٦) لمريز کال
۲۰_ سنگروال نيازی شهسوار، د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ، لرغوني ادبي دورې ته يو ځغلنده نظر، د منځنۍ ادبي دورې يو لنډ جاج، احمدشاه ابدالي پوهنتون، پېښور دانش کتابخانه، (۱۳۷۵) لمريز کال
۲۱_ شېرزاد محمدآقا، ادبي فنون (بديع _ بيان)، ښوونې او روزنې پوهنتون، (۱۳۸٤) لمريز کال
۲۲_ کاکړ شمس الدين، د شمس الدين کاکړ ديوان، دويم چاپ، کابل: پښتو ټولنه، (۱۳۸۵) لمريز
۲۳_ منگل علي محمد، د فاضل استاد اکاډمېسن پوهاند عبدالشکور رشاد ياد، کابل: نعماني مطبعه، (۱۳۸۳ هـ.ش.)
۲٤_ مصايب الدخان (د تمباکو زيانونه) مؤلف سيدعبدالغفار الهاشمي الافغاني، مترجم عبدالله بختانی خدمتگار (۱۳۸۸) کال د غبرگولي لسمه